# د افغانستان لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتیژي

## د راتلونکي بشري ځواک اړتیاوې








۲۰۱۳ - ۲۰۱۸ (۱۳۹۲ - ۱۳۹۷)

# د افغانستان لپاره د تخنيكي او مسلكي زده كړو او روزنو ملي ستراتيژي

## ۲۰۱۳- ۲۰۱۸ (۱۳۹۲- ۱۳۹۷)

## د راتلونكي بشري ځواك اړتياوې

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پیل خبرې

تخنیکي او مسلکي زده کړې (TVET) یوه داسې وسیله ده، چې په مرسته یې کولی شو پخپله تصمیم ونیسو چې څه شیان راټول کړو او هم کولی شو دا پرېکړه وکړو، چې څه شیان استخراج کړو، له څه شي څخه په کومو موخو کار واخلو. علم او زده کړه پای نه لري. بلکې دا په هېواد کې د دوامدارې پراختیا، سولې او ټیکاو لپاره مهم اساس ګڼل کېږي او د یوویشتمې پېړۍ په ټولنو او اقتصادي چارو کې د اغېزناک ګډون لپاره یواځینی او حتمي لاره ده.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرام د پیاوړتیا لپاره ګټوره او اغېزمنه وسیله ده، چې ځوانان او لویان یو شان د دې وړ ګرځوي، چې د بېوزلۍ له منګلو ووځي او د خپلې ټولنې په اقتصادي او ټولنیزې پراختیا او هوساینه کې مرسته وکړي. زده کړه په تېره بیا تخنیکي او مسلکي روزنې د بېوزلۍ د کچې د راټیټولو او د افغانستان د اقتصادي پراختیا لپاره مهمه تګلاره ده.

نړیوالو تجربو دا ښودلې ده، چې یوازې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې د وزګارۍ او اقتصادي کمزورتیا اړوند ستونزې نه شي هوارولی. د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرام باید د کار بازار د قابلیتونو او د مهارتونو غوښتنو ته ځواب ووایي او یو داسې مناسب، خوځنده او د استفادې وړ کاري ځواک رامنځ ته کړي، چې اقتصادي وده او پرمختګ په حرکت راولي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ملي ستراتیژي د زده کړې او روزنې ټول هغه پروګرامونه تر پوښښ لاندې راولي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او د وړتیاوو د ودې تر چتر لاندې فعالیت کوي. دغه ستراتیژي یوه عمومي طرح وړاندې کوي، چې له مخې یې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرامونه په ټول هېواد کې اجرا کېږي. دغه ستراتیژي په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرام لپاره داسې ملي چوکاټ جوړوي ترڅو پالیسي جوړوونکو، ملکي کارکوونکو، د پروګرام پلي کوونکو، تسهیل کوونکو، ښوونکو، منیجرانو، مدیرانو او نورو هغو همکارو ډلو ته چې د افغانستان په ټولنیزه او اقتصادي پراختیا کې ونډه لري، لارښوونه وکړي.

دغه ستراتیژی د پوهنې وزارت، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت او یونسکو لخوا د بشري ځواک د پراختیا بورډ د تخنیکي او مسلکي زده کړې د کاري ډلې په نږدې همکارۍ جوړه شوې. د یادونې ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ډله کې د لوړو زده کړو وزارت، د ښځو چارو وزرات، پراختیایي همکارو ادارو، مدني ټولنې او خصوصي سکتور شامل دي. د ستراتېژۍ د جوړولو پروسه تر ډېره اشتراکي بڼه درلوده، چې موږ له ټولو هغو ادارو او اشخاصو څخه د زړه له کومې مننه کوو، چې ددې ستراتېژۍ په جوړولو کې فعاله ونډه اخیستې ده.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ملي ستراتیژي هغه لارښود سند دی، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړې د سیستم څلور مهم ارکان چې له مدیریت، لاس رسی، کیفیت او مالي امکاناتو څخه عبارت دي، پیاوړي کوي او موخه یې په افغانستان کې د باکیفیته تخنیکي او مسلکي زده کړو منظم او مؤثر وړاندې کول دي.

فاروق وردګ

د پوهنې وزارت

آمنه افضلي

د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزیر

## سريـــزه

د افغانستان لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتيژي (NTVETS) ۲۰۱۸-۲۰۱۳، ″ په راتلونکي کې د بشري ځواک لپاره اړتياوې″، د غوره راتلونکي او د ټولو افغانانو لپاره د ښو شرايطو د رامنځته کولو لپاره لار هواروي.

تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې (TVET) يوه داسې وسيله ده، چې په مرسته يې کولی شو پخپله تصميم ونيسو چې څه شی د ځان لپاره برابر کړو او هم کولی شو دا پرېکړه وکړو، چې څه شيان استخراج کړو، له څه شي څخه په کومو موخو کار واخلو. علم او زده کړه پای نه لري. بلکې دا په هېواد کې د دوامدارې پراختيا، سولې او ټيکاو لپاره مهم اساس ګڼل کېږي او د يوويشتمې پيړۍ په ټولنو او اقتصادي چارو کې د اغېزناک ګډون لپاره يواځينی او حتمي لاره ده.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرام د پياوړتيا لپاره ګټوره او اغېزمنه وسيله ده، چې ځوانان او لويان يو شان د دې وړ ګرځوي، چې د بېوزلی له منګلو ووځي او د خپلې ټولنې په اقتصادي او ټولنيزې پراختيا او هوساينه کې مرسته وکړي. زده کړه په تېره بيا تخنيکي او مسلکی روزنې د بېوزلی د کچې د راټيټولو او د افغانستان د اقتصادي پراختيا لپاره مهمه تګلاره ده.

نړيوالو تجربو دا ښودلې ده، چې يوازې تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د بې روزګارۍ او اقتصادي کمزورتيا اړوند ستونزې نه شي هوارولی. د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرام بايد د کار بازار د اړتياوو سره سم د قابليتونو او د مهارتونو غوښتنو ته ځواب ووايي او يو داسې مناسب، هڅېدلی ، تکړه او د استفادې وړ کاري ځواک رامنځ ته کړي، چې اقتصادي وده او پرمختګ په حرکت راولي.

د تخنيکي او مسلکی زده کړو او روزنو ملي ستراتيژي د زده کړې او روزنې ټول هغه پروګرامونه تر پوښښ لاندې راولي، چې د تخنيکي او مسلکی زده کړو او روزنو او د مهارتونو د پراختيا تر چتر لاندې فعاليت کوي. دغه ستراتيژي يوه عمومي طرح وړاندې کوي، چې له مخې يې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونه په ټول هېواد کې پلي کېږي. دغه ستراتيژي په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرام لپاره داسې ملي چوکاټ جوړوي ترڅو پاليسی جوړوونکو، ملکي کارکوونکو، د پروګرام پلي کوونکو، تسهيل کوونکو، ښوونکو، منيجرانو، مدېرانو او نورو هغو همکارو ډلو ته چې د افغانستان په ټولنيزه او اقتصادي پراختيا کې ونډه لري، لارښوونه وکړي.

ددې ستراتيژۍ موخه دا ده، چې د مسلکي او تخنيکی زده کړو او روزنو د ډګر د ټولو ذيدخله مراجعو تر منځ لکه دولتي سکتور (د لوړو زده کړو وزارت، د پوهنې وزارت، د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت، د ښځو د چارو وزارت او نور اړوند وزارتونو لکه د کليو د پراختيا او بيارغونې، د کانونو، کرنې، روغتيا، سوداګرې، ټرانسپورت، مخابراتو او داسې نور وزارتونو)، غير انتفاعي سکتور (غيردولتي ادارو او د ټولنې پر بنسټ د مسلکې او تخنيکی زده کړو او روزنو عرضه کوونکې مؤسسې)، او خصوصي سکتور (د فني او حرفوي زده کړو او روزنو د عرضه کولو خصوصي مؤسسې، خصوصي او عامه مشارکتونه ، د سوداګرۍ ټولنې او د تشبثاتو پر بنسټ د فني او حرفوي زده کړو او روزنو عرضه کوونکې مؤسسې)) نږدې اړيکې او همغږي رامنځ ته کړي.

دغه ستراتيژي د دولتی سکتور، خصوصي سکتور او نړيوالې ټولنې د يو زيات شمېر همکارو ادارو په مرسته طرح شوې ده. دغه ستراتيژي د راتلونکي پنځو کلونو لپاره په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړواو روزنو پروګرام د پراختيا لوی اصول تشريح کوي. د دې ستراتيژۍ اصلي ټينګار پر دې دی، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړواو روزنو

پروګرام د داسې سیستم له مخې پر مخ ولاړ شي، چې د پایلو پر بنسټ ولاړ وي او همدارنګه دغه ستراتېژي د همکارو ډلو ترمنځ پر ځانګړي او باوري همکارۍ ټینګار کوي ترڅو د اړونده ذیدخله ادارو لومړیتوبونه همغږي او د ورته فعالیتونو له تکرار څخه مخنیوی وشي.

د ستراتیژۍ د پراختیا په پروسه کې د پالیسی او ستراتیژۍ سندونو مطالعه کول او ارزول، له اړوندو وزارتونو او نورو ملي او نړیوالو همکارو ادارو سره پراخې سلا مشورې کول او د همدغو لاسته راوړنو پر بنسټ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ددې ملي ستراتیژي سند اصلاح کول شامل دي، ترڅو په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو سیستم د اوسني وضعیت واقعیتونه منعکس او د راتلونکي لپاره لومړیتوبونه په ګوته کړي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو ملي ستراتیژي د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې په برخه کې د روزنیزو پایلو له معرفي کولو او ترویجولو سره مرسته کوي. د زده کړې پایلې او یا د وړتیا پر اساس د زده کړې تګلاره د کار د زده کوونکو د عملي زده کړې پر اړتیاوو تمرکز کوي او دغه اړتیاوې د کار د بازار، ټولنیزې او اقتصادي اړتیاوو سره همغږي کوي. په ۲۰۱۱ (۱۳۹۰) کال کې چې کوم پروګرامونه په افغانستان کې پیل شول، بنایي داسې ضروري ګامونه په ګوته کړي ترڅو د وړتیا پر اساس ولاړې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې په راتلونکي کې د تخنیکي زده کړو او روزنو د بریالۍ تګلارې په توګه وکارول شي.

دغه ستراتیژي د روزنې د ملي ادارې په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي ترڅو د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم مدیریت او همغږي تضمین کړي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه د تصمیم نیولو لپاره د مدیریت اړونده توکي برابر او د څارنې پر بنسټ د معلوماتو داسې مدیریت باوري کړي چې په هغو کې د کار بازار او څیړنې اړوند چارې شاملې وي. همدارنګه دغه ستراتیژي د کیفیت د تضمین سیستم هم وړاندې کوي ترڅو د قابلیتونو د ملي چوکاټ له لارې د تخنیکي او مسلکي زده کړو بیروني او داخلي اغېز، د قابلیتونو له کچو سره د زده کړو برابرښت او په رسمي او غیر رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د ننه او هم د عمومي زده کړو او تخنیکي او مسلکي زده کړو ترمنځ د زده کوونکو خوځښت زیات کړي.

بالآخره د تخنیکي او مسلکي زده کړو ستراتیژي یو داسې نوی مالي سیستم وړاندې کوي، چې د لازیاتو او غوره وړتیاوو لپاره د زیاتېدونکي تقاضا په تړاو د خصوصي سکتور او د مهمو صنایعو د مستقیم مشارکت په ګډون د مالي سرچینو د تنوع له لارې له ټینګښت او دوامداري څخه تضمین ورکوي. همدارنګه دغه ستراتیژي ځواب ورکونې او روڼوالی ته وده ورکوي او د پایلې پر بنسټ د مالي میکانیزم له لارې چې د لګښت سپمولو او د لګښت بیاترلاسه کولو ګامونو په مرسته بشپړیږي، د منابعو د لاغېزمنه سمبالونې او تخصیصونې څخه ملاتړ کوي.

د مسلکي او تخنیکی زده کړو او روزنو د ملي ستراتیژۍ د منابعو دخالت باید په غور سره ارزول کېږي څو د مسلکي او تخنیکی زده کړو او روزنو سیستم ته اجازه ورکړي چې په دومره اندازه پرمخ ولاړه شي چې د عرضې او تقاضا اوسني اړتیاوې په دوامداره توګه برابرې کړي.

# د محتویاتو لړلیک


| | |
|---|---|
| د پیل خبرې | ا |
| سریـــزه | ب |
| د محتویاتو لړلیک | د |
| مخففات | ز |
| ۱. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اوسنی وضعیت، ننګونې او عمومي بهیر | ۲ |
| ۱،۱ پالیسي او قانوني چوکاټ | ۲ |
| ۱،۲ د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د اصلاحاتو په اوسنی پروسه کې د بهرنیو تمایلاتو / لارو چارو تحلیل | ٤ |
| ۱،۲،۱ سیاسي تمایلات | ٤ |
| ۱،۲،۲ اقتصادي تمایلات | ٤ |
| ۱،۲،۳ ټولنیز تمایلات | ٦ |
| ۱،۲،٤ تکنالوژیکي تمایلات | ۹ |
| ۱،۲،٥ د بهرني چاپیریال د تحلیل لنډیز | ۱۰ |
| ۱،۳ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم اوسنی وضعیت | ۱۲ |
| ۱،۳،۱ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو حکومتي انستیتیونه / ښوونځي | ۱۲ |
| ۱،۳،۲ د فني او حرفوي زده کرو او رونو د عرضه کولو خصوصي روزنېزې مؤسسې او غیردولتي مؤسسې / ادارې | ۱٤ |
| ۱،۳،۳ د تخنیکي او مسلکي زده کړو همکارو ډلو او ونډې ته عمومي کتنه | ۱٥ |
| ۱،٤ په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم ننګونې | ۱٦ |
| ۱،۴،۱ مدیریت | ۱۷ |
| ۱،٤،۲ د ټولو لپاره لاسرسی | ۱۸ |
| ۱،٤،۳ کیفیت | ۱۸ |
| ۱،٤،٤ مالي چارې | ۱۹ |
| ۱،٤،٥ په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اوسني وضعیت د تحلیل لنډیز | ۲۰ |
| ۲ ستراتیژیک لیدلوری، ماموریت او موخې | ۲٤ |
| ۲،۱ لیــدلوری | ۲٤ |
| ۲،۲ ماموریت | ۲٤ |
| ۲،۳ موخې | ۲٤ |

| | |
|---|---|
| ۳. لومړی ستراتيژيک هدف: د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سيستم کنټرول او مديريت | ۲٦ |
| ۳،۱ د کنټرول او مديريت ته لنډه کتنه | ۲٦ |
| ۳،۲ د قابليتونو او وړتياوو د تثبيت ملي اداره او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ | ۲٦ |
| ۳،۳ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ: تشکيل او فعاليتونه | ۲۷ |
| ۳،۴ د ذيدخله ډلو ګډون | ۲۹ |
| ۳،۵ د دولتي او خصوصي سکتور ترمنځ مشارکت | ۲۹ |
| ۳،۶ د چارو غير مرکزي کول | ۳۰ |
| ۳،۷ دمنجمنت معلوماتي سيستم | ۳۱ |
| ۳،۸ د څارنې او ارزونې سيستم | ۳۲ |
| ۳،۹ د کار بازار معلومات او تحليل | ۳۲ |
| ۳،۱۰ د څېړنې لپاره د ظرفيتونو لوړول | ۳۳ |
| ۳،۱۱ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اصلاحاتو، سيستم او مؤسساتو په هکله د پوهاوي د کچې لوړول | ۳٤ |
| ۳،۱۲ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره د نړيوالې ملتيا تنظيم او اداره کول | ۳٤ |
| ٤. دويم ستراتيژيک هدف: د ټولو لپاره لاسرسی | ۳٦ |
| ۴،۱ مساويانه لاسرسی او مساويانه فرصتونه | ۳٦ |
| ۴،۲ تـګلارې | ۳۷ |
| ۴،۳ د ښوونې او روزنې او مهارتونو د زده کړې په ملي سيستم کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ځای | ۳۷ |
| ۴،۴ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنود وړاندې کولو د بدلون وړ تنظيم | ۳۹ |
| ۴،۵ د اشتغال زايي/ کار موندنې زده کړې/روزنې | ۳۹ |
| ۴،۶ د شخصي کاروبار لپاره تخنيکی او مسلکي زده کړې او روزنې | ٤۰ |
| ۴،۷ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ودې لپاره مسلکي لارښوونې او مشورې | ٤۰ |
| ۴،۸ د جنډر برابري | ٤۰ |
| ۵. دريم ستراتيژيک هدف: کيفيت | ٤۲ |
| ۵،۱ د کيفيت لپاره اړتيا | ٤۲ |
| ۵،۲ د پايلو پراساس تــګلاره | ٤۲ |
| ۵،۳ د پايلو پراساس ولاړو تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره د ادارې جوړول | ٤۳ |
| ۵،٤ شغلي سټنډرډونه | ٤۳ |
| ۵،۵ د شغلي مهارتونو ارزونه او تصديق | ٤٤ |
| ۵،۶ د قابليتونو او وړتياوو د تثبيت ملي اداره او ملي چوکاټ | ٤۵ |

۵،۷ د نصاب رامنځته کول او د روزنيزو پروګرامونو چمتو کول ٤٦

۵،۸ د ښوونې او زده کړې مواد ٤٧

۵،۹ د تخنیکی او مسلکي زده کړو د يو اصل په توګه د واحد نصاب رامنځته کول/ ماډيول روزنيزو مسلسلو رسالو (موډيولر)
سيستم ته د ښوونيز نظام اړول، ٤٧

۵،۱۰ د زده کړې تګلارې/ ميتودولوژي ٤٨

۵،۱۱ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په ادارو کې د ظرفيتونو لوړول ٤٨

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو عامه ادارې ٤٨

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو خصوصي مؤسسې ٤٩

۵،۱۲ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو اعتبار او / تصديق ٥٠

۵،۱۳ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د کارکوونکو لپاره د ګټور کاري چاپيريال برابرول ٥١

۵،۱۴ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو او روزونکو لپاره له خدمت څخه مخکې او داخل خدمت روزنه ٥١

۵،۱۵ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مديريت لپاره د بشري منابعو پراختيا ٥٢

۵،۱۶ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم ته د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ ورپيژندنه ٥٣

۵،۱۷ د تخنيکي او مسلکي زده کړو سيستم اغيزمنتيا ٥٣

۵،۱۸ د پخوانيو زده کړو پيژندنه ٥٤

٦. څلورم ستراتيژيک هدف: دوامداره مالي منابع ٥٦

۶،۱ د تخنيکي او مسلکي زده کړو د تمويل نوی سيستم ٥٦

۶،۲ د مالي مرستو نوې سرچينې ٥٦

۶،۳ د مالي سوابقو معياري ټولګه ٥٧

٧. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ملي ستراتيژۍ پلي کول – کاري پلان، څارنه او ارزونه او اړيکې ٥٨

٧،١ کاري پلان ته لنډه کتنه ٥٨

٧،٢ د استراتيژي د پلي کولو څارنه او ارزونه ٥٨

٧،٣ د عملي کولو اړيکې ٥٨


٨. پايله ٦٠

## مخففات

| | |
|---|---|
| ANDS | د افغانستان دملي پراختیا تګلاره ۱۳۸۷– ۱۳۹۱ (۲۰۱۳–۲۰۰۸) |
| ANQA | د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي اداره |
| ANQF | د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي چوکاټ |
| CESP | د زده کړو او مهارتونو د پالیسی کمیټه |
| DMTVET | د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو معینیت |
| HRDB | د بشری منابعو د پراختیا بورډ |
| IP | د ښوونې او روزنې منځ مهاله پلان ۲۰۱۱ – ۲۰۱۳ |
| MoE | د پوهنې وزارت |
| MoHE | د لوړو زده کړو وزارت |
| MoLSAMD | د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| NESP-II | د افغانستان د ښوونې او روزنې ملي ستراتیژیک پلان ۲ (۲۰۱۰–۲۰۱۳/۱۳۸۹–۱۳۹۳) |
| NHESP | د لوړو زده کړو ملي ستراتیژیک پلان: ۲۰۱۰ – ۲۰۱٤ |
| NSDP | د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام |
| TVET | تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې |
| NTVETS | د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتیژي |

# د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اوسنی وضعیت، ننګونې

# او عمومي بهیر



# ۱. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اوسنی وضعیت، ننګونې او عمومي بهیر

## ۱،۱ پالیسي او قانوني چوکاټ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، د افغانستان د ملي پراختیا تګلاره/ استراتیژي (ANDS)، د زریزې پراختیایي هدفونه، د ټولو لپاره د زده کړې (EFA) هدفونه، د زده کړې قانون، د ښوونې او روزنې ملي ستراتیژیک پلان (NESP I, NESP II)، د افغانستان د ښځو چارو ملي کاري پلان (NAPWA)، او د هراړخیزو زده کړو د اړتیاوو او حقونو د ارزونې راپور د افغانستان د راتلونکي د جوړولو لپاره له لومړنیو زده کړو څخه تر لوړو زده کړو پورې د ښوونې او روزنې د سیستم رول حیاتي بولي.

په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې تصویب شوی اساسي قانون باکیفیته زده کړو ته د ټولو ماشومانو او ځوانانو د مساوي او یوشان لاسرسي په حق ټینګار کوي، په دې اړه اساسي قانون داسې وایي:"دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازنې پوهنې د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي" (درې څلویښتمه ماده، دویمه برخه، ۲۲ ماده). همدارنګه د پوهنې قانون هم چې د ۲۰۰۸ کال په اګست میاشت کې تصویب شوی د ټولو افغانانو د زده کړې د حق په اړه تاکید کوي.

د تېرو څو کلونو په موده کې د ترسره شویو پرمختګونو سره سره، په افغانستان کې د اټکل له مخې د ښوونځي په عمر نیمایي شمېر ماشومان لاهم ښوونځیو ته ندی شامل شوي . د دغو ماشومانو سربیره چې له زده کړې بې برخه پاتې شوي دي، ګڼ شمېر ماشومان د پوهنې په سیستم کې دننه د ګوښه کېدو او له زده کړې څخه د بې برخې پاتې کېدو له ګواښ سره مخ دي. له زده کړې او پوهنې څخه د دغو ماشومانو او لویانو د بې برخې کېدو له ګواښ سره باید د تخنیکي او مسلکی زده کړو او روزنو د انعطاف پذیره پروګرامونو له لارې مبارزه وشي. د تخنیکي او مسلکی زده کړو او روزنو پروګرامونه باید د حکومتي ښوونځیو/د مسلکی روزنیزو مرکزونو او د هم د نړیوالې ټولنې په مرسته د خصوصي سکتور او د ټولنیزو هڅو له لارې وړاندې شي. لویان باید د تخنیکي او مسلکی زده کړو او روزنو له لارې وکړی شي چې د خپلې شخصي لېوالتیا په اساس او د کار د بازار د اړتیاوو سره سمې تخنیکي او مسلکی فني او حرفوي مهارتونه زده کړي. دغه کار به ډېر شمېر ځوانان د دې وړ وګرځوي چې د رسمي دندې او شخصي کاروبار د ترسره کولو وړتیاو ولري، او په ورته وخت کې به زده کوونکی وکولی شي خپلو زده کړو ته د پوهنې په سیستم کې ادامه ورکړي.

که اوږد مهاله زده کړو ته د یو اصلي عامل په توګه وکتل شي نو زده کړه په عام ډول او تخنیکي او مسلکی زده کړې او روزنې په خاص ډول دا ښوولې چې تخنیکي مسلکي زده کړې او روزنې د بېوزلۍ په را ټیټولو او د دوامدارې پراختیا په برخو کې ګټوره مرسته کوي.

د تخنیکي او مسلکی زده کړو او روزنو اړونده پالیسۍ او ستراتیژۍ په لاندنیو رسمي سندونو کې ترلاسه کېدای شي:

- د افغانستان د ملي پراختیا تګلاره/ استراتیژي (ANDS)
- د پوهنې منځ مهاله ملي پلان (NEIP)
- د پوهنې ملي ستراتیژیک پلان ۱، ۲ او (مسوده) ۳ (NESP I، NESP II او NESP III د ۲۰۱۳ کال د اپریل میاشتې مسوده)
- د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام (NSDP)
- د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاري پلان (NAPWA)

- د لومړیتوبونو ملي لومړی پروګرام"د مهارتونو د پراختیا له لارې دوامداره وړ کار او د ګومارنې دپالیسیو د جوړولو پواسطه د دندو د زیاتېدلو سره یو ځای اقتصادي وده او پرمختیا "
- د وړتیاوو د پراختیا پنځه کلن پلان (MOLSAMD)

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په اړونده برخو کې (۱) د کار بازار ته مساعدت ببنونکي د کار قوانین او مقررات او د دوامداره وړ کار برابرول، (۲) د کار لپاره د لیک لوست زده کړه، او (۳) د مهارتونو پراختیا، د ۲۰۱۱ کال د لومړیتوب ملي پروګرام ۱ " د مهارتونو د پراختیا له لارې دوامداره وړ کار او د ګومارنې د پالیسیو د جوړولو پواسطه د دندو د زیاتېدلو سره یو ځای اقتصادي وده او پرمختیا " د ګومارنې د لاپراخه او فعاله پالیسي ګانو سره د مهارتونو د پراختیا پر یوموټي کېدلو (ادغام) ټینګار کوي.

په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو سیستم د جوړولو بیړنی اړتیا ته د ځواب ویلو په برخه کې په ۲۰۱۲ کال کې د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو لپاره د یوه قانوني بورډ وړاندیز وشو ترڅو تخنیکي او مسلکی زده کړیاو روزنې د ملي اداري په توګه عمل وکړي. په پام کې ده چې د تخنیکي او مسلکی زده کړواو روزنو بورډ به د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت د ملي اداري (ANQA) په چوکاټ کې فعالیت وکړي او د مسلکي او تخنیکي زده کړواو روزنو عرضه کوونکومؤسسو، دونرانو ، حکومتي او د مدني ټولنې ادارو ته یو عمومي ابزار برابر کړي څو د تخنیکي او مسلکی زده کړواو روزنو په سیستم کې د معیاري شرایطو او د کیفیت د تضمین په چارو کې مرسته وکړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ تر همغږۍ لاندې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم کېدای شي په منظمه او جمعی توګه جوړشي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو فرصتونه نورو میلیونونو افغانانو ته وغځول شي او له دې لارې د هېواد په اوږد مهاله سوله او پرمختیا کې مرسته وکړي.

د افغانستان حکومت د ولسمشرۍ مانی د ۴۵ شمېرې فرمان له لارې نوي هڅې پیل کړېدي، چې د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا په برخو کې د همکارو ډلو هڅې همغږې کړي. په هر اړخیز او پراخ ډول د ظرفیتونو لوړول او د بشري پانګې تشکیلول د دغو هڅو اصلي برخې ګڼل کیږي. تمه کیږي چې ددغه ستراتیژۍ له مخې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې د دوامداره پرمختګ لپاره د لازم کاري ځواک په برابرولو کې مهم رول ولوبوي. هیله ده چې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې به داسې ضروري "اړونده او د تقاضا پر اساس زده کړه او روزنه برابره کړي، چې د رسمي دندو او شخصي کاروبار لپاره د اقتصادي او ټولنیزو سکتورونو اړتیاوو ته ځواب ویلی شي".

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو دغه ملي ستراتیژي د پراختیا او د بېوزلۍ د را کمولو لپاره د ملي پالیسۍ د چوکاټ یوه مهمه برخه ده. دغه ستراتیژي د زده کړې او روزنې د برابرولو په برخه کې د خصوصي سکتور، غیردولتي ادارو او ټولنو د پراخ ګډون اړتیاوې څرګندوي.

## ۱،۲ د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د اصلاحاتو په اوسنی پروسه کې د بهرنیو تمایلاتو / لارو چارو تحلیل

### ۱،۲،۱ سیاسي تمایلات

د افغانستان د ملي پراختیا تګلاره(ANDS) له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۳ زېږدیز کال پورې د هېواد بنسټیزه پالیسي ده. دغه ستراتیژي د هېواد د پراختیا د مهم چوکاټ په توګه کارول کېږي، د زریزې پراختیایي موخې (MDGs) سره یوځای کوي او څو اړخیزه تګلارې تصویبوي څو د اقتصاد د طبیعي زېرمو، صنعت او خدماتو په سکتورونو کې کورني او بهرني پانګونې ته وده ورکړي. دغه پانګونه د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لاره هواروي او د مسلکي کار لپاره تقاضا لوړوي.

د افغانستان د ملي پراختیا تګلاره (ANDS) د د پلازمینې توکیو ۲۰۱۲ کال د جولای د میاشتې د چوکاټ په اړه معلومات ورکوي، چې د هراړخیزې او دوامدارې اقتصادي ودې او پرمختګ د اصولو پر بنسټ ولاړ دی، چې د پراختیا او حکومتدارۍ په پنځو سترو برخو کې له لېږد څخه ملاتړ وکړي: دیموکراسي او عادلانه ټاکنې؛ حکومتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه؛ د دولتي مالي چارو او سوداګریزې بانکدارۍ شفافیت؛ د حکومت عواید، د بودیجې مصرف او په ولایتي کچه حکومتولي؛ هراړخیزه او دوامداره پراختیا.

د لومړیتوبونو له ملي پروګرامونو (NPPs) سره د د مرستو د ژمنو چوکاټ همغږې دېته لار هواروي، چې د پراختیایي مرستو لږترلږه ۵۰ سلنه برخه د افغانستان د حکومت د ملي بودیجې له لارې ولګول شي.

د افغان حکومت عمومي ستراتیژي دا ده، چې هغه موخې ترلاسه کړي، چې د لومړیتوبونو د۲۲ ملي پروګرامونو په چوکاټ کې ټاکل شوي دي، چې دا پروګرامونه د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ ټاکلي او د پام وړ لومړیتوبه څرګندوي. د لومړیتوبونو ملي ۲۲ پروګرامونه، د افغانستان د پراختیا، اقتصادي پرمختګ او مالي ټینګښت موخو د ترلاسه کولو لپاره ارزښتناک ګڼل کېږي او په شپږو برخو وېشل شوي دي: د زېربناوو پراختیا، د خصوصي سکتور پراختیا، د کرنې او کلو پراختیا، د بشري منابعو پراختیا او حکومتداري او امنیت.

د افغانستان حکومت د لومړیتوبونو ملي پروګرامونو ته د یوې داسې وسیلې په توګه ګوري، چې د حکومتي وزارتونو ترمنځ ګډه همکاري زیاته کوي ترڅو د فعالیتونو له تکرار څخه مخنیوی وشي او په اړوندو سکټورونو کې یوه روښانه او د لومړیتوب وړ اجنډا طرح او اجرا کړي. د لومړیتوبونو ملي پروګرامونه بالاخره هغه وخت خوندي او دوامداره پرمختګ ته لاسرسی ومومي کله چې بهرني مالي مرستې ورو ورو لږ شي او افغانستان د خپل پرمختګ مسؤولیت په بشپړه توګه په خپله غاړه واخلي.

### ۱،۲،۲ اقتصادي تمایلات

د نفوسو، ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي چارو اړونده ننګونو د افغانستان په وضعیت ژوره اغېزه کړې. افغانستان د نړۍ ترټولو بېوزله هېوادونو په ډله کې راځي، چې له دریمې برخې څخه زیات وګړي یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

د جګړې ځپلي هېواد په توګه، د افغانستان اقتصادي موخې افغان چارواکو ته د ټولو امنیتي چارو سپارل، چې تر ۲۰۱۴ کاله پورې بشپړیږي، د نړېوالې ټولنې په دوامداره مرستو څو له اوږدمهاله پرمختګ څخه ملاتړ وکړي، په کورني اقتصادي وضعیت باندې د کانونو د استخراج په مثبتو اغېزو او د کرنې په سکتور کې د خدمتونو او تولیداتو په پراختیا پورې تړلې دي.

افغانستان د ۲۰۰۳/ ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ /۲۰۱۱ کلونو ترمنځ ښه اقتصادي پرمختګ تجربه کړ، چې اصلي لامل يې د بيارغونې او د کرنې د ډېرو حاصلاتو په برخو کې پانګه اچول دي. د کورنې ناخالصو توليداتو رښتينې وده د ۲۰۱۱ کال له ۷،۳ سلنې څخه په ۲۰۱۲ کال کې[1] تر ۱۱،۸ سلنې پورې لوړه شوه. د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۸ کلونو ترمنځ د کورنيو ناخالصو توليداتو رښتيني منځنۍ وده له ۶-۴ سلنه اټکل شوی ده، چې د ۲۰۰۳– ۲۰۰۴ او ۲۰۱۱– ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ د ۹ سلنه ودې سره پرتله کېږي. بهرنی مرستې له اقتصادي پرمختګ څخه په کلکه ملاتړ کوي. خو له دې سره سره افغانستان د نړۍ له شاته پاتې هېوادونو څخه دی چې په ۲۰۱۲ کال کې د داخلی ناخالصو توليداتو د سړي سر عايد يې يوازې ۵۹۰ امريکايي ډالره وو.

امنيتي وضعيت د خلکو پر بې باورۍ ناوړه اغېزه کوي، او بې باوري په خپل وار پر پانګونه باندې ناوړه اغېزې پرېږدي. په ۲۰۱۲[2] کال کې د نويو راجسټر شويو شرکتونو شمېره تر ۸ سلنو پورې را ښکته شوې ده. کرنه چې د دوامداره او لوی شمېر دندو او د عوايدو د زياتېدو لپاره مهمه لاره ګڼل کېږي، د کلنيو توليداتو له مخې د داخلي ناخالصو محصولاتو دڅلورمې برخې پر ځای يو پر دريمه برخه تشکيلوي. په داخلی ناخالصو توليداتو کې د کرنې بار ته په پام سره، اقتصادي پرمختګ بيا هم د کرنېزو توليداتو په توګه همدغه مرحله تعقيبوي. له تاريخي پلوه د کانونو کوچنی سکتور دوامداره پرمختګ ښوولی او د خدمتونو سکتور بيا د دوه برابره مثبت تمايلاتو نښې ښکاره کړې دي.

د سوداګرې په لار کې موجوده خنډونو او دې واقعيت ته په پام سره چې د افغان کمپينو ټوليزه شمېره ډېره لږه ده او کوچنې کمپنۍ او شرکتونه رښتيني مالي او تشکيلاتي جوړښت نه لري، د سوداګرۍ چاپيريال لاهم لازياتوساده کېدو ته اړ دی، او په افغانستان کې سوداګرې د سهيلي آسيا د نورو هېوادونو په پرتله ګرانه ده په تېره بيا د دغو شاخصو په برخه کې: د پانګه اچوونکو خونديتوب، د پولو په اوږدو کې سوداګري کول او د يوې سوداګرۍ تړل.[3]

د مصرفوونکي د بيې تورم په ۲۰۱۲ کال کې نږدې نيمايي بدلون وموند چې د ۲۰۱۱ کال له ۱۰،۲ سلنو څخه په ۲۰۱۲ کال کې تر ۶،۲ سلنې پورې راټيټ شوی او د حکومت پاليسي داسې ده، چې د يو شمېر ګامونو په اخيستو سره لکه سوداګرۍ او پانګونې، د اسعارو سمون، دګمرکي تعرفو او د مالياتو قانون په ساده کولو او د افغانستان د ملي پراختيا تګلارې د چوکاټ له لارې صنعتي پانګونې وهڅوي.[4] دولت د ملکي کارکوونکو په معاشاتو، ډېرو امنيتي لګښتونو سربېره د مالونو او خدمتونو په عرضه کولو ډېرې پيسې لګوي.

د زېربناوو، طبيعي زېرمو، د خصوصي سکتور پراختيا، روغتيا او پوهنې لګښتونه له عملياتي او پراختيايي پلوه ډېر شوي دي.

په هېواد کې د آزاد بازار سيستم موجود دی. افغانستان د سوداګرې د نړيوالې اداري ناظر دی او د بشپړ غړيتوب لپاره يې غوښتنه کړې ده. د راکړې ورکړې وړ توليداتو نستا کوچني اندازې ته کتو سره، د هېواد صادرات يوازې تر يو څو بازارونو پورې محدود دي، او د احصايې د مرکزي ادارې د معلوماتو له مخې د هېواد د پولي واحد د ارزښت د راټيټېدو له کبله د صادراتو اندازه د توقع خلاف  پدې وروستيو کې لږ شوې ده. په ۲۰۱۲ کال کې ټولټال واردات تر نږدې ۵ سلنو پورې زيات شوي دي، چې د سوداګرۍ د لوړ اسمي کسر سبب ګرځېدلی دی.

تمه ده، چې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې اقتصادي وده کمزوره شي پداسې حال کې چې د خدمتونو تقاضا ته د ځواب ويلو له کبله به د دولت لګښتونه ډېر شي.

د اقتصادي پرمختګ لپاره منځمهاله پلان په حتياطانه ډول هيله ببنونکی دی.[5] هغه ستر ګواښونه چې ملي اقتصاد

---

1 نړيوال بانک، د افغانستان اقتصادي اپډيټ، د ۲۰۱۳ کال د اپريل مياشت

2 "په افغانستان کې د سوداګرۍ د ثابتي پانګونې اټکل" د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره، د ۲۰۱۲ کال د مې مياشت

3 ILO، افغانستان: دوامداره دندو ته د اوښتو وخت، د ۲۰۱۲ کال د مې مياشت

4 http://www.state.gov/e/eb/rls/othr/ics/2012/191093.htm

5 نړيوال بانک، op.cit.

اغېزمنوي، د لیرد په پروسه او د خصوصي سکتور په پراختیا د هغو په اغېزو پورې تړلی دی، ددې ترڅنګ د حکومتي لګښتونو د زیاتېدو اړوند د مالي اړتیاوو زیاتېدل، جغرافیوي وېش او د مرستو اغېزه او د ادارو په ظرفیت کې د تشکیلاتي اصلاحاتو پرمختګ (د خصوصي کان کیندنې لپاره د قانوني چاپېریال څخه د ارزښت اضافه شوي مالیې تر ورپېژندنې او د ګمرکاتو سمون) ترڅو بودیجه په ښه او اغېزناکه توګه اجرا شي او د حکومتدارۍ په عمومي سیستم کې له روڼوالی او ځواب ورکونې څخه تضمین ورکړي.

### ۱،۲،۳ ټولنیز تمایلات

په افغانستان کې د دریو لسیزو جګړو پر انساني پانګه اوږدمهاله اغېزې پرېښي دي. په وروستیو کلونو کې د ژوند په کیفیت کې ښه والی راغلی دی؛ که څه هم د بشري پراختیا شاخصونه د نورې نړۍ په پرتله لاهم په ټیټه سطح کې دي. د بشري پراختیا په شاخصونو کې د افغانستان ځای د بېوزلۍ وضعیت ښکارندویی کوي، چې کمزوره روغتیا، ټولنیز خدمتونه، پوهنه او تغذیه، د ښځینو اوبو ته نابرابره لاسرسی او ناکافي روغتیاساتنه او بریښنا اړونده خدمتونو کچه د نورې نړۍ په کچه نه ده. دریمه برخه نفوس لاهم د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او له نیمایي زیات خلک زیانمنونکي او د بېوزله کېدو له جدي ګواښ سره مخ دي. په افغانستان کې د ژوند هیله د ټولو ګاونډیو هېوادونو او په اوسط ډول د وروسته پاتې هېوادونو په پرتله لږ ده. د میندو د مړینې لوړه کچه لاهم د افغانانو روغتیایي شاخصونه د نړۍ ترټولو ناوړه وضعیت کې واقع کوي.

د ګواښ او د زیانمننې د ملي ارزونې (NRVA) ۲۰۰۷ /۲۰۰۸ سروې له مخې، افغانستان د لیک لوست زده کړې له پلوه د نړۍ ترټولو ټیټو هېوادونو په ډله کې راځي. د پنځلس کلونو او لوړ عمر لرونکو افغانانو له دریمې برخې څخه لږ شمېر لویان لیکل او لوستل کولی شي. له دې سره سره بیا هم د طالبانو د حکومت له پرځېدو راهیسې د پام وړ پرمختګ شوی دی. په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې په عمومي زده کړو کې له ۸،۵ میلیونو څخه زیات زده کوونکي شامل شوي دي چې یو پر دریمه برخه یې نجونې دي او داسې تمه کېږي، چې د ۲۰۱۳ کال[6] تر پایه پورې په عمومي ډول۵،۱۰ میلیونه زده کوونکي په ښوونځیو کې شامل شي. خو پوهنې ته د ښځینه او نارینه زده کوونکو ترمنځ د یوشان لاسرسي په برخه کې لاهم ډېر توپیر پرځای پاتې دی.

افغانستان په منځني آسیا کې یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې د ځوان نفوس کچه یې ډېره ده. د ۱۵ کلونو او یا له هغې ښکته عمر ماشومانو تناسب له ۵۰ سلنو څخه زیات دی، دا پدې معنا ده چې له اقتصادي پلوه په هر دوو افغانانو کې له یو شخص څخه ډېر افغانان په نورو باندې متکي دي[7]. تمه کېږي، چې د نفوسو د زیاتوالي بهیر به په راتلونکي لسیزې کې په همدې توګه دوام ومومي، په تېره بیا په کلیوالي سیمو کې د نفوسو د ډېروالی کچه په ډېرو ده. د هېواد نفوس مخ پر زیاتېدو دی، چې دا حالت پر زېرمو، د خدمتونو په رسولو او د کار پر بازار باندې فشار ډېروي، چې ان له وړاندې څخه د مناسب او دوامداره کاري فرصتونو له کمښت سره مخ دي.

د کاري ځواک معلومات ښیي چې د کار عمر لرونکي وګړو دوه پر دریمه برخه د کار په بازار کې ګډون لري، چې په یو لړ مختلفو دندو بوخت دي، پداسې حال کې چې له لسمې برخې څخه لږ کاري ځواک بېکاره ګڼل کېدای شي. د ښار په کاري بازارونو کې د ګډون او دندو اندازه د کلو په پرتله ټیټه ده، دا ځکه چې په ښار کې د ښځو، ځوانانو او پاخه عمر کسانو د ګډون کچه ټیټه ده.

په رسمي سکتور کې د کارګرانو شمېره نږدې ۱،۵ میلیونه اټکل شوې ده او یا هم د کاري ځواک د ټولټال اوو میلیونو ٪۲۰ برخه تشکیلوي. رسمي سکتور په دوامداره توګه د ودې په حال کې دی او داسې تمه کېږي چې دا وده به

[6] سرچینه: DM TVET

[7] "د افغانستان د دندو ننګونې" د ILO-WB کنفرانس، په افغانستان کې د دوامدارو دندو رامنځته کول، کابل، د ۲۰۱۳ کال د می میاشت

را پراخه شي ځکه اقتصاد د وخت په تېرېدو سره رسمي بڼه غوره کوي او د خدمتونو او صنعت سکتور په دوامداره توګه پرمختګ کوي.

د آزاد کاروبار په چوکاټ کې د وزګارۍ ټیټه کچه د نیمه کاري فرصتونو لخوا له نابرابرۍ سره مخ دی چې په دې سره نږدې نیمايي دنده لرونکي وګړي متاثره کېږي. نیمه او مؤقت کاري فرصتونه د کار په بازار کې په ښاري-کلیوالي وېش پورې تړل دی: په کلیوالي سیمو کې کاري فرصتونه ډېر خو مؤقت او نیمګړي دي او د دندو کیفیت ټیټ دی. [٨]

د کاري ځواک معلومات ښیي چې د کار بازار ته د لاسرسي په لاره کې خنډونه او د ګومارنې د سرچینو په توګه د غیررسمي شبکو فعالیت، شتون لري. په عموم توګه ځوان کارکوونکي د زده کوونکو د لنډمهاله او لنډمهاله پوستونو ترلاسه کولو ته اړتیا لري.

د کلیوالي سیمو په پرتله په ښاري سیمو کې د ښځینه او نارینه جنس ګډون کمښت ډېر لیدل کېږي، چې د تنخوا لرونکو دندو ښځینه کارکوونکو شمېر لږ دی. ښځې زیاتره په غیررسمي اقتصادي برخو کې کار کوي او په عموم توګه د دندو په چوکاټ کې د ښځینه او نارینه جنس ترمنځ توپیر شتون لري. د کرنیزو چارو او کورنۍ هوساینې په برخو کې د ښځینه کاري ځواک ګډون تر ډېره په موسمي کاري تقاضا پورې تړلی دی، څومره چې کورنۍ ډېرې بېوزله دي په همغه اندازه یې په کارونو کې د غړو مشارکت ډېر دی. د ښځینه کار کوونکو د ګډون کموالی او د ټیټې کاري سطحې بنسټیز لاملونه د کار په بازار کې د ښځو د ګډون په هکله د کورنیو دریځ، د کاري فرصتونو کموالی، د تجربې کموالی او د زده کړې د کچې ټیټوالي او نور کلتوري عوامل شامل دي.

له پنځلس کلنۍ ښکته ماشومانو باندې د کار کولو بندیز ډېر محکم نه دی او د افغان ماشومانو نږدې پنځمه برخه په دواړه کلیوالي او ښاري سیمو کې کار کوي.

کډوال، راستنېدونکي کډوال، د هېواد دننه بېځایه شوي خلک او غیر قانوني کډوال په عمومي توګه د ناثابت او غیرمسلکي کارګرانو په ډله کې شمېرل کېږي.

د خطر او د زیانمننې د ملي ارزونې (NRVA) ۲۰۰۷ /۲۰۰۸ سروې له مخې، کوچیان له ټولنیز او اقتصادي پلوه له محرومو ډلو څخه ګڼل کېږي، او د جوګي، جټ، ګربت او بنګړي پلورونکو اړونده ټولنې له خنډونو سره مخ دي چې روزنې او دندې ته لاسرسی نلري او د هغوی عمده معیشتي او عایداتي فعالیتونه یوازې غیرمسلکي کارونه دي. زده کړه یو له هغو مهمو لارو څخه ګڼل کېږي چې په مرسته یې کمزوره وړتیاوې، بیکاري او بېوزلي له منځه وړل کېدای شي. [٩]

د افغان را ستنه شویو کډوالو ډېر خوځښتونه په دایمي ډول له خپلو ټولنو سره د یوځای کېدو او له کلیو څخه ښار ته د خلکو د لېږد په برخه کې ننګونې را منځ ته کړې دي. د کډوالو د خپلې خوښې راستنېدنه له ۲۰۰۲ کال وروسته پیل شوه، چې د وګړو په شمېر کې ۲۰ شاوخوا سلنه زیاتوالی راغی او د کار پر بازار باندې یې هم فشار ډېر کړ. د افغان کډوالو د کډوالۍ دوې مختلفې څپې درلودې. لومړۍ څپه له ۱۹۸۰ څخه د ۱۹۹۰ لسیزې تر نیمايي کلونو پورې صورت وموند، چې زیاتره یې روزل شوي ډلې وې او پرمختللیو هېوادونو ته کډوال شول. دویمه څپه د طالبانو د واکمنې پرمهال کډواله شوه چې نږدې هېوادونو لکه ایران او پاکستان ته کډه او هلته خپاره شول. کډوال زیاتره د افغانستان له کلیوالو ټولنو څخه وتلي وو او لږ تحصیل یې کړی وو. داسې ښکاري چې د کډوالۍ نوې څپې به زیاتې شي، په تېره بیا تحصیلکرده خلکو په برخه کې، که څه هم اوسني کډوالي او خوځښتونه لنډمهاله، موسمي او ګردښتي دي. [١٠]

---

[8] ILO، افغانستان: دوامداره دندو ته د اوښتو وخت، .op.cit

[9] د Samuel Hall کونسل (۲۰۱۱)، د جوګي او بنګړیوالو د ښوونځي بی برخې ماشومان: د ګوښه (بی‌برخی) کیدنې کیسه. د یونیسف لپاره

[10] د کار مهاجرت مدیریت او هڅونه، په افغانستان کې د دوامداره دندو د رامنځته کولو په هکله د ILO-نړیوال بانک کنفرانس، کابل، د ۲۰۱۳ د می میاشت

د کار مهاجرت يوه معيشتي ستراتيژي ده او د جذبولو او هڅولو عوامل يې زياتره د تمې وړ تنخوا ترلاسه کول او په مهاجرت کې د کارموندنې وړ نويو مهارتونو زده کول دي، چې په افغانستان کې شتون نلري. د مهاجرت اقتصادي مرستې، چې په تېره بيا د بېوزلې د کمولو، د دندو د رامنځته کولو او په افغانستان کې د ښځو د پياوړي کولو په لاړو کې ډېر اغېزمن او د کورنيو د عوايدو لپاره مهمه برخه تشکيلوي، همدارنګه کډوالي د نويو مهارتونو د لېږدولو په برخه کې ګټور ميکانيزم جوړوي.

په بهر کې د افغان کارکوونکو لپاره د کاري فرصتونو پراخول هغه هدف دی، چې د لومړيتوبونو د لومړي ملي پروګرام تر ادارې لاندې فعاليت کوي او زياتره په سيمه ييزو او خليجي هېوادونو کې د يو لړ ګامونو په اخيستو سره د دندو رامنځ ته پاملرنه کوي.

په افغانستان کې نږدې ۱۱ ميليونه خلک نالوستي او غيرمسلکي دي. د سواد کچه د ځوانانو ترمنځ لوړه ده په تېره بيا په ښاري سيمو کې چې ښوونځيو ته لاسرسی اسانه دی او زياتره تکړه او مسلکي کاري ځواک مهاجرت کوي. د ليک لوست زده کړې د کچې ټيټوالی د توليد د کمېدو، د زېربناوو د خوځښت د محدودېدو، د ګټورو پانګونو د جذبولو لپاره د ظرفيت د ټيټوالي، د مرستو له لارې د پرمختګ د شونتيا د کمېدو او د مهارتونو د ګډوډۍ د زياتېدو له وجهې د کار بازار د فعاليت لپاره خنډ ګرځي.

د احصايې د مرکزي ادارې د معلوماتو له مخې، د کار بازار ته د نويو ۱۶- ۱۸ کلونو شامليدونکي وګړي اوسمهال نږدې ۵۰۰،۰۰۰ تنو ته رسيږي. په پنځو راتلونکو کلونو کې د دغه عمر کسانو شمېره تر ۷۵۰،۰۰۰ تنو پورې او په لسو کلونو کې شاوخوا ۱،۲ ميليون تنو ته رسيږي. له لوړو زده کړو څخه د ۲۳۵،۰۰۰ فارغانو له ډلې، نږدې ۱۰۰،۰۰۰ تنه يې په کوم پوهنتون او يا د تخنيکي او مسلکي زده کړو په ادارو[11] کې ځای مومي. د کار په بازار کې زياتره شامليدونکي کسان يا نالوستي دي او يا هم د هغوی د ليک لوست مهارت يې ډېر لږ دی.

د کاري فرصتونو د ډېر ارزښت په پوهېدو سره سره د اقتصادي وړاندوينو اړونده شاخصو په رڼا کې، په افغانستان کې لا تر اوسه د کار بازار په اړه د باوري او سمه ترتيب شوې سروې نه ده ترسره شوې. تر دې دمه پورې په افغانستان کې د کار بازار په اړه داسې پراخ او منل شوي معلومات نشته، چې د کاري ځواک د تنخواګانو، مهارتونو، وړتياوو په ګډون له نورو شاخصو څخه کار اخيستل شوی وي.

د تکړه او مسلکي کارګرانو تقاضا مخ پر زياتېدو ده او د ولايتونو په سطح توپير لري. کارګومارونکو (استخدام کوونکو) ويلي دي، چې يو شمېر شته مسلکي دندې لا تر اوسه نه دي ډک شوي، دا ځکه چې په هېواد کې کارګر کافي مهارتونه نه لري او دوی اړ دي، چې په کورني بازار کې د تکړه کارګرانو د نشتوالي له کبله بهرني مسلکي کارګر په کار وګوماري.[12]

د کار په رسمي بازار کې د کار تقاضا لږه ده او عامه سکتور ورباندې نفوذ لري. شخصي کاروبار په دواړه کليوالي او ښاري سيمو کې عام او دود. په افغانستان کې کورنۍ پخپله اصلي ګومارونکي دي پداسې حال کې چې رسمي دندې په ښاري سيمو کې زيات دي، چې د خصوصي سکتور د دندو په پرتله يې شمېر دوه برابره دی.

نږدې دوه پر دريمه برخه خلک د کرنې په سکتور کې بوخت دي، چې دغه سکتور ترټولو ډېرې دندې لري او دکرهنې په سکتور کې تقاضا ډېره ده. د دې سکتور ځانګړتيا کورنۍ کوچنۍ سوداګري او د کروندې/بازار له پلوه سيمه ييز بدلونونه او دوامداره کرنيز معيشت دي. په غيرکرنيز سکتور کې، د کوچني توکو خرڅلاو، راکړه ورکړه او ښه سوداګري او د هټۍ چلولو فعاليتونه ترټولو ښې دندې دي، چې له هغو وروسته خدمتونه او رغونه غوره دندې ګڼل

---

[11] سرچينه: د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت

[12] د ۹۵۹ کوچني او منځني پانګونو د بزنس خاوندانو او مديرانو څخه د USAID ۲۰۱۲ کال سروی

کیږي. په ښاري سیمو کې عامه سکتور د دندو د فرصتونو غوره سرچینه ده، چې زیاتره په کابل کې شتون لري. د صنایعو سکتور په هېواد په کچه د دندو په برخه کې لږ رول لوبوي.

د کاري ځواک د زده کړې او د ښځینه او نارینه جنس اړونده مسایلو ترکیب په بېلابېلو سکتورونو پورې تړلی دی: ترټولو لږ مسلکي او تکړه کارګران د کرنې، رغونې او پاتې خدماتي سکتورونو کې موجود دي. د کرنې سکتور او په لږمسلکي خدماتي سکتورونو کې زیاتره د ښځو پر ګومارنې تمرکز کیږي او کورني له تنخوا (تادیاتو) پرته کار کوي. د لږ مسلکي دندو په چوکاټ کې بیکاري د رغونې او کان کیندلو په سکتورونو کې عام دی.

د افغانستان د ملي پراختیا تګلارې (ANDS) له مخې، د افغانستان حکومت ژمن دی، چې د افغان کاري ځواک وړتیاوې غښتلي کړي ترڅو یې مؤثریت او د ګومارنې وړتیاوې ډېرې شي او په اغېزناکه توګه سیالي وکړي. د بشري پانګې کمښت د فزیکي پانګې د ګټې په لاره کې خنډ جوړوي، د پانګونو ګټې را کموي، د نوي تکنالوژیکي اړونده وسایلو جذب کمزوره کوي، د اقتصاد ساختاري بدلون ټکنی کوي او هم د مهاجرت ګټې کموي.

د کمزوریو مهارتونو په برخه او د اقتصاد مخ پر ودې سکتورونو (کرهڼه، کانونو، رغونې او د سوداګرۍ مدیریت) کې د ځوانانو د روزلو پرمختګ او د خلکو د لیک لوست او د مهارتونو د لوړولو هڅې هغه موخې دي، چې د ۲۰۱۴-۲۰۱۰ کلونو لپاره د پوهنې د ملي ستراتیژیک پلان لخوا په پام کې نیول شوي دي، چې موخه یې د ۱۵ کلونو او لوړ عمر لرونکو ځوانانو په اوو برابره کولو سره د تخنیکي او مسلکی زده کړو او د لیک لوست زده کړې پراخول دي.

### ۱،۲،٤ تکنالوژیکي تمایلات

زیاتره کارخانې او کمپنۍ د تکنالوژۍ اړونده وسایلو او منابعو د کارولو او معلوماتي مخابراتي تکنالوژي ته د لاسرسي له پلوه په ټیټه سطح کې فعالیت کوي. که څه هم یو اندازه پرمختګ شوی، لکه څنګه چې مخابراتي سکتور په تېره لسیزه کې هر کال په اوسط ډول ۶۰ سلنه وده کړې ده، په تېرو دوو کلونو کې د انټرنټ کاروونکو شمېره درې برابره شوې ده او د خدمتونو بیې نږدې لس برابره را ټیټې شوې دي.[۱۳]

داسې تمه کیږي، چې د کانونو سکتور چې د پانګونې کچه یې ډېره ده ښایي لږ شمېر دندې وړاندې کړي او په دې برخه کې زیاتره دندې د مسلکي او نیمه مسلکي کارګرانو لپاره دي. که څه هم د منابعو د دهلیز تګلاره[۱۴] چې د کانونو له پراختیا څخه د زېربنا د پراخولو په موخه، چې پخپل وار نور کورني دوامداره معیشتونه، ټولنیز او د چاپیریال فعالیتونه پیاوړي کوي، د یوې وسیلې په توګه کار اخلي. د کانونو په زېربناوو کې د اړینو پانګو د یوځای کولو او همدارنګه د معیشتي، ټولنیز او محیطي عواملو د پیاوړي کولو له لارې، داسې تمه کیږي چې د نورو اقتصادي فعالیتونو تولید ډېر شي او د خصوصي سکتور له پانګه اچونې سره ګډه او یوځای همکاري وشي.[۱۵]

د کرنې سکتور، چې نږدې ۶۰ سلنه کاري ځواک ته کار برابروي او له ۴۰ سلنې زیات افغان کورنیو ته معیشتي فرصتونه وړاندې کوي، د پرمختللي تکنالوژۍ وسایلو د کارولو (اوبو لګول، تولید، د راغونډولو وروسته فعالیتونه) په برخه کې له کمښت سره مخ دی او د پراختیا لپاره لازم خدمتونه لږ دي چې د دندو د رامنځته کولو لپاره د کرنیزې سوداګرۍ شونتیا او پیاوړتیا محدودوي.

[13] نړیوال بانک، د افغانستان اقتصادي اپډیټ، op.cit
[14] د افغانستان د زیرمو دهلیز: د وړتیاوو د ستراتیژۍ پراختیا، د التای مشورتی اداره، د ۲۰۱۲ کال د ستمبر میاشت.
[15] نړیوال بانک (۲۰۱۲)، د زیرمو د دهلیز نوښت- تخنیکي لنډیز، واشنګټن ډي سي

### ۱،۲،۵ د بهرني چاپېریال د تحلیل لنډیز

لاندې جدول په بهرني چاپېریال کې د ځینو تمایلاتو لنډیز وړاندې کوي، چې مخې یې د تخنیکی او مسلکي زده کړو سیستم باید فعالیت وکړي:

| پیاوړتیاوې | کمزورتیاوې |
|---|---|
| • د افغان حکومت عمومي پالیسي داسې تاکل شوې ده څو هغه موخې عملي کړي چې دتوکیو د چوکاټ لخوا د لوموړیتوبونو د ۲۲ ملي پروګرامونو له لارې تعیین شوي دي. حکومت هڅه کوي څو دیموکراتیک اصلاحات راولي.<br>• د اقتصادي ودې کچه د ۲۰۰۴–۲۰۰۳ او ۲۰۱۱–۲۰۱۰ کلونو ترمنځ لوړه وه، چې اصلي برخه یې د بیارغونې په برخه کې پانګه اچونه او لوړ کرنیز تولیدات وو. د سرانه عاید په اساس کورني ناخالص تولیدات درې برابره لوړ شوي دي. پرسوب (تورم) تر څارنې او کنټرول لاندې دی. د بهرنیو مرستو د داخلېدو له لامله جاري حسابونه په بیلانس کې دي.<br>• د اوږدمهاله پراختیایي مرستو لپاره د نړېوالې ټولنې دوامداره همکاري.<br>• په کورني اقتصادي وضعیت باندې د استخراج او د کانونو اړونده فعالیتونو مثبته اغېزه، د خدمتونو په سکتور کې پراختیا او د کرنې په سکتور کې د حاصلاتو ګټې.<br>• خصوصي رسمي سکتور پنځه برابره لوړ شوی دی او د ثبت شویو رسمي کمپنیو شمېر په ۲۰۰۴ کال کې له ۱۱۳۹ څخه په ۲۰۱۱ کال کې تر ۵۴۶۵ پورې رسېدلې دی. د سوداګري کولو قانوني چوکاټ د سوداګري د پیلولو او د مالیاتو د تادیه کولو شاخصونو په برخو کې اصلاحات راوړل شوي دي.<br>• د زېربناوو، طبیعي زېرمو، د خصوصي سکتور پراختیا، روغتیا او پوهنې په برخو کې لګښتونه زیات شوي دي.<br>• په ۲۰۰۹ کال کې په عمومي زده کړو کې د زده کوونکو شمېره تر ۶،۵ میلیونو پورې لوړه شوې (چې یو پر دریمه برخه یې نجونې دي)، د ۲۰۰۲ کال راهیسې د ښوونکو شمېره دوه برابره شوې ده. د کار په بازار کې د کاري عمر لرونکي خلکو اندازه ٪۶۶ سلنه شوې ده (نېردې ٪۱۰۰ یې نارینه، ٪۵۰ یې ښځې دي).<br>• د رسمي کارونو په چوکاټ کې د بېکارۍ کچه ٪۸ | • افغان چاراواکو د افغانستان د اقتصادي ودې اړونده هیلې د بدلون د کلونو (۲۰۱۴–۲۰۱۲) په موده کې د امنیتي مسؤولیتونو په سپارلو او د (۲۰۲۵–۲۰۱۵) کلونو په موده کې د اوښتون د لسیزې په جریان کې په مرستو پورې تړلې ده.<br>• د نویو ثبت شویو کمپنیو (پانګونو) شمېره ټیټه شوېده. صادرات لږ شوي دي. پولې شاخصې او د پولې واحد ارزښت ټیټ شوی دی.<br>• بزنس او سوداګري لاهم د سره پټې، د پالیسي د وړاندوینې کمزوروالي او فساد له کبله له خنډ سره مخ دي. د سوداګري کولو شاخصې د پانګوالو د خوندیتوب، د پولو په اوږدو کې د سوداګري کولو او د کاروبار د تړلو په برخه کې کمزوره دي)<br>• د خصوصي سکتور په کمپنیو کې ٪۹۲ کمپنی کوچنې دي.<br>• شخصي کاروبار په کورنیو ناخالصه تولیداتو کې لږ ارزښت لري.<br>• د رسمي کارونو په چوکاټ کې د بیکارۍ کچه ټیټه ده خو لنډمهاله او کمزوري کاري فرصتونه بیا ډېر دي.<br>• د خصوصي کمپنیو (کورنیو او بهرنیو) د ودې پنځه برابره کېدل اصلي لاملونه رغونه او خدماتي صنعت دی.<br>• د بشري پراختیا په شاخصه کې ټیټوالی (د قانون لږ حاکمیت، کمزوره روغتیایي وضعیت، ټولنیز خدمتونه، پوهنه او تغذیه؛ د څښلو اوبو، روغتیا ساتنې، برېښنا ته لږ لاسرسی او د طبیعي ناورینونو له لامله رامنځته شوې بېوزلي)<br>• د خلکو یو پر دریمه برخه د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او ٪۵۰ سلنه یې زیانمنونکي او د بې وزله کېدو له ګواښ سره مخ دي.<br>• د شخصي کاروبار په برخه کې د خلکو اندازه له ٪۶۰ زیاته، او په غیررسمي اقتصادي برخه کې د خلکو اندازه ٪۸۰ سلنه ده.<br>• ٪۴۸ وګړي لنډمهاله او نیمګړې دندې لري.<br>• د ښارې، کلیوالي او سیمه ییز توپیرونو سره په غیررسمي اقتصادي برخه کې ٪۴۵ ځوانان او ښځې تنخوا لرونکي |

| | |
|---|---|
| ده. په رسمي اقتصاد کې د دندو زیاتوالی د اقتصادي سکتور د پراخولو په برخه کې د تکړه او مسلکي کاري ځواک لپاره تقاضا لوړه کړې ده.<br>• د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ لګښتونه یو پر لسمه برخه ټیټ شوي دي د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ د انټرنټ کاروونکو شمېره درې برابره لوړه شوې ده.<br>• داسې تمه کېږي چې د زېرمو د دهلیز تګلاره به نورو اقتصادي فعالیتونو او ډلو او د خصوصي سکتور د پانګونې لپاره زیات تولیدات او ګټې برابر کړي. | دندې لري.<br>• په مخ پر ودې اقتصادي سکتورونو کې له بهره د مسلکي کاري ځواک واردېدل.<br>• د کرنې په څېر په مهمو سکتورونو کې د نوې تکنالوژۍ د کارونې کچې ټیټوالی.<br>• د لوړې تکنالوژۍ د ترلاسه کولو او کارولو ورو پرمختګ او د ډیجیټلي وېش ټیټېدل. |
| **موکې او فرصتونه** | **ګواښونه** |
| • د پراختیا او حکومتدارۍ لپاره یوه پراخ ملي پالیسي، چې د بسپنه ورکوونکو د معیاري پانګونو او د اقتصاد د مخ پر ودې سکتورونو د پراختیا سره جوړ وي.<br>• د لومړیتوب د ملي پروګرامونو له لارې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ له اجرا څخه د ملاتړ لپاره د بسپنه ورکوونکو ټولنې ژمنه.<br>• مثبت اقتصادي لیدلوری.<br>• په کورني اقتصاد باندې د استخراج او کانونو اړوند فعالیتونو د دندو مثبته اغېزه، د خدمتونو سکتور او د کرنې سکتور د تولیداتو او ګټو پراختیا.<br>• د انساني پانګې ډېرېدل او د کار په بازارونو کې د نویو تکړه او مسلکي وګړو داخلېدل، چې له دې ډلې څخه هر کال ۴۰۰۰ تنه له پوهنتون څخه تازه فارغېږي.<br>• داسې تمه کېږي چې د زېرمو دهلیز، چې استخراجي او د کانونو فعالیتونه له کورني ارزښتناکې کړۍ سره نښلوي، نورو اقتصادي فعالیتونو او ډلو او د خصوصي سکتور پانګونو ته ګټې ورسوي.<br>• د پولې هاخوا ته د کاري ځواک خوځښت، د مسلکي کارګرانو مهاجرت، په بهر کې ترلاسه شوي تنخواګانې او د نویو مهارتونو زده کړه. په بهر کې د خپرو افغانانو ترلاسه شوي شتمنې.<br>• رامنځته کېدونکي سیمه ییزې شبکې کېدای شي په سیمه کې د زیاتې سوداګرۍ او صادراتو سبب وګرځي. | • امنیتي وضعیت د پانګونې او سوداګرۍ په برخه کې د بې باورۍ زیاتوالی.<br>• د تشکیلاتي اصلاحاتو پرمختګ د ویجاړېدونکي سیاسي وضعیت له امله کمزوری شوی دی.<br>• زیاتېدونکي مالي اړتیاوې د حکومت لګښت او پر جغرافیوي پراختیا باندې اغېزه کموي.<br>• د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ستړې برخې او وېشنې لپاره د مرستو جریان، مشترک پلانونه نه عملي کوي.<br>• د ۲۰۱۸–۲۰۱۳ کلونو ترمنځ د هر کال لپاره د اټکل شوي ۶٪–۴ اندازه ودې په پرتله د کورنیو ناخالصه تولیداتو واقعي وده په اوسط ډول ټیټه ده، چې ان د ۲۰۰۴–۲۰۰۳ او ۲۰۱۲–۲۰۱۱ کلونو د ۹٪ د ودې له کچې څخه هم ټیټه ده.<br>• د ۵۰۰،۰۰۰ کارګرو پر بازار باندې فشار ډېرېدل او د نفوسو اوسنی وضعیت ته په کتو سره بنایي دغه شمېره په یوه لسیزه کې تر ۱،۲ میلیونو پورې لوړه شي.<br>• په کورونو کې شخصي کاروبار او کوچنې کمپنۍ د اصلي ګومارونکو په توګه پاتې دي.<br>• کرهنه د تکنالوژۍ د کمښت او لږو تولیداتو له لامله اغېزمنه پاتې ده.<br>• د کانونو او استخراج اړونده سکتورونه پراخې دندې نلري، او په ښه اقتصاد باندې لږ یا هېڅ اغېزه نه کوي، او د تبادلې پر بیې، حکومتدارۍ، د لوی اقتصاد په ثبات او عامه پانګونو باندې ناوړه اغېزې پرېښودلی شي.<br>• د امنیت او بې باورۍ مسایل قانوني مهاجرت کمزوره کوي او د کډوالۍ نوې څپې ته لاره هواروي. |

## ۱،۳ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم اوسنی وضعیت

### ۱،۳،۱ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو حکومتي انستیتیونه / ښوونځي

په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم مهمې پلې کوونکي اداري په لاندې ډول دي:

**د پوهنې وزارت** د تخنیکي اومسلکي زده کړو د معینیت (DM TVET) د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د رسمي سیستم مسؤولیت پر غاړه لري. دغه معینیت درې ریاستونه لري: تخنیکي او مسلکي پروګرامونو ریاست؛ د ښوونکي مسلکي زده کړو ریاست، او د مسلکي نصاب پراختیا ریاست. دغه معینیت د ۱۴۵ تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنود لیسو (له ۱۰ تر ۱۲ ټولګي پورې د شپږ د لیسو په ګډون) او د تخنیکي او مسلکي زده کړو ۱۰۵ انستیتیوتونو (له ۱۳ تر ۱۴ ټولګي پورې) مدیریت، همغږي او څارنه کوي. تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې په اساسي توګه په انستیتیوتونو کې تر سره کیږي او د روزنې زیاتره کورسونه یې له دوو څخه تر پنځو کلونو پورې دوام کوي.

په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کې د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ۲۵۰ ښوونځیو او انستیتیوتونو کې له ټول افغانستان څخه ۸۵۴۱۵ (۸۴۷۰ ښځې) زده کوونکي شامل کړي دي، چې د ۲۵۰ ښوونځیو او انستیتیوتونو له ډلې ۳۹ یې په کابل کې دي. ۲۵۰ ښوونځي او انسټیټیوټونه (۱۴۵ تخنیکي منځنې ښوونځي او ۱۰۵ انسټیټیوټونه) درې کلن کورس برابروي چې د ۱۲ ټولګي سره پای ته رسیږي، او د پاتې دوو کلونو کورس د ۱۴ ټولګي ډیپلوم ورکوي. د ماهرو ښوونکو، د روزنې معیاري نصاب، د روزنې باکیفیته موادو نشتوالی، د تجهیزاتو کمښت او د بریښنا او اوبو کموالی د دغو ښوونځیو او انسټیټیوټونو د فعالیت مخه نیسي. داسې هڅې ترلاس لاندې نیول شوي، چې پخوانی نصاب نوی شي.

په تېرو څو کلونو کې د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرام د کیفیت او کمیت له پلوه ډېره وده کړې ده. په ۲۰۱۳ کال کې د ښوونځیو او انسټیټیوټونو شمېر له ۴۲ څخه ۲۵۰ ته او د ثبت شویو زده کوونکو شمېر له شاوخوا ۱۵۰۰۰ څخه ۸۴۴۱۵ تنو ته لوړ شوی دی. په ۲۰۱۳ کال کې د نویو ثبت شویو زده کوونکو ټولټال شمېر ۲۶۴۴۰ (۴۱۵۳ ښځو) ته رسېدلی، پداسې حال کې چې د فارغانو شمېر ۱۰۷۳۷ (۳۲۴۴ ښځو) ته رسېدلی دی. په ۲۰۱۳ کال کې د وزارت په تخنیکي ښوونځیو او انسټیټیوټونو کې د ښوونکو شمېر ۲۶۵۹ ؤ.

د جغرافیوي وېش له پلوه د تخنیکي او مسلکي زده کړو نویو تعلیمي مؤسساتو رغونه د ولایتونو اوسېدونکو لپاره تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د لاسرسي په برخه کې لازیات فرصتونه برابروي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پراختیا په برخه کې ښه زیری دی، لکه څنګه چې ۱۰ کاله مخکې (۲۰۰۲) د تخنیکي او مسلکي زده کړو نږدې نیمایي تعلیمي مؤسساتو په کابل کې موقعیت درلود. په ۲۰۱۱ کال کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونځیو ۹۶ سلنه (له ۱۰ تر ۱۲ ټولګي پورې) او د تخنیکي او مسلکي زده کړو انسټیټیوټونو ۶۳ سلنه (له ۱۳ څخه تر ۱۴ ټولګي پورې) له کابل څخه بهر په ولایتونو کې واقع وو.

د پوهنې وزارت پلان لري، چې د نالوستو لویانو لپاره له لیک لوست زده کړې سره یوځای تخنیکي وړتیاوې هم وړاندې کړي (د دریم NESP مسوده)

**د لوړو زده کړو وزارت** ۱۷ پوهنتونونه لري، چې د لیسانس او ماسترۍ په سطح زده کړې وړاندې کوي، او ۱۴ د لوړو زده کړو انسټیټونه لري، چې شاوخوا ۱۳۶،۵۰۰ زده کوونکي لري. سربېره پردې، تر ۶۰ خصوصي پوهنتونونه فعال دي، چې زیاتره یې په کابل او نور یې د خوست، کندز او بلخ په ولایتونو کې فعالیت کوي. پر دې سربیره، د لوړو زده کړو وزارت وړاندیز کوي، چې "ټولنېز کالجونه" جوړ کړي، څو داسې فارغان او د منځنۍ کچې بشري ځواک رامنځته کړي، چې د صنعت د اړتیاوو د برابرولو مهارت ولري.

**د کار، ټولنيزو چارو، شهدا او معلولينو وزارت** د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو عمومي رياست له لارې په افغانستان کې د غيررسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عرضه کولو مسؤوليت پر غاړه لري. دغه رياست د ۴۲ دولتی مسلکي روزنيز مرکزونو شبکه اداره کوي، چې له دغې جملې څخه ۲۲ يې فعال دي او د هېواد په ښاري سيمو کې موقعيت لري. په ۲۰۱۳ زيږديز کال کې په ټوليزه توګه ۲۷۹ کارکوونکو د کار او د ټولنيزو چارو وزارت او د مهارتونو د پراختيا د ملي پروګرام سره د تخنيکي او مسلکي زده کړو په برخه کې کار کوي، چې له دې څخه ۱۱۸ تنو د حکومت او ۱۶۱ تنو کار کوونکو د پروژې په چوکاټ کې تنخوا ترلاسه کوي. په ۲۰۱۳ زيږديز کال کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د عملياتي او پراختيايي چارو لپاره د کار او د ټولنيزو چارو وزارت ۹،۸۵ ميليونه امريکايي ډالره بوديجه لري. د تخنيکي او مسلکي زده کړو لپاره د منل شوي ټولټال بوديجې څخه ۱،۳۸۸ ميليونه امريکايي ډالره د دولت لخوا او ۸،۴۶۲ ميليونه امريکايي ډالره نور د نړيوالو مرستندويه ټولنو لخوا برابر شوي دي. د مسلکي روزنې مرکزونه د مهارتونو لنډمهاله روزنيز پروګرامونه وړاندې کوي، چې له ۶ تر ۹ مياشتو دوام کوي. زياتره زده کوونکي ځوانان، لويان، بيکاره وګړي، هغه لوستي وګړي دي، چې د مهارتونو زده کول غواړي، څو د کار بازار ته ننوځي، هغه وګړي چې زده کړې يې نه دي يا بشپړ کړي يا نالوسته وي، د شهيدانو له کورنيو څخه وي او يا معلولين وي، او د ۱۵ او ۴۵ کلونو ترمنځ عمر ولري. په ۲۰۱۲ زيږديز کال کې د مسلکي روزنې په مرکزونو کې ۱۲۰۲۵ زده کوونکي شامل شوي وو او تر ۷۰۰۰ وګړي به په ۲۰۱۳ کال کې وروزل شي.

**د مهارتونو د پراختيا ملي پروګرام (NSDP)** هغه غوره پروګرام دی، چې د کار او د ټولنيزو چارو، شهدانو او معلولينو وزارت تر ادارې لاندې فعاليت کوي. شاوخوا ۵۱۱۷۱ زده کوونکي د هغو روزنيزو پروګرامونو له لارې روزنه ترلاسه کړېده ، چې د مهارتونو د پراختيا د ملي پروګرام له لوري څارل کېږي ېړ د يادونې وړ ده چه د فني او حرفوی مرستو او روزنو د عرضه کولو لپاره د ن غيردولتي مؤسسو او خصوصي روزنيزو مرکزونو سره د داوطلبۍ د پروسې له لارې تړون کېږي. د مهارتونو د پراختيا ملي پروګرام د استندردونو او تعليمی/ روزنيز نصاب د انکشاف د څانګې له لارې په هېواد کې دوړتياوو پر بنسټ د شغلي مهارتونو ملي اسټندردونه (NOSS) رامنځته کوي . تر دې مهاله، د مهارتونو د پراختيا ملي پروګرام د شغلي مهارتونو ۱۵۷ ملي استندردونه جوړ کړي دي او د فني او حرفوي زده کړو او روزنو عرضه کوونکو مؤسسو ته يې ددې استندردونو څخه د ګټې اخيستلو په هکله روزنه ورکړېده، چې څرنګه د کاري مهارتونو د ملي معيارونو پر بنسټ نصاب جوړ او وکاروي ورکړي.

**د ښوونې او روزنې او مهارتونو د پاليسی کمېټه (CESP)**، چې د ولسمشر د لومړي مرستيال د دفتر تر ادارې لاندې فعاليت کوي، د افغانستان د قابليتونو د تثبيت د ملي ادارې (ANQA) او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ لپاره د حقوقي، قانوني او عملياتي چوکاټونو د طرح کولو په حال کې ده. لکه څنګه چې د ښوونې او روزنې او مهارتونو د پاليسی کمېټه او د مهارتونو د پراختيا ملي پروګرام د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم لپاره د معيارونو په پراختيا کار کوي داسې تمه کېږي چې د مخکينيو زده کړو او غيررسمي روزنو د پېژندنې او تصديق لپاره يو ميکانيزم رامنځته شي.

د سکتور پر اساس عامه روزنيزې ادارې د لاندې وزارتونو لخوا پرمخ وړل کېږي: د معلوماتو او تکنالوژۍ وزارت، د ټولګټو وزارت، د ټرانسپورټ او هوانوردۍ وزارت، د ماليې وزارت، د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت، د کورنيو چارو وزارت او د عامې روغتيا وزارت. هر وزارت د روزنېزو چارو لپاره ځان ته بوديجه او کارکوونکي لري. د تخنيکي او مسلکي زده کړو په برخه کې عامه شموليت (د لوړو زده کړو وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو برخه په پام کې نه ده نيول شوې) د ښوونې او روزنې د ټولټال زده کوونکو ۴۴٪ برخه تشکيلوي.

### ۱،۳،۲ د فني او حرفوي زده کرو او رونو د عرضه کولو خصوصي روزنېزې مؤسسې او غیردولتي مؤسسې / اداري

په افغانستان کې خصوصي سکتور د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو تر ټولو لوی عرضه کوونکی دی (۵۰،۷ سلنه). اوسمهال په هېواد کې ۴۰ جواز لرونکي خصوصي اداري فعالې دي او ۱۲۰ نورې اداري د پوهنې وزارت لخوا د جواز ترلاسه کولو په حال کې دي. د خصوصي سکتور انتفاعي روزنیزې اداري په عمده ډول د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ، مدیریت، محاسبې او ژبو (زیاتره انګریزي) په برخو کې نږدې ۱۵۰،۰۰۰ زده کوونکو ته روزنه ورکوي.

د ښوونې او روزنې په برخه کې د تصدیقولو د سیستم یا کاري چوکاټ د نشتوالي او د مسلکي زده کړو لپاره د ملي معیارونو د نشتوالي له کبله ښوونیزې اداري ثبت شوې او تصدیق شوې نه دي او روزنیز پروګرامونه د اعتبار وړ نه دي، له همدې کبله د زده کړې تصدیق لیکونه او اعتبار ورکول خپلسري شوي دي. دغه حالت د فارغ شویو زده کوونکو د لیاقت په اړه ګومارونکو ته د اعتبار وړ معلومات نه وړاندې کوي، او زده کوونکي د یوې سمې دندې ترلاسه کولو یا د زده کړو د دوام لپاره له پېژندل شویو شرایطو څخه بې برخې کوي.

نادولتي اداري نږدې ۳۰،۰۰۰ زده کوونکو ته زیاتره د لومړني مسلکي مهارتونو په برخه کې روزنه ورکوي (۱۰،۱ سلنه). په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام (NSDP) له لوري د ترسره شوي سروی پر بنسټ (چې په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د برابرولو د څرنګوالي په اړه لومړنی معلومات ګڼل کېدای شي)، په هېواد کې اوسمهال ۱۰۰ ملي او نړیوالې نادولتي اداري مسلکي زده کړې وړاندې کوي.

هر کال د ۳۰،۰۰۰ شاوخوا زده کوونکو د شمولیت لپاره ظرفیت موجود دی، او په دواړه کلیوالي او ښاري سیمو کې روزنه ورکول کیږي. د روزنیزو پرګرامونو موده له دریو څخه تر اتلسو میاشتو پورې ده. د دغو نادولتي ادارو د تصدیق او اعتبار په برخه کې هېڅ سیستم نشته. د دغو نادولتي ادارو (انجوګانو) روزنې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د رسمي سیستم له مخې په رسمیت نه دي پېژندل شوي، چې دا پدې معنا ده چې زده کوونکي نشي کولی په نورو برخو کې په آسانۍ سره خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او په خپل مسلک کې د لوړو زده کړو مهارتونو ته لاسرسی ومومي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فرعي سیستمونو لخوا د برابرو شویو مهارتونو لنډیز په لاندې ډول دي:

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو په اړه عمومي معلومات**

| د وړاندې کوونکو ډول | سطح | رسمي/غیررسمي | اداره کوونکی |
|---|---|---|---|
| د تخنیکي او مسلکي زده کړو دولتي انستیتیوتونه | له ۱۳ ټولګي څخه تر ۱۴ ټولګي پورې | رسمي | د پوهنې وزارت |
| د تخنیکي او مسلکي زده کړو دولتي لیسې | له ۱۰ ټولګي څخه تر ۱۲ ټولګي پورې | رسمي | د پوهنې وزارت |
| د تخنیکي او مسلکي زده کړو عامه روزنیز مرکزونه | لنډمهاله (له ۶ میاشتو څخه تر ۱۲ میاشتو پورې) | غیرمتعارف | د کار او د ټولنیزو چارو وزارت، د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام |
| د تخنیکي او مسلکي زده کړو خصوصي روزنیزې اداري<br>د نادولتي ادارو لخوا د تخنیکي او مسلکي زده کړو برابرول | د پاسنیو دورو په حدودو کې یوه مختلفه دوره | دواړه رسمي او غیر رسمي | ټولې یې د پوهنې وزارت، د کار او د ټولنیزو چارو وزارت او/یا د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام سره اړیکه نه لري. |

سرچینه: د کار نړیوالې اداري وبپاڼه "د تقاضا له مخې د وړتیاوو پراخول"، کنفرانس دوامداره دندې رامنځته کول، د ۲۰۱۳ کال د می میاشت، کابل، په افغانستان کې د امریکې د نړیوال پراختیایي اداري د کاري ځواک د پراختیا څخه اخیستل شوی، د مهمو معلوماتو غیر رسمي لنډیز، ۲۰۱۲.

په افغانستان کې د تخنیکي مهارتونو تر ټولو ستر وړاندې کوونکی هماغه د کار زده کړې غیررسمي پخوانی سیستم دی، چې دا هم د کارموندنې لپاره د یوې ګټورې لارې په توګه پېژندل کېږي. د خلکو د خولې کیسې دا روښانه کوي، چې په هېواد کې د کارزده کړې غیررسمي پخوانی سیستم هر کال د نږدې ۳۰۰،۰۰۰ زده کوونکو ظرفیت لري، په دې سره ویلی شو، چې دا سیستم د افغانستان د تخنیکي مهارتونو ترټولو لوی برابرونکي دی.

د کار نړیواله اداره (ILO) اټکل کوي، چې د ۵۳۰،۰۰۰ مسلکي دندو (کوچنیو کمپنیو) له ډلې ٪۶۰ یې له ۵ تنو لږ کارکوونکي لري. د FACT "خونې" د ۷۵،۰۰۰ بازاري مسلکي دندو په حدودو کې، په اوسط ډول ۵ کسان ګومارل شوي، چې ۳ تنه یې مسلکي کارګران او ۲ تنه د کار زده کوونکي دي.

د GIZ یو لنډمهاله اټکل ښیي چې د ۶۰۰،۰۰۰ او ۱ میلیون ترمنځ زده کوونکي د بازار په کوچنیو کمپنیو په مسلکي دندو کې کار کوي. که دا تایید شي نو د غیررسمي کار زده کړې سیستم به د تخنیکي او مسلکي زده کړو د رسمي سیستم په پرتله لس برابره زیات د مهارتونو د لېږدولو ظرفیت ولري.

### ۱،۳،۳ د تخنیکي او مسلکي زده کړو همکارو ډلو او ونډې ته عمومي کتنه

د خصوصي روزنیزو ادارو او نادولتي ادارو په ګډون د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو ټولې دندې یوازې د یو وزارت لخوا نه څارل کېږي. د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو د دولتي لیسو او انستیتیوتونو معلومات راټولوي، پداسې حال کې چې د کار او د ټولنیزو چارو وزارت له خپلو مسلکي روزنیزو مرکزونو څخه معلومات راټولوي. مګر د تخنیکي او مسلکي زده کړو له خصوصي او نادولتي ادارو څخه نه د پوهنې وزارت او نه هم د کار او د ټولنیزو چارو وزارت پراخه څارنه ترسره کړې. دغه معلومات د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فرعي سکتور په برخه کې د پلان جوړونې او پانګونې په موخه ډېر مهم دي. د خصوصي او نادولتي ادارو له تخنیکي او مسلکي زده کړو وړاندې کوونکو څخه د څارنې د نه کولو په صورت کې حکومت د تخنیکي او مسلکي زده کړو کابو ۸۰ سلنه زده کوونکو په اړه معلوماتو څخه محرومېږي.

په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو سیمې د بېلابېلو ملي فعالینو او د نړیوالو پراختیایي همکارانو لخوا د پروژو او پروګرامونو په مرسته تر پوښښ لاندې نیول شوي دي. د همکارو ادارو فعالیتونو ته لنډه کتنه د تخنیکي او مسلکي زده کړو هغه ساحې په ګوته کوي، چې هغوی ورسره مرسته او کار په کې کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ملي ستراتیژۍ هدف دا دی، چې د حکومتي او ملي همکارو ډلو او هم د نړیوالو پراختیایي همکارانو ترمنځ د لازیاتو همکاریو لپاره یو پیاوړی اساس جوړ کړي او ددې ترڅنګ په راتلونکي کې د غوره همغږي شویو پروګرامونو لپاره لارښوونې او لومړیتوبونه روښانه کړي.

لومړی شکل: د تخنیکي او مسلکي زده کړو همکارۍ ډلې او دنده




سرچینه: د ۱۳۹۱/۲۰۱۲ کال د زده کړې مشترک سکتور ته کتنه، د افغانستان اسلامی جمهوریت، ۲۰۱۲

## ۱،٤ په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم ننګونې

په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم په تېرو څو کلونو کې پرمختګ کړی دی، په تېره بیا د قانوني او د پالیسي چوکاټ، د کیفیت د څارنې د داخلي او بهرنیو نیو میکانېزمونو په اړه د خبرو اترو، د مشارکتي حکومتداری ټېرولنې ، د کاري ډلو د جوړولو، د افغانستان د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت د ملي چوکاټ (ANQF) په اړه د لومړنیو چارو د ترسره کولو، د شغلي مهارتونو د ملیاستندردونو د جوړولو او د ښوونکو د روزنې په برخه کې پرمختګ کړی دی.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو سیستم هڅه کړې ده، چې په هغو ګټورو سکتورونو کې د مهارتونو د پراختیا اړتیاوو ته پاملرنه وکړي، چې ډېر پرمختګ او د د کار د فرصتونو د رامنځته کولو وړتیا لري، لکه د کرنې او د کلیو د پراختیا سکتور، د رغولو او ودانولو سکتور، د سوداګرۍ او کاروبار سکتور، د کانونو سکتور، د ټرانسپورټ سکتور، د صنعت سکتور، د برېښنا او اوبو سکتور، د سیاحت، روغتیا او د تغذیې سکتورونه.

روزنيزو فرصتونو ته د لاسرسي په برخه کې هم د پام وړ پرمختګ شوی دی، په تېره بيا دا پرمختګ په ټول هېواد کې د روزنيزو انستيټيوتونو د ودانولو او رغولو له لارې رامنځته شوی دی. د تخنيکي او مسلکي زده کړو په برخه کې د نوم ليکنې لپاره په عمومي ډول ۲۳۸،۰۰۰ ظرفيت اټکل شوی دی، او هر کال د نويو زده کوونکو د جذبولو لپاره تر ۱۳۰،۰۰۰ تنو پورې ظرفيت اټکل شوی دی. د تخنيکي او مسلکي زده کړو په ليسو او انستېټيوتونو کې د جذبولو کلنی شمېره پنځه برابره زياته شوې ده، چې د اټکل له مخې د ۲۰۰۷ /۲۰۰۸ کلونو له ۲۰،۰۰۰ تنو څخه سږ کال تر ۷۰،۰۰۰ تنو پورې رسېدلی دی، خو د تخنيکي او مسلکي زده کړو له ليسو او انستيټيوتونو څخه د فارغ شويو زده کوونکو لپاره د دندو شمېره ډېره ټيټه پاتې شوې ده، دا ځکه چې د ترلاسه شويو مهارتونو پايلې لاهم ډېرې کمزورې دي، چې اصلي دلايل يې د سيستم نيمګړتياوې، کمښتونه او د خدمتونو د وړاندې کوونکو ټيټ ظرفيت دی.

له دې ټولو سره سره د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اصلاح کولو پروسه په لاندني برخو کې ډېرې پراختيا، همغږۍ او لا اصولي او منظم کېدو ته اړتيا لري لکه د سيستم هراړخيزه اداره او کنترول ترڅو ټولنيز همکاران را دخيل شي، زده کړې ته د لاسرسي وړتيا ډېرول او د کار له بازار سره د روزنيزو پروګرامونو همغږي، د روزنيزو فرصتونو را جذبول ترڅو په دې برخه کې تقاضا ډېره، د زده کړو کيفيت لوړ، د زده کوونکو له اړتياوو سره د زده کړو ملايموالی، او د مالي مرستو دوامداره کول.

### ۱،۴،۱ مدېريت

په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم واحده اداره نه لري، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بېلابېلو عرضه کوونکو مؤسسو تر منځ همغږي نشته او معياري قابليتونه هم نه لري لاندني ټکي په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم د مدېريت مهم عناصر تشريح کوي:

۱. د پوهنې وزارت تر اداري لاندې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو مؤسسات د منځنۍ کچې په تخنيکي فارغانو تمرکز کوي، چې ۱۲ او ۱۴ ټولګي دي (تکړه تخنيکران).

۲. دولتي او خصوصي کمپنۍ، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو عرضه کوونکې غېر دولتي او خصوصي مؤسسې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونه وړاندې کوي.

۳. د غير رسمي/ نيمه رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو اداري يا کورسونه او پروګرامونه د کار، ټولنيزو چارو ، شهيدانو او معلولينو وزارت، غېر دولتي ادارو او خصوصي سکتور لخوا پر مخ وړل کېږي، چې بېلابېلو د کار زده کوونکو لکه د ښوونځي پريښودونکو، دنده لرونکو، له ښوونځي څخه ايستل شويو او د کار په بازار کې نورو ګوښه پاتې ډلو لپاره د ندو موندلو په موخه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونه وړاندې کوي. دغه پروګرامونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د رسمي پروګرامونو برعکس تراوسه پورې په منظمه توګه نه وړاندې کېږي. په غير رسمي او نيمه رسمي ډول د ترلاسه شويو تخنيکي او مسلکی زده کړو او روزنو لپاره په رسميت پېژندل شوی سند نشته ترڅو ترلاسه شوي زده کړې او روزنې په رسمي بڼه تصديق کړي.

۴. د مهارتونو زده کړې د قابليتونود تثبيت په تاړيد شوي سيستم پر بنسټ ولاړې نه دي، او د روزنو هر وړاندې کوونکی د خپلې خوښې برې ليکونه فرغ شويو کسانو ته ورکوي.

۵. غيررسمي روزنه ډېره خپل سرې او په هر ځای کې عرضه کېږي، خو د ارزونې او تصديق لپاره د يو منظم سيستم د نشتوالی له کبله اوس‌مهال هېڅ داسې ميکانيزم نشته چې غيررسمي شغلی يا حرفوی زده کړې په رسميت وپېژني.

۶. په ټولو کچو کې ذيدخله مؤسسات / اداري (سکتوري، محلی/سيمه ييز، ملي او نړيوالې) د موخو د ټاکلو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د پروګرامونو د منظمې اجرا او څارنې لپاره اصولي تګلارې نه لري.

۷. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د ښوونې او روزنې او مهارتونو د پالیسی کمېټې (CESP) لخوا تر جوړېدو لاندې دی، چې د افغانستان د قابلیتونو د وړاندیز شوي ملي اداري په چوکاټ کې راځي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د بېلابېلو سکتورونو لکه وزارتونو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عرضه کولو دولتي او خصوصي مؤسسې او د بسپنه ورکوونکو/ ډونرانو ټولنو د استازو څخه جوړېږي. د ښوونې او روزنې او مهارتونو د پالیسی کمېټې د افغانستان د قابلیتونو د تثبیت د ملي اداري قانون جوړ کړی دی، همدارنګه دغه ادارې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ او هم د افغانستان د قابلیتونو د تثبیت د اداري لپاره د معیاري کړنو طرزالعملونه رامنځته کړیدي.

## ۱،٤،۲ د ټولو لپاره لاسرسی

په افغانستان کې تخنیکي او مسلکي زده کړه او روزنه زیاتره په مرکز کې صورت مومي او د ښوونې او روزنې په عمومي سیستم کې د رسمي او غیر رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ترمنځ اړیکې هم لږ دي، چې دا کار د زده کوونکو لپاره د زده کړې د دوام په موخه فرصتونه محدودوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو فرعي سکتور د تګلارې بدلون ته اړتیا لیدل کېږي. د زیاتره افغانانو په ذهنیت کې (لکه څنګه چې د نړۍ په نورو برخو کې هم همداسې ده)، تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې ته د دویمې درجې زده کړې په توګه کتل کېږي. ددې تر شا یو دلیل دا کېدای شي، چې زده کوونکي یوځلي د ۱۲ ټولګي تصدیق یا له تخنیکي ښوونځیو یا انستیتیوتونو څخه د ۱۴ ټولګي ډیپلوم ترلاسه کوي، بیا پوهنتون ته د لوړو زده کړو په موخه د کانکور آزموینه ورکوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونځیو او انستیتیوتونو کې شامل زده کوونکي وایي چې هغوی لېواله دي چې د لوړو زده کړو په یوه اداره کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. د مسلك په لاره کې د لارښوونو نشتوالی پر وګړو او له ټولنیز پلوه د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو پر پېژندنې منفي اغېزه کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو په زیاتره ادارو کې اوسني شرایط د تخنیکي او مسلکي زده کړو د دویم ځای لرلو مفکورې د بدلون لپاره ګټور نه دي. د عملي مهارتونو د برابرولو او پر کتابونو او لکچرونو د تمرکز ناتواني، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو هغه ښوونکي چې زیاتره علمي بیوګرافي لري خو هېڅ تخنیکي او صنعتي تجربه نه لري، دا ټول د زده کړې د سکتور په اړه هغه لیدلوری نفی کوي، چې د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ لپاره د یوې مهمې لارې په توګه د اړوندو وړتیاوو لرونکی کاري ځواک رامنځته کوي. تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته د لږه لاسرسی یوازې د فزیکي آسانتیاوو شتونتیا پورې تړلې نه ده، که څه هم د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیمه ییز پوښښ او د فرصتونو برابرول له بشپړېدلو څخه لرې دي.

## ۱،٤،۳ کیفیت

د کیفیت او اغېزمنتیا په برخو کې نیمګړتیاوې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د ټولو برخو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د برابرولو په ټولو اړخونو کې د اندېښنې وړ خبره ده .

تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې یو نوي او باکیفیته مدیریتي سیستم ته اړتیا لري. د نړیوالو غوره تجربو په اساس، په افغانستان کې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې پدې لټه کې دي، چې د شغلي معیارونو پر بنسټ یو داسې سیستم رامنځ ته کړي، چې پر نصاب متمرکزه اوسنۍ تګلاره بدلوي او د ارزونې لپاره داسې سیستم جوړوي چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د رسمي، نیمه رسمي او غیررسمي پروګرامونو د فارغینو او نوماندانو پرمخ خلاص وي.

د شغلي معیارونو سیستم او د معیار پر اساس ارزونه او تصدیق په ګډه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اصلاحاتو د هڅو اساسي برخه ګڼل کېږي ترڅو سیستم لامناسب، د تقاضا په اساس او د لاسرسی وړ وګرځوي. دا کار لازیات فکر کولو او ګړندیو اجراآتو ته اړتیا لري.

د کیفیت لوېې ننګونې د روزنو درسي توکو، تجهیزاتو نوي کول، هغه میتودونه او تګلارې دي، چې د روزنې د یو وړاندې کوونکي او بل ترمنځ توپیر لري، او د قابلیت پر اساس د روزنیزو توکو او د ارزونې د سیستمونو نشتوالی دی.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو/روزونکو د اساسي ډلې نشتوالی، په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پراختیا په لاره کې له مهمو خنډونو څخه ګڼل کېږي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو/روزونکو کیفیت د هغوی د مسلک د اعتبار د کموالي له کبله ټیټ دی. د تخنیکي او مسلکي زده کړو زیاتره ښوونکي/روزونکي نسبتاً لږ رسمي زده‌کړې او قابلیتونه لري، چې دا کار د لوړې سویې مهارتونه او تخنیکي او مسلکي زده کړې په کلکه اغېزمنې کوي. سربېره پر دې ، مسلکي ښوونکي ټیټه روحیه، ټیټ ټولنیز او تخنیکي شهرت او لږ تنخوا لري. زیات شمېر کسان نه غواړي، چې تخنیکي ښوونکي شي خو د وروستي انتخاب په توګه د تخنیکي ښوونکي په صفت ګومارل کېږي، دا ځکه چې دوی له دې پرته بل انتخاب نه لري.

### ۱،٤،٤ مالي چارې

د ښوونې او روزنې سکتور د عامه لګښتونو په برخه کې د ۲۰۱۲- ۲۰۱۳ کال بودیجې زیاتوالی د تخنیکي او مسلکي زده کړو د عامه سکتور د تشکیل د غیرکافي مالي مرستو یوه لږه اندازه برابره کړې ده.

تراوسه د کمپینو د هڅونې لپاره داسې سیستم نه دی طرح شوی ، چې دکار په ځای / داخل خدمت روزنیز مرکزونو له لارې کارمندانو ته روزنه ورکړي. هغه خصوصي روزنیزې ادارې چې د مهارتونو د پراختیا د ملي پروګرام یا NSDP له خوا د وړاندیزونو (پروپوزل) له لارې د تخنیکي او مسلکي زده کړو مالي مرستو ته لاسرسی لري، هغوی دې ته نه اړی ویستل شوي، چې د قابلیتونو د کیفیت معیارونه په پام کې ونیسي او همدارنګه د لګښتونو لپاره مناسب میکانیزم هم موجود نه دي.

اوکه تخنیکي او مسلکي زده کړې په اساسي توګه په مرکز کې ورکړل شي، نو لګښت به یې لوړ وي، چې دا کار په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د برابرولو د انحصاري حالت څرګندویي کوي. لکه څنګه چې د نړۍ په نورو هېوادونو کې عام دی، په افغانستان کې هم د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرامونه د عمومي زده کړې په پرتله ډېر لوړ لګښت لري، چې په دې زده کړو کې د ښوونکي په نسبت د زده کوونکو شمېر لږ وي، پراخې پانګې اچونې ته اړتیا لري او د عادي لګښتونو او د عملي روزنې د اجرا په برخه کې د عملیاتي چارو او د کار کوونکو د استخدام لپاره اضافي منابعو ته اړتیا لري.

د عامه حسابدارۍ د قانوني چوکاټ پر بنسټ د مالي امکاناتو میکانیزم اصلاح شوی دی، چې دا کار د منابع او پایلو ترمنځ اړیکه رامنځته کوي، سرچینې متنوع کوي، لګښتونه سپموي او هغه موخې ترلاسه او کیفیت تضمینېدلی شي، چې د مرکز په کچه د چارواکو په پلانونو کې راغلي دي. د دغه میکانیزم د نشتوالي په صورت کې، د بودیجې په لاره کې شته ننګونې به د کیفیت، لاسرسي او د تخنیکی او مسلکي زده کړو د جذبولو ستونزې لازیاتې کړي او د زده کړو پوښښ به دومره پراخ نه شي څومره چې لازم دی څو د اقتصادي مهارتونو په برخه کې اقتصادي تقاضا او د ټولنیزې تقاضا په برخه کې اتباعو مهارتونه لوړ شي.

### ۱،٤،٥ په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اوسني وضعیت د تحلیل لنډیز

د مسلکي زده کړو او عمري زده کړو اوسني داخلي وضعیت لنډیز لاندني تمایلات څرګندوي:

| پیاوړتیاوې | کمزورتیاوې |
|---|---|
| • د پالیسي یو قوي کاري چوکاټ: د افغانستان د ملي پراختیا تګلاره (ANDS)، NESP (۱، ۲ ،۳)، NEIP، د لومړیتوب ملي پروګرام ۱ (NPP1)<br>• ملي پروګرامونه: د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام، د ښځو چارو د وزارت پلان، د لومړیتوب لومړی ملي پروګرام (NPP1)<br>• د مدیریت (حکومتداري) او همغږۍ اداري: د بشري منابعو د پراختیا بورډ، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اړونده تخنیکي کاري ډله (TVET TWG)، د زده کړې او د وړتیاوو د پالیسی کمیټه (CESP)<br>• د بسپنه ورکوونکو د همغږۍ میکانیزم<br>• د تخنیکي او مسلکي زده کړو د عمومي سیستم سمون او د ځانګړو برخو په هکله نړیوال نوښتونه.<br>• د وړتیاوو او مهارتونو د تثبیت د ملي چوکاټ په ګډون د کیفیت د تضمین او څارنې د داخلي او بهرنیو میکانیزمونو لپاره نظرونه<br>• د ښوونې او روزنې او د تخنیکي او مسلکي زده کړو په سکتور کې عامه لګښتونه زیات شوي دي<br>• د عامو خلکو لخوا د تخنیکي او مسلکي زده کړو برابرول زیات شوي دي.<br>• په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې شمولیت ډېر شوی دی<br>• په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د جلب او جذب د زیاتولو لپاره ارتباطی کمپاین پلان شوی دی<br>• د هڅونې او تشویق سیستمونه معرفي شوي دي<br>• د تخنیکي زده کړو او د لوړو زده کړو ترمنځ تحرک او اړیکو لارې په ګوته شوي دي<br>• د لویانو د لوست (سواد) او د تخنیکي مهارتونو د پروګرام ترمنځ شته اړیکې تعریف شوي او ارزول شوي دي | • د مهمو همکارو ډلو د مدیریت او همغږۍ سیستم مشخص شوی نه دی.<br>• د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مدیریت، اجرا، څارنې او ارزونې لپاره په درې اړخیزو جوړښتونو کې د ټولنیزو ملګرو ګډون منظم نه دی.<br>• د مدیریت معلوماتي سیستم، د څارنې او ارزونې کمزورتیا<br>• وړاندې کېدونکي مهارتونه د بازار له اړتیاوو سره لږ تړاو لري، همدارنګه له صنعتي کارخانو او سکتورونو، د کار بازار معلومات او تحلیل، او د څارنې پروګرام کمزورې اداري او عملیاتي اړیکې او نږدېوالی ډېر نه دی.<br>• محدود لاسرسی: د تخنیکي او مسلکي زده کړو د عامه او خصوصي وړاندې کوونکو د جلب او جذب ظرفیت او پوښښ، نوملیکنه او د ګوښه پاتې ډلو لږ لاسرسی.<br>• د غیررسمي کارزده کړې سیستم سره د اړیکې نشتوالی.<br>• د رسمي او غیررسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو، رسمي زده کړو ترمنځ د اړیکو او تحرک کمښت.<br>• د مهارتونو د لیږدولو کم کیفیته سیستم، (د کیفیت تضمین، د قابلیتونو د تثبیت ملي چوکاټ، رجسټرکول، اعتبارورکول، کریډېټ، د ارزونې او تصدیق میکانیزمونه تصویب شوي نه دي).<br>• د تخنیکي او مسلکي زده کړو د جذبولو کمزوره وړتیا او د دندو د لارښود نشتون.<br>• د مالي ثبات له اړخه د سیستم کمزورتیا. |

| موکې | ګواښونه |
|---|---|
| • د تخنيکي او مسلکي زده کړو ملي ستراتيژۍ د سمون لپاره لارښوونې وړاندې کوي، د ملي پروګرامونو له لوري د اقداماتو لپاره ساحې برابروي او له نړيوالو بسپنه ورکوونکو سره همغږي رامنځته کوي او په دې اړه لارښوونې برابروي.<br>• د تخنيکي او مسلکي زده کړو پېژندل شوې او مجهزه ملي اداره د تخنيکي او مسلکي زده کړو مديريت، اړيکې او د کيفيت تضمين پياوړی کوي.<br>• د ملي وړتياوو او مهارتونو د تثبيت تصويب شوی چوکاټ د رسمي زده کړو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو تر منځ تحرک رامنځ ته کوي او د قابليتونو د زده کړې سويې په ګوته کوي.<br>• د ټولنيزو همکارانو ګډون د وړتياوو عرضه د مخ پر ودې اقتصادي سکتورونو لپاره له تقاضا سره سم برابروي.<br>• د قابليتونو پر اساس ولاړ نصاب او د موډيول روزنيز پروګرامونه (کورسونه) چې د شغلي مهارتونو د اوسني ملي معيارونو (NOSS) پر بنسټ طرح شوي دي، د پروګرامونو د انعطاف وړتيا زياتوي او د وړتياوو د پراختيا په پروګرامونو کې د بېلابېلو ټاکل شويو ډلو د ګډون لپاره فرصتونه پراخوي.<br>• نوي شغلي (وظيفوي) معيارونه چې د زده‌کړو او قابليتونو د بېلابېلو سويو لپاره طرح شوي دي، د مخ پر ودې سکتورونو د تقاضا په برخه کې وړتياوې زياتوي.<br>• په کارځای کې د روزنې لپاره تشويقي هڅې، د رسمي کارز ده‌کړې سمون او د خصوصي سکتور مشارکت د وړتياوو اړيکه او نږدې‌والی زياتوي.<br>• د غيررسمي او پخوانې کارزده کړې او د ښوونځي روزنې او د کارځای غوره تنظيم شوې روزنې ترمنځ اړيکې د ځپل شويو ډلو د لاسرسي وړتيا زياتوي.<br>• د کاري تجربې له لارې د ترلاسه شويو مهارتونو او د پخوانيو زده کړو ثبت او تصديق د مخ پر ودې صنايعو له غوښتنې سره سم د تکړه کارګرانو اندازه زياتوي.<br>• زيات ملي او نړيوالې منابع د روزنيزو ادارو شمېره زياتوي، د اوسنيو روزنيزو ادارو سطح لوړوي، د | • د تخنيکي او مسلکي زده کړو ملي اداره چې په بشپړه توګه تصويب شوې نه وي او کافي منابع ونلري، د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ادارو د جلاوالي او ټوټه والي ستونزه نشي هوارولی.<br>• د تخنيکي او مسلکي زده کړو په اړه د ټولنيز تفاهم نشتوالی د کار له بازار سره د زده کړو تړاو، د زده کړو اغېز، ګټورتيا او د اصلاحاتو د دوام کچه ټيټوي.<br>• د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ملي اداري د نشتوالي په صورت کې، چې مديريت، د کيفيت دتضمين سيستم باوري کړي، د کار بازار معلومات او تحليل کړي د مديريت معلوماتي سيستم، R&D او د هڅونې لپاره يو منظم ميکانيزم باوري کړي، په تخنيکي او مسلکي زده کړو (نصاب، روزنيز پروګرامونه، ارزونه او تصديق) شرکتونه او کمپنی را شاملې کړي. په دې سره تخنيکي او مسلکي زده کړې په مؤثر ډول نه عرضه کېږي. هغه ګواښ چې سيستم به د تخنيکي زده کړو به عرضې متکي پاتې کېږي، او د نصاب او پروګرام په برخه کې لږ پانګه اچول کېږي ترڅو د تقاضا په اساس د نويو دندو لپاره قابليتونه وړاندې کړي، او هم د سيستم د جذب وړتيا ټيټه پاتې کېږي.<br>• اوکه د معياري کولو، همغږي کولو او باکيفيته سيستمونه تصويب نه شي نو د تصديق شويو او باصلاحيته ګمارونکو لخوا پېژندنه او تشخيص، د تنخواګانو او کاري شرايطو يو شان اندازه، همدارنګه د زده کوونکو د جذبولو وړتيا چې په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې شامل شي، په اوسني ټيټه سطح کې پاتې کېږي.<br>• د اعتبار ورکولو او د ثبتولو سيستمونو د نشتوالي په صورت کې د خصوصي عرضه کوونکو کيفيت، تخنيکي وړتيا او وړانديز د کيفيت د معيار په وړاندې نه اندازه کېږي او ورکړل شوی تصديق د قابليتونو او د شرايطو له رسمي سطحو سره جوړ نه راځي.<br>• اوکه د پخوانيو زده کړو د ثبت سيستمونه جوړ نه شي نو د لاسرسي پراخولو او د زيانمنوونکو د |

| | |
|---|---|
| تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو د جلب او جذب ظرفیت پراخوي او په لرې پرتو سیمو کې د غوره پوښښ او محرومو ډلو ته پاملرنه تضمینوي.<br>• د اوسنیو ښوونکو بیاروزل، د تکړه ښوونکو ګومارل او د مدیرانو د سطحې لوړول د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو سیستم پیاوړی کوي.<br>• د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ادارو ډېر مسؤولیتونه او خپلواکي د هغوی د جذبولو ظرفیت او په سیمه ییزو کاري بازارونو کې د ځواب ورکونې وړتیا زیاتوي.<br>• د تخنیکي او مسلکي زده کړو څېړنه او پراختیا د روزنې میتودولوژۍ ته وده ورکوي او د نویو کارونو او دندو په برخه کې د پروګرامونو وړاندیزونه زیاتوي.<br>• د لګښت سپمولو او بېرته ترلاسه کولو ترڅنګ د مالي مرستو متنوع میکانیزم د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پروګرامونو ټینګښت، مالي وړتیا، او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ادارو د پانګونې ظرفیت تضمینوي. | شاملولو ظرفیت ټیټ پاتې کیږي.<br>• د همغږۍ او مالي مرستو لپاره د واحد میکانیزم د نشتوالي له لامله د لومړیتوبونو ټاکنه د نړیوالو مرستو له لوری پرمخ وړل کیږي.<br>• عامه روزنیزو ادارو ته د صلاحیتونو او اختیاراتو د لیږد کموالی د عرضې ظرفیت، د کارځای او د کارزده کړې د روزنې لپاره له ګمارونکو سره ګډ کار کول، پر نوي نصاب، پروګرامونو، تجهیزاتو او توکو پانګه اچول، د روزونکو کیفیت او د زیانمنوونکي ډلو لپاره د روزنیزو وړاندیزونو د پرمختګ فعالیتونه، اغېزمنوي.<br>• د یوې داسې اداري نشتوالی، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د څېړنې او پراختیايي چارو د همغږۍ مسؤولیت ولري، د نوي لومړیتوبونو د پېژندلو او د پانګه اچونې لپاره د ترلاسه کېدونکي هدفونو د ټاکلو څخه مخنیوی کوي.<br>• اوسني مالي میکانیزمونه چې ټول یې له مرکزي بودیجو او نړیوالو مرستو سره تړلي دي، د عرضه او تقاضا ترمنځ شته درز او نیمګړتیاوې تلپاتې کوي او د سمون او اصلاحاتو ټولې هڅې کمزورې کوي. |

# ستراتیژیک لیدلوري، ماموریت او موخې



## ۲ ستراتیژیک لیدلوری، ماموریت او موخې

### ۲،۱ لیــدلوری

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتیژي په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او د مهارتونود پراختیا سیستم لپاره یو کم لګښته او مؤثر لیدلوری طرح کوي، چې د هېواد د اقتصادي او ټولنیزو پراختیایي پلانونو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي او ماهر او پر ځان بسیا اتباع (سړي او ښځې) چمتو کوي کوي، تر څو له همدې لارې د ټولو افغانانو معیشت وده او پرمختګ کوي.

### ۲،۲ ماموریت

د ستراتیژۍ موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره د عصري، له اړتیاوو سره برابر، ځواب ورکوونکي، هراړخیز او عادلانه سیستم جوړول دی، چې د افرادو لپاره د غوره کیفیت زده کړې او زیاتې دندې برابرې کړي، د شرکتونو او کمپینو لپاره د ډېرو تولیداتو فرصت چمتو کړي او د ټولنې لپاره د ودې او پرمختګ زمینه رامنځ ته کړي. د ستراتیژۍ موخه دا ده چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فعالینو نقش، مسؤولیتونه، جوړښتونه او اړتیاوې روښانه کړي، د فعالیتونو له تکرار څخه مخنیوی وکړي او د بېلابېلو همکارو ډلو ترمنځ همکاري زیاته کړي. دغه ستراتیژي به د عرضې او تقاضا د موضوعاتو له مخې د زده کړې او د روزنې د وړاندې کوونکو او د کار د بازار ترمنځ اړیکې ټینګې کړي، او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ستراتیژیک پلان په جوړولو او اجراء کې د برابرۍ، لاسرسي او کیفیت هراړخیزو موضوعاتو ته ځای او پراختیا ورکړي.

### ۲،۳ موخې

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ملي ستراتیژي عمومي موخه په افغانستان کې د یو ماهر، خوځنده، مناسب او نوښتګر کاري ځواک رامنځ ته کول دی، چې د بېوزلۍ په کمولو او په ټولنیز او اقتصادي پرمختګ کې مرسته وکړي. همدارنګه ددې ستراتیژۍ بله موخه دا ده چې د تقاضا په اساس د لوړ کیفیت تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په برابرولو سره داسې لازم کاري ځواک رامنځ ته کړي چې په هره کچه له ټولو اقتصادي سکتورونو سره تړاو ولري او د ټولو خلکو (نارینه او ښځو) لپاره د لاسرسي وړ وي.

د ماهر کاري ځواک د کیفیت او مؤثریت د زیاتوالي په اړه د ستراتیژۍ ټاکلې موخې په لاندې ډول دي:

۱. د مدېریت او کنټرول تقویه کول: د تخنیکي او مسلکي مهارتونو او روزنې ټول هغه فعالیتونه همغږي کوي چې د عامه او خصوصي ادارو له لوري ترسره کېږي، په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې رسمی، غیر رسمي او نیمه رسمي زده کړې او روزنې شاملې دي او هم هغه روزنیز پروګرامونه شامل دي، چې د رسمي او غیر رسمي عرضه کوونکو او کمپنیو لخوا وړاندې کېږي.

۲. تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته لاسرسي زیاتول: د مسلکي او تخنیکيزده کړو او روزنو وړاندې کوونکو ته هغه ساحې په ګوته کوي چې ټول خلک په ربښتیا سره تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته اړتیا لري او غوښتنه یې کوي.

۳. د کیفیت لوړول: د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم ته لارښوونه کوي، چې د کار د بازار د ټولو برخو د اړونده شغلونو لپاره لازم قابلیتونه او مهارتونه وړاندې کړي، د معیاري قابلیتونو او د زده کړو د تصدیق لپاره یو سیستم جوړ کړي.

۴. مالي چارې پیاوړې کول: داسې مالي سیستم طرح کوي، چې له مخې یې د مسلکي او تخنیکي زدهکړو او روزنو پروګرامونه د مالي اړخه پایښت لري ، منظم وي او د کار د بازار د وړتیاوو سره سمون ولري.

د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتیژي داسې تګلارې طرح کوي ترڅو پورتنی موخې د مدېریت (کنټرول)، کیفیت، د لاسرسي وړتیا او دوامداره مالي مرستو په برخه کې ترلاسه کړي.

# لومړی ستراتیژیک هدف:
# د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم کنټرول او مدیریت



## ۳. لومړی ستراتیژیک هدف: د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم کنټرول او مدیریت

### ۳،۱ د کنټرول او مدیریت ته لنډه کتنه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم لپاره د مدیریت او کنټرول روښانه سیستم ډېر مهم دی، چې د بېلابېلو همکارو ډلو ګډون او ارزښتناکه مؤثریت او اغېزې تامین کړي او دا تضمین کړي، چې سیستم په وړتیا سره اداره شوی دی، او په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په برخه کې د شته پراخو تخصصونو څخه ګټه واخیستل شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د بېلابېلو ذیدخله ډلو د فعالیت ساحه ده. تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې د ښوونې او روزنې فرعي سکتور دی، خو ددې ترڅنګ د اړوندو سکتورونو لکه د سوداګرۍ او د صنعت سکتور، دکرنې سکتور، دکانونو سکتور، د روغتیا سکتور، د کار او ټولنیزو چارو او داسې نورو لخوا رامنځته شویو اړتیاوو ته هم عادلانه پاملرنه کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم باید له خصوصي سکتور سره د برابرو شرایطو له مخې همکاري وکړي او تمه کېږي دغه سکتور به نه یوازې له مهارتونو څخه ګټه اخلي، بلکې خصوصي سکتور به له مدیریت څخه نیولی تر اجرا پورې په تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو کې فعالانه رول ولوبوي.

د دې لپاره چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو رسمي، نیمه رسمي، غیررسمي او د پانګونې پراساس جوړ شویو پروګرامونو ته وده ورکړو، او د کار بازار د چټک بدلیدونکي اړتیاوو ته ورسیږو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم کنټرول او مدیریت باید پداسې یوه لاره تنظیم شي چې:

۱. د څوسکتوریزو او څو ذیدخله ډلو تقاضاوو ته په کافي اندازه پاملرنه وکړي،

۲. د بېلابېلو عامه او خصوصي ادارو، اقتصادي سکتور او په هېواد کې له نورو ادارو او ذینفعو ډلو ترمنځ د انعطاف وړ دوه اړخیزې اړیکې رامنځته کړي،

۳. د وګړو د زده کړې او روزنې تقاضا او د ټولنې اړتیاوو د برابرولو لپاره په سمه توګه فعالیت وکړي.

### ۳،۲ د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي اداره او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د مدیریت او کنټرول میکانیزم د دې لپاره وړاندې شوی دی، چې په هېواد کې د ذیدخله ډلو، ذینفعو ډلو او ټولنیزې او اقتصادي ګټې منعکسې کړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په اړه د تصمیم نیولو لپاره پنځه مهمې حکومتي ادارې شتون لري. دغه ادارې د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت، د کار او د ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت، د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام، د ښوونې او روزنې او مهارتونو د پالیسۍ کمېټه، د بشري منابعو پراختیایي بورډ او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په برخه کې د هغې تخنیکي کاري ډلې څخه عبارت دي.

د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي اداره (ANQA) ترجوړېدلو لاندې ده، چې د شپږو قانوني بورډونو څخه جوړه شوې ، چې د همدې ادارې د تشکیل په چوکاټ کې فعالیت کوي. د زده کړو او روزنو د لاندې ذکر شویو هر فرعي سیستم لپاره یو بورډ شتون لري.

لومړنۍ زده کړې، ثانوي زده کړې، لوړې زده کړې، اسلامي زده کړې، لیک لوست او غیررسمي زده کړې او تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې. د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي اداره لکه څرنګه چې په ۲۰۰۸ زیږدیز کال کې د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د کار او د ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت، د مالیې وزارت او د ولسمشر د لومړي مرستیال لخوا په لاسلیک شوي تفاهملیک کې ویل شوي دي د یوې "خپلواکې ادارې" په توګه رامنځته کیږي، چې خپل قانوني اعتبار لري..

د دغه تشکيل له مخې به د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د تخنيکي او مسلکي زده کړو د سيستم اداره کوونکی او قانوني ارګان وي. په ۲۰۱۲ زيږديز کال کې داسې تصميم نيول شوی ؤ، چې د افغانستان د قابليتونو د تثبيت د ملي ادارې په چوکاټ کې لومړی جوړېدونکی بورډ به د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ وي. د زده کړو / ښوونې او وړتياوو د پاليسۍ کميټه، چې په ۲۰۰۹ زيږديز کال کې تاسيس شوې ده، د افغانستان د قابليتونو د تثبيت د ملي ادارې قانوني او عملياتي چوکاټ، او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ لپاره د کار معياري کړنلارې چمتو کړې دي. د تخنيکي او مسلکي زده کړواو روزنو بورډ، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم لپاره د يوه قانوني اړخ په توګه عمل کوي، د قوانينو او مقرراتو مسوده چمتو شوې ده، خو د تصويب لپاره بايد د وزيرانو شورا ته وړاندې شي.

## ۳،۳ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ: تشکيل او فعاليتونه

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د اړوند دولتي او غير دولتي ذيدخله ډلو څخه جوړ شوی دی. دغه بورډ په ځانګړي توګه د وزارتونو، د تخنيکي او مسلکي زده کړو عامه ښوونځيو او انسټيټيوټونو، د تخنيکي او مسلکي زده کړو د عامه او خصوصي وړاندې کوونکو، خصوصي سکتور (ګومارونکي او سوداګريز استازي لکه د سوداګرۍ خونې، سوداګريز او صنعتي مرکزونه، سوداګريزې ټولنې او د خصوصي مسلکي ټولنو په ګډون)، مدني ټولنه، د ښځو ټولنو او نادولتي ادارو استازو څخه جوړ شوی دی. د بورډ غړي به د دواړو دولتي او غيردولتي ادارو يو بې پلوه او متناسب استازی وي. د بورډ مشر او نور غړي به د وزيرانو د شورا لخوا وټاکل شي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په بورډ کې د لاندني وزارتونو استازي ګډون کوي:

- د پوهنې وزارت،
- د لوړو زده کړو وزارت،
- د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت،
- د کرنې وزارت،
- د کليو د پراختيا وزارت،
- د سوداګرۍ او صنايعو وزارت،
- د عامې روغتيا وزارت،
- د اطلاعاتو او کلتور وزارت،
- د ماليې وزارت،
- د اقتصاد وزارت،
- د ښاري پراختيا وزارت،
- د برېښنا او اوبو وزارت،
- د ښځو چارو وزارت.

د افغانستان د قابليتونو د تثبيت د ملي ادارې د زده کړې سيستم د عمومي همغږۍ له مخې، په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مديريت لپاره د واحدې ادارې په توګه، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ خاص مسؤليتونه په مرکزي او سيمه ييزه کچه د تخنيکي او مسلکي زده کړو چارواکو او وړاندې کوونکو لپاره تصميم نيول، اجرا او د خدمتونو وړاندې کول دي. په ځانګړي توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ لاندې دندې لري:

- د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو لپاره د پالیسي او قانون په جوړولو کې سلامشوره؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د کیفیت د تضمین او د ارزونې لپاره سیستم طرح کول او د روزنیزو چارو څارل؛
- د اړونده حکومتي ادارو په همکاري د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره د وړتیاوو او مهارتونو د تثبیت د ملي چوکاټ په طرح کولو او د هغو د چارو په څارلو کې مرسته؛
- د شغلي معیارونو د ټاکلو په پروسه کې مرسته کول او د نورو بېلابېلو ادارو له لوري د جوړو شویو دشغلي مهارتونو ملي معیارونه تصویبول؛
- د اړونده ادارو په همکارۍ د شغلي مهارتونو د ارزونې لپاره قوانین او کړنلارې طرح کول، د هغوی د چارو څارل، د ارزونې د توکو او وسایلو تصویبول او د ارزونې اړونده معلوماتو اداره کول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د تصدیق سیستم طرح کول او اړونده چارې څارل؛
- د پېژندنې او د اعتبار لپاره د یو میکانیزم طرح کول او چارې یې څارل؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ادارو لپاره د ثبتولو او واک ورکولو یو سیستم طرح کول او چارې یې څارل؛
- د تخنیکي ښوونکو/ روزونکو د هغو لومړنی او دوامداره روزنې له پرمختګ او اجرا څخه ملاتړ کول، چې د پوهنې وزارت، د کار او د ټولنیزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت او نورو اړوندو وزارتونو له لوري ورکول کیږی؛
- د کار بازار د معلوماتو او تحلیل (LMIA) لپاره د سیستم په طرح کولو کې مرسته، چې د کار او د ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د پلان شوي د کار بازار معلوماتو یا LMI سره تړلی دی، او له څارنې څخه یې ډاډ ترلاسه کول،
- له مرستندویه ادارو سره غونډې نیول او د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د مالي امکاناتو ترلاسه کول
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مالي چارو او بسپنو لپاره قوانین او لارښوونې وړاندې کول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د خصوصي سکتور د لاپرمختګ لپاره یو هڅوونکی او ګټور چاپیریال تسهیل کول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د عامه او خصوصي وړاندې کوونکو د ظرفیتونو د لوړولو لپاره تګلارې طرح کول؛
- اړونده ټولې اړینې څېړنې او پراختیایي کارونه ترسره کول، نورو ته یې سپارل او د هغو څارل؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سمون له چارو څخه څارنه او ارزونه کول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم بېلابېلو ذیدخله ډلو ترمنځ شونې لانجې او شخړې هوارول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو له بورډ سره د عملیاتو او فعالیتونو په برخه کې مرسته کول؛
- د تقاضا، له اړتیاوو سره سم او د لاسرسی تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره نور اړین فعالیتونه ترسره کول.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د فعالیتونو د اجرا لپاره به یو شمېر کمېټې رامنځته شي. دغه ځانګې به د موضوع اړونده کارپوهان ولري، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ انتصابي غړي به نه وي. دغه بورډ باید پر کارکوونکو، آسانتیاوو او نورو وسایلو باندې سمبال وي څو خپل فعالیتونه پرغاړه واخلي.

تمه کیږي چې اداري پلان او ترتیبات به د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو فرعي سیستمونه له یو داسې پراخ او واحد سیستم له لارې همغږې کړي چې رسمي، غیررسمي او نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې په ځان کې رانغاړي.

### ۳،۴ د ذیدخله ډلو ګډون

دغه ستراتیژي دا انګېري چه پ تخنیکي او مسلکي زده کړه او روزنه به د ټولنې د بېلابېلو سکتورونو په ځانګړي ډول د زده کړې سکتور، د کار بازار، صنعت، د کرنې او کلو پراختیا او عامه اداري دسکتورونو لپاره د یو واحد ډګر په توګه کار کوي. پدې موخه چې له دغو سکتورونو سره په غوره کیفیت او د اړوندو وسایلو په مرسته همکاري وشي او ترمنځ یې اړیکې ټینګې شي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم باید ټولو اړوندو ذیدخله مراجعو ته په خپل مدېریت او اداره کې برخه ورکړي. ترټولو مهمې ذیدخله مراجع په لاندې ډول دي:

حکومت، د ډونران، غیردولتي اداري، په کارګومارونکي، مدني ټولنه، سوداګریز سکتور، د سوداګریزو او مسلکي ټولنو په استازیتوب کارګران او کارکوونکي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عرضه کولو عامه او خصوصي مؤسسې .

له بېلابېلو ذیدخله مراجعو څخه داسې تمه کېږي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د جوړښت او مؤثریت د ډېرولو په موخه د خپل تخصص، تجربې او ظرفیتونو له لارې مرسته او همکاري وکړي. ذیدخله مراجعوته په ځانګړي توګه د دې لپاره اړتیا لیدل کېږي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم په لاندنیو دندو کې ستر رول ولوبوي:

- په اړوندو ادارو او بورډونو کې د ګډون له لارې د پالیسیو د جوړولو مسوده لیکل اوکتل؛
- د شغلي معیارونو په ټاکلو او د کاري ارزونو په اجرا کولو کې د فعاله ګډون له لارې د زده کړو او روزنو د کیفیت تضمینول؛
- خپلو کارکوونکو ته د روزنې ورکولو، زده کوونکو ته د کارزده کړې پروګرامونو د وړاندې کولو او د کار زده کړې د روزنې لپاره د فرصتونو د برابرولو له لارې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندې کول؛
- په مرکزي او ولایتي کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د ذیدخله مراجعو، او د تخنیکي او مسلکي زده کړواوروزنو د ادارو د مدېره پلاوی په ناستو کې په ګډون سره د چارو څارنه او ارزونه کول؛ او
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مالي چارو او مالي امکاناتو سیستم د پراختیا لپاره مرسته کول.

### ۳،۵ د دولتي او خصوصي سکتور ترمنځ مشارکت

نړیوالو تجربو دا ښودلې ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بریالي سیستمونه د حکومتي او غیرحکومتي سکتورونو ترمنځ د قوي او روښانه مشارکت پر بنسټ جوړیږي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتیژي په دې ټینګار کوي، چې په افغانستان کې دولتي – خصوصي مشارکت باید لاپیاوړی او رسمي شي.

حکومت قانوني دنده لري، چې د قوانینو، فرعي قوانینو او مقرراتو د جوړولو او د کیفیت د مدېریت سیستم په مرسته د خپلو کړنو د ملاتړ او څارنې له لارې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم تنظیم کړي. د قانوني دندو بیلګې په لاند ډول دي:

د شغلي معیارونو لپاره د یو سیستم جوړول، د کار (دندې) ارزول او تضمینول، د وړتیاوو او مهارتونو د ثبیت لپاره د یو ملي چوکاټ جوړول، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو عرضه کوونکو ته د جواز ورکولو تګلارې جوړول، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مالي چارو او مرستو لپاره د قوانینو او تګلارو مشخص کول او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ټول سیستم څارل.

غيرحکومتي سکتور بايد په لويو کمپنيو کې د روزنيزو فرصتونو د برابرولو او په کوچنيو کمپنيو کې د کار زده کړې روزنيزو پروګرامونو د برابرولو په مرسته د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په سيستم کې د پام وړ رول ولوبوي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د کارځای پر بنسټ د جوړو شويو پلانونو سربيره، د تخنيکي او مسلکي زده کړو غيرحکومتي ادارې د تخنيکی او مسلکي زده کړواو روزنو د عمومي عرضې په برخه کې ډېر مهم رول لوبولی شي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د کيفيت او له اړتيا سره د برابرونې د پياوړي کولو، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عمومي عرضې د زياتولو او همدارنګه سيستم ته د لاسرسي وړتيا د پياوړي کولو او همدارنګه په حکومت باندې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بار د سپکولو لپاره د خصوصي سکتور له تجربو او وړتياوو څخه په بشپړه توګه ګټه اخيستنه ډېره مهمه ده. د دې ستراتيژۍ د اجرا په دوره کې به د تخنيکي او مسلکي زده کړواو روزنو د خصوصي وړاندې کوونکو رول په سمه توګه مشخص او رسمي بڼه به ورکړل شي.

د ذيدخله مراجعو په همکارۍ، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د غيردولتي ادارو د زده کړې عرضې د پراختيا لپاره د هڅوونکی او غوره چاپيريال د جوړولو په موخه ګامونه اوچتوي. پدې برخه کې د فعاله قانوني چاپيريال رامنځته کول (جواز ورکول، رجسټر کول او اعتبار ورکول)، د تخنيکی او مسلکي زده کړواو روزنو د سيستم لپاره خدمتونو ته لاسرسی ډېرول او د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د عرضې کيفيت د لوړولو لپاره له نوښتونو او اقداماتو څخه ملاتړ کول هم شامل دي.

په افغانستان کې د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو د پراختيا د لومړۍ دورې په پام کې نيولو سره، د حکومت بل ستر رول دا دی چې د پروګرام د اجرا کولو په برخه کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د دولتي او غيردولتي وړاندې کوونکو مؤسسو فزيکي ظرفيت او تخنيکي وړتيا پياوړې او هغې ته پراختيا ورکړي. پدې کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو/ روزونکو او مدېرانو د روزنې( د ښوونې او روزنې په مرکز او د کار په ځای کې ) څخه ملاتړ، او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د وړاندې کوونکو مؤسسو د مؤثريت او اغېزمنتيا د زياتولو لپاره د وسايلو او اړتياوو برابرول، شامل دي.

په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د خصوصي سکتور او د غير دولتي ادارو د اوسني وضعيت په پام کې نيولو سره، داسې تمه کېږي چې د بسپنه ورکوونکې ټولنې په ملاتړ سره حکومت د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د برابرولو په برخه کې د ارزښتناک رول لوبولو لپاره لېوالتيا و ښيي.

## ۳،۶ د چارو غير مرکزي کول

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتيژي په ټول هېواد کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عرضه کولو لپاره د غيرمرکزي کولو( په محلي کچه ) يو سيستم جوړوي. د دغې استراتيژي د ليدلوري له مخې، مرکزي چارواکي به د ملي پاليسيو او د قانوني فعاليتونو د طرح کولو تر څنګ د سيستم د معياري کولو (شغلي معيارونه، ارزونه، تصديق، اعتبار ورکول، د تخنيکي او مسلکي ښوونکو/ روزونکو روزل او د سطحې لوړول، د ټيټې کچې چارواکو سره همغږي او لارښوونې ورکولو، او د پلی کوونکو شريکانو لپاره د مرستندويه وسايلو د برابرولو مسؤوليت پرغاړه ولري. د مرکزي حکومت چارواکي د خپلو دندو يوه مناسبه برخه د غيرمرکزي کچې ادارو ته ځانګړې کوي.

همدارنګه دغه ستراتيژي د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارو ته د مسؤوليتونو سپارلو ته پدې موخه وده ورکوي، چې د دغو ادارو داخلي اغېزمنتيا او د سيستم بهرنی اغېزمنتيا تقويه شي. دغه کار به ادارو ته اجازه ورکړي، چې په ټول افغانستان کې د ټولنو خاص سيمه ييز اقتصادي، ټولنيز او د وړتياوو پراختيا ته په غوره توګه پاملرنه وکړي.

دا ستراتیژي وړاندیز کوي، چې حکومت باید د عامه مالي حسابدارۍ قانون په ګډون اوسنی قانون تر بیاکتنې لاندې ونیسي، چې دا کار د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ادارو ته یوه اندازه خپلواکي ورکړي، او د اړتیا په صورت کې په قانوني چوکاټ کې تعدیلات راولي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د غیرمرکزي کولو تګلارې به په روښانه توګه په قوانینو کې مشخصې شي او د هغې اجرا به په منظمه توګه تر څارنې او ارزونې لاندې ونیول شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو مرکزي چارواکي به په مرکزي او ولایتي کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د پروګرامونو پلانونه جوړ کړي، چارې همغږي، ملاتړ او څارنه يې وکړي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عامه ادارو لپاره مالي مرستې تامین کړي، د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د غیردولتي ادارو د عرضې لپاره مرستندویه میکانیزمونه طرح کړي، او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ په همغږۍ سره قانوني دندې اجرا کړي. همدارنګه د مرکزي ادارې چارواکي په ولایت او ولسوالۍ کې د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو له دفترونو سره مرسته کوي او هغوی ته د ظرفیت له مخې دندې سپاري.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مناسبوالي او د سیمې د کار بازارونو سره سم د ښو تنظیم شویو اړیکو د درلودلو په موخه، د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو ادارو ته باید نیغ په نیغه ډېر مسؤولیتونه وسپارل شي. د پراخو مدیریتي مسؤولیتونو له منلو سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنوحکومتي اداري اړ دي، چې د ځایي سوداګریزو ټولنو په ګډون د ټولو اړوندو سیمه ییزو ذیدخله مراجعو په همکاري د خپلې اداري لپاره مدیره پلاوی جوړ کړي. مدیره پلاوي به د ښوونځیو د څارنې او د پلانونو، بودیجو او راپورونو د تصویبولو مسؤولیت ولري. همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو غی دولتي وړاندې کوونکي به هم وهڅول شي، چې د اړوندو ذیدخله مراجعو سره یوځای مدیره پلاوی جوړ کړي، ترڅو په سیمه ییز اقتصادي چاپیریال کې د هغوی له یو والي څخه ډاډ ترلاسه شي.

پر یو نوي قانوني اصل سربېره، د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د د سیستم غیرمرکزي کول دې ته اړتیا لري چې په هره سویه کې په تېره بیا د ولسوالۍ، ولایت او د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د ادارو په کچه ظرفیتونه او وړتیاوې تقویه شي. د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو بورډ او په مرکزي کچه چارواکي به د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو د مدیرانو او د هغوی د مدیره پلاوی د غړو په ګډون د ټیټې کچې چارواکو د روزنې او ظرفیت لوړوالي لپاره منابع په پام کې ونیسي.

### ۳،۷ دمنجمنت معلوماتي سیستم

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اغېزناکه پلان جوړونه د تخنیکي او مسلکي ادارو او د د زده کړو او روزنو د عرضه کولو تسهیلاتوپه هکله ، تخنیکي ښوونکو/ روزونکو او په سیستم کې د نورو ګومارل شویو کارکوونکو، شاملو او فارغو زده کوونکو، او د هغه شمېر زده کوونکو په اړه معلوماتو ته اړتیا لري،چې کاري آزموینې یې په بریا سره بشپړې کړې وي. شغلي معیارونه، ارزونې او پایلې باید په ټاکل شویو ډیټابیسونو کې وساتل شي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ تر څارنې لاندې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د مدیریت د یو هراړخیز معلوماتي سیستم د جوړولو په موخه د دغو اقداماتو د توحیدولو یوه مهمه او د لومړیتوب وړ موضوع ګڼل کیږي.

### ۳،۸ د څارنې او ارزونې سیستم

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سمون د پرمختګ د څارلو او د مخکېنیو پړاو د خنډونو او ننګونو د پېژندلو لپاره، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د نورو ذیدخله مراجعو په همغږۍ سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د څارنې یو سیستم جوړوي چې:

- د دغه ستراتیژۍ موخې د شاخصونو په توګه توضیح کوي او د شاخصونو لپاره د بیاکتنې وسایل پېژني،
- ډاډ ترلاسه کوي چې شاخصونه له نورو ملي پراختیایي شاخصونو سره سم دي،
- ډاډ ترلاسه کوي چې د پرمختګ د ارزولو لپاره اړوند معلومات د TMIS لخوا رامنځته شوي دي،
- له لومړنیو معلوماتو او تحلیل سره مرسته کوي او د معلوماتو د منظم اپلوډ (کمپیوټر ته دننه کول) او نوي کولو څخه څارنه کوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د څارنې (نظارت) پایلې د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د پرمختګ په راپور کې تالیف کوي، چې په کال کې یوځل چاپیږي.

### ۳،۹ د کار بازار معلومات او تحلیل

د کار بازار د معلوماتو تحلیل د تخنیکي او مسلکي زده کړو لاو روزنو د لارښوونې لپاره یو لمړنی اړین شرط دی ترڅو تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې د کار بازار تقاضا په پام کې ونیسي. د کار بازار معلومات د بازار د عرضې په اړخ پورې تړلی دی، د بیلګې په توګه د نفوسو ډېروالی، په بېلابېلو کچو کې د ښوونځي پرېښودونکو شمېره، د ولایت پر اساس د بې روزګارو وګړو شمېره، د وړتیاوو په اړه معلومات او داسې نور. همدارنګه د کار بازار معلومات د مهارتونو د لوړولو تقاضا او د کار د بازار په کاري شرایطو پورې اړه لري. د دغو معلوماتو پر بنسټ، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره موجوده او راتلونکي تقاضا تحلیل کېدای شي، څو دا معلومه شي، چې کومو مهارتونو ته اړتیا ده، د بیلګې په توګه، د مهارتونو کموالی، د بازار له اړتیا سره د مهارتونو د تناسب نشوالی، د سکتورونو او مسلکونو پر اساس د دندو اړتیا، مخ پر ودې بازارونه، نوې پانګونې، او په ښاري او کلیوالي سیمو کې اقتصادي فرصتونه.

د کار د ځینو بازارونو په اړه یو څه معلومات او وړاندوینې له مخکې څخه د کار او د ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت، د احصایې د مرکزي اداري او نورو ادارو کې شتون لري او د استفادې وړ دي. د کار او د ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د کار بازار د معلوماتو او تحلیل برخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ لپاره د کار بازار په اړه معلومات برابروي. د کار بازار په اړه د دغه شان معلوماتو راټولول د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په سیستم کې بیا ځلي نه تکراریږي. مګر د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د کار بازار موجوده معلومات تحلیلوي او دغه معلومات د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ذیدخله مراجعو لپاره د لاسرسی وړ ګرځوي ترڅو ورڅخه د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د سیستم د جوړښت او اغېزمنتیا لپاره د پلان جوړونې، اجرا، څارنې او ارزونې په موخه ګټه واخیستل شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم د خبرولو لپاره د کار بازار تحلیل یوه دوامداره پروسه ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو په اړه د تقاضا بدلونونه او د وړتیاوو او قابلیتونو لپاره اړتیاوې تعقیب او د هغو په اساس په پروګرامونو کې لا تر مخه تعدیلات راوړي. دغه کار د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو سیستم ته اجازه ورکوي چې د شغلي معیارونو د بیاکتلو او د نویو معیارونو د طرح کولو، د روزنې د پلانونو، نصاب، کورسونو او توکو د بدلولو او د ښوونې لپاره د مناسبو ظرفیتونو د جوړولو له لارو عمل وکړي.

## ۳،۱۰ د څېړنې لپاره د ظرفیتونو لوړول

اوس‌مهال د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د پرمختګ مخه د هغو اړوندو معلوماتو د ډېر کمښت له کبله نیول شوې ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په سیستم کې د پلان جوړونې، څارنې او نوښت لپاره اړین دي. د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د لګښتونو، د کار بازار د غوښتنو، د تخنیکی او مسلکي زده کړو د اوسنیو پروګرامونو د موجودیت او اغېزو په اړه (په تېره بیا د تخنیکی او مسلکي زده کړواو روزنو د عامه سیستم څخه بهر)، نظرونو او د ذیدخله مراجعو د خوښي او قناعت په اړه معلومات په اسانی سره نه ترلاسه کېږي.

اوس‌مهال د تخنیکي او مسلکي زده کړو لاو روزنو اړوند څېړنه زیاتره د نړیوالو مخصصینو په مرسته ترسره کېږي، دا د دې واقعیت له مخې چې ملي ظرفیتونه ډېر کمزوري او لږ پرمختللي دي. پدې موخه چې د اوږدې مودې لپاره پرڅان بسیا شو، په هېواد کې باید د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د څېړنې لپاره با کیفیته ظرفیتونه جوړ شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اوروزنو د څېړنې لپاره ظرفیتونه به په مرکزي او ولایتي کچه لوړ شي، څو د څېړنې اړتیاوې وپېژني، د څېړنې فعالیتونه اداره کړي او بیرته د تخنیکي او مسلکي زده کړواو روزنو د پلان جوړونې په پروسه کې د کار اخیستلو لپاره د څېړنې له پایلو څخه ګټه واخلي. د دغو دندو د منلو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د څېړنې یوه څانګه جوړوي ترڅو د پوهنې، لوړو زده کړو، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو او نورو وزارتونو له څېړنیزو پروګرامونو سره په نږدې همغږۍ کې کار وکړي.

د څېړنې څانګو صلاحیتونه په لاندې ډول دي:

- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په اړه د شته معلوماتو په ګوته کول، راټولول او اداره کول؛
- د ذیدخله مراجعو په واک کې د معلومات ایښودل، لکه د څېړنې د پایلو د چاپولو له لارې؛
- دا باوري کول چې معلومات د پلان‌جوړونې او څارنې په ټولو پروسو کې په سمه توګه په پام کې نیول شوي دي؛
- د څېړنې د اړتیاوو په ګوته کول؛
- له څېړونکو ادارو سره د څېړنیزو پروژو لپاره تړون کول او د هغوی د چارو څارل.

د څېړنې څانګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو دمنجمنت معلوماتي سیستم او د څارنې او ارزونې خلاوې بشپړوي. همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو چارواکي داسې پروګرامونه تر لاس لاندې نیسي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د څېړنې نورهغه ظرفیتونه په ځانګړې توګه پوهنتونونه تقویه کړي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنکو د ښوونکو/ روزونکو په روزنو کې بوخت دي.

کوم ګامونه چې باید اوچت شي، هغه دا دي:

- د بشري ظرفیت د لوړولو د اړتیاوو د په ګوته کولو لپاره د لوړو زده کړو وزارت او نورو اړوندو پوهنتونونو، انسټیټیوټونو او مرکزونو سره اړیکې ټینګول؛
- د څېړنیزو پروژو لپاره د مالي امکاناتو برابرول او د څېړنې په موخه له افغاني پوهنتونونو او نورو څېړنیزو ادارو سره تړون لاسلیک کول؛
- دا باوري کول چې د افغان لوري له ادارو سره د څېړنیزو پروژو د همغږۍ او له نړیوالو کارپوهانو سره د افغان شریکانو د یوځای کېدو په مرسته په افغانستان کې د څېړنیز ظرفیت د لوړولو لپاره د نړیوالو کارپوهانو لخوا د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په برخه کې له ترسره شویو څېړنو څخه ګټه اخیستل کېږي؛
- د څېړنې د اړتیاوو او لومړیتوبونو په ګوته کول، په تېره بیا د نویو دندو او وړتیاوو په برخه کې، او د یو منځ‌مهاله څېړنیز پلان طرح کول، چې د افغانستان د څېړنې ادارو ته لارښوونه وکړي.

د نورو ادارو د شته څېړنيزو پروګرامونو په همکارۍ، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ د څېړنې له څانګې څخه داسې تمه کېږي، چې د دوامداره تحليل، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د موخو لپاره د وړتياوو د وړاندوينې او څارنې لپاره يو عملي او د اجرا وړ پلان جوړ کړي. د څارنې پروسه به د همکارو ډلو د شبکې لخوا د وړاندې شوي معلوماتو، د کار بازار معلوماتو او د پلټنې معلوماتو څخه د کار بازار د مهمو لېوالتياوو د موندلو په موخه کار واخلي.

## ۳،۱۱ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اصلاحاتو، سيستم او مؤسساتو په هکله د پوهاوي د کچې لوړول

په افغانستان کې خلک تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته په نستبا ټيټ نظر ګوري. تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې زياتره کم ارزښته دندې، لږې تنخواګانې او د شخصي پرمختګ لپاره لږ فرصتونه لري. يو دليل يې دا دی، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د پروګرامونو کيفيت ټيټ دی، چې دا ستونزه د کار په بازار کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو اوروزنو د فارغانو د سيالي کولو مخه نيسي. په عمومی توګه، تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د زده کوونکو لپاره د وروستي انتخاب په توګه پېژندل کېږي، په تېره بيا کله چې لوړو زده کړو ته لاره و نه مومي. د دغه ناسم تصور لپاره بايد د حل لاره وموندل شي.

د همدې لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو چارواکي د خپلو ذيدخله مراجعو په مرسته (په تېره بيا سوداګريزې مؤسسې ) د شخصي کاروبار د پرمختګ د روښانه فرصتونو او د کار د بازار د اړتياوو پر بنسټ د تخنيکي او مسلکي زده کړو د لوړ کيفيت پروګرامونو او کاري وړتياوو د وړاندې کولو لپاره د يو نوي سيستم د طرح کولو په موخه د عامه پوهاوي لپاره پانګونه کوي. همدارنګه، دغه کمپاينونه به د لاسرسي وړتيا د لرلو په اړه پوهاوی ډېر کړي، چې په مرسته يې دا روښانه کېږي، چې تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې هم په ښاري او کليوالي سيمو کې د ټولو ټاکل شويو ډلو پرمخ آزادې دی. لازمه ده چې د ګمارونکو او د خصوصي سوداګريز سکتور ترمنځ د تخنيکی او مسلکي زده کړواو روزنو د درلودلو او پوهاوي په اړه څانګړي هلې‌ځلې وشي.

په افغانستان کې دننه او په نړۍ کې د مهارتونو په سياليو کې د افغانانو ګډون ته پدې موخه وده ورکول کېږي، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په اړه د خلکو تصور سم شي او په هېواد کې کاري تخصص لوړ شي.

## ۳،۱۲ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره د نړيوالې ملتيا تنظيم او اداره کول

د تخنيکی او مسلکي زده کړواو ړوزنو د سمون پروسه د تخصص او منابعو پراخې او سمې کارونې ته اړتيا لري. د افغانستان حکومت د نړيوالو شريکانو ته بلنه ورکوي، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو له سکتور سره خپلې مالي او تخنيکي مرستې دوامداره او زياتې کړي. همدارنګه د همکارۍ او ملتيا پروژې بايد د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ملي ستراتيژي له مخې صورت ومومي او د هغه له هدفونو او اصولو څخه ملاتړ وکړي.

د بشري منابعو د پراختيا بورډ په همکارۍ، د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ دا باوري کوي، چې ټول دوه اړخيزه او څواړخيز رسمي همکاري همغږه شوې ده او د ټولو پلان شويو فعاليتونو موخه د دغه ستراتيژۍ د هدفونو ترلاسه کول، او له کلنيو او منځ‌مهاله کاري پلانونو سره بشپړه همغږي لري. د بسپنه ورکوونکو د همکارۍ لپاره سم ميکانيزمونه تنظيمېږي، چې د ټګلارو همغږي باوري شي او د فعاليتونو له تکرار څخه مخنيوی وشي. د پروژې د څارنې ميکانيزمونه بايد د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د څارنې له ملي سيستم سره سم جوړ شي.

# دویم ستراتیژیک هدف:
# د ټولو لپاره لاسرسی



## ٤. دويم ستراتيژيک هدف: د ټولو لپاره لاسرسی

### ۴،۱ مساويانه لاسرسي او مساويانه فرصتونه

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم د اړونده رسمي، غير رسمي او نيمه رسمی تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته د ټولو په پام کې نيول شېږيو ډلو د لاسرسي د پراخولو په مرسته ټولنيز ګډون لپاره هڅه کوي، او هم د ټولو لپاره مساوي لاسرسي باوري کوي. د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتيژي پدې موخه جوړه شوې ده، چې د ټولو افغانانو د روزنې اړتياوې پوره شي، چې ددې لپاره د زده کړو په وړاندې کولو کې ځايي او ځانګړې ټولنيزې اړتياوې په پام کې نيسي. له همدې کبله لازمه ده، چې د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو اداري د خلکو لاسرسی ته ډېره پاملرنه وکړي، په تېره بيا هغو کليوالي سيمو او محرومو ټولنو ته ډېره پاملرنه وشي، او فرصتونه ورته وړاندې شي، چې تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته ډېره اړتيا لري.

همدارنګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ملي ستراتيژي موخه دا ده، چې تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته د ټولو ټولنيزو ډلو، په تېره بيا هغه د خلکو لاسرسی پراخ شي، چې له ټولنيز او اقتصادي پلوه کمزوره دي او ځانګړي اړتياوې لري. د لاندنيو کسانو د لاسرسی لپاره بايد ځانګړې پاملرنه وشي:

- هغه کسان چې ښوونځي يې ترک کړی دی
- د نالوستو کسانو په ګډون هغه خلک چې رسمي زده کړې نه لري؛
- په رسمي او غيررسمي تشبثاتو کې د کار رامنځته کوونکي او کار کوونکي (د رسمي او غيررسمي کارزده کوونکو په ګډون)، چې د مهارتونو لوړولو او د تصديق شويو مهارتونو زده کړې ته اړتيا لري؛
- کروندګر او د هغوی کورنۍ؛
- هغه بې روزګاره خلک چې اساسي تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو يا بياځلي روزنو ته اړتيا لري ترڅو د کار په بازار کې ځای پيدا کړي؛
- هغه ډلې چې ځانګړې اقتصادي ستونزې لري، لکه کونډې، معلولين او د محرومو ډلو او د نورو ډلو خلك چې د کار په بازار کې د برخې اخيستو توان نه لري؛
- د هېواد د ټولو سيمو نجونې او ښځې.

د ټولو لپاره د لاسرسي د پراخولو په پايله کې، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم په افغانستان کې يو مناسب او د استفادې وړ کاري ځواک رامنځ ته کوي، چې د کار بازار د بېلابېلو برخو اړتياوې پوره کړي. تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته د لاسرسي زياتېدل د کليوال د کار مارکېټ د مؤثريت او کاري فرصتونو په زياتېدو کې مرسته کوي، چې په کرنيزو او غيرکرنيزو فعاليتونو کې ګڼ شمېر د کار لپاره د مناسب عمر لرونکي خلك په کار ګوماري. همدارنګه، تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د کورنيو شرکتونو د مسلکي دندو د بشري ځواك هغه تشه ډکوي، چې د نويو پانګونو د جذبولو او د ملکی خدمتونو د اړتياوو د پوره کولو لپاره په کار ده.، چې دا کار د عامه خدمتونو د کيفيت او اغېزمنتيا په زياتولو کې مرسته کوي. په پای کې، تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته د لاسرسي زياتېدل د آسيب پذيره ډلو، لرې پرتو خلکو، بې روزګاره ځوانانو، ناتوانه وګړو او هغو مسافرو کارګرانو اړتياوې برابروي، چې بې برخې دي. د زده کړې او روزنې فرصتونه به له دغو خلکو سره مرسته وکړي، چې د ګټور کار لپاره خپلې وړتياوې درک کړي، او په اقتصادي او ټولنيزه پراختيا کې د پام وړ مرسته وکړي. د آسيب پذيره ډلو ترمنځ، ښځې د خپل نارينه سيالانو په پرتله په ټولنه کې زياتې بې برخې او آسيب پذيره دي، د همدې لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړواو روزنو سيستم داسې ګامونه اخلي چې ښځو ته لومړيتوب ورکوي.

## ۴،۲ تـګلارې

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم به د بېلابېلو روزنيزو فرصتونو، د وړتياوو د کچو، او مسلکونو ترمنځ هراړخيز خوځښت او پرمختګ زيات کړي. د قابليتونو او وړتياوو د تثبيت له ملي چوکاټ څخه تمه کيږي چې په ملی کچه پيژندل شوي وړتياوې رسمي کړي، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د رسمي او نيمه رسمي، غيررسمي فرعي سيستمونو ترمنځ د زده کوونکو د انعطاف وړ خوځښت او تحرک ته لاره هواره کړي.

همدارنګه د قابليتونو او وړتياوو د تثبيت ملي چوکاټ د رسمي او نيمه رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو او د عمومي، اسلامي او لوړو زده کړو ترمنځ د انعطاف وړ تګلارې رامنځته کوي. تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې بايد تل د مسلک د پرمختګ او د زده کړې د پايښت لپاره امکانات رامنځته کړي. د يو شمير ټاکل شويو ګامونو په پورته کولو سره به ځنډونه لرې کړل شي ترڅو د زده کړې او روزنې لپاره داسې تګلارې غوره شي، چې د انعطاف وړ وي.

## ۴،۳ د ښوونې او روزنې او مهارتونو د زده کړې په ملي سيستم کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ځای


د ستراتيژۍ موخه دا ده، چې د ښوونې او روزنې سيستم د پرمختګ په لاره کې هغه موجود ځنډونه لرې کړي، چې د زده کوونکو د زړه تورواليي سبب ګرځي او د زده کړې اغېزمنتيا کموي، لکه په داسې مرحله کې زده کړې پرېښودل، چې نور هېڅ د پرمختګ لاره نه وي. د زده کړې د پايلو له نظره، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ترټولو لوړه سويه د لوړو زده کړو د لنډې دورې له زده کړو سره برابره ده، او د وړتياوو او مهارتونو د تثبيت له ملی چوکاټ سره يې سويه برابره نه ده.

لاندنی ګراف ښيي چې تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې او د لويانو د اساسي زده کړو پروګرام (ABEP) له زده کړو د رسمي زده کړو سره د نيمه رسمي زده کړو د يوځای کولو په پياوړتيا سره د افغانستان د زده کړې او روزنې د اوسني او راتلونکي سيستم نيمګړتياوې بشپړوي.

تمه ده چې تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې او د لويانو د اساسي زده کړو پروګرام او د عمري زده کړو رامنځته کيدونکی سيستم ټول يو واحد ښوونيز سيستم شي په افقي او عمودي ډول له عمومي زده کړې او لوړو زده کړو سره اړيکې ولري.

دغه د انعطاف او نفوذ وړ سيستم زده کوونکو ته اجازه ورکوي، چې زده کوونکي د زده کړې په بيلابيلو سويو کې له يوې برخې څخه بهر شی او يا بلې ته داخل شي، همدارنګه دغه سيستم د افغانستان د وړتياوو او مهارتونو د تثبيت د ملي چوکاټ په اساس د زده کړې د لاسته راوړنو د معادلې، په رسميت پيژندنې، اعتبار او تصديق لپاره لاره هواروي.

د زده کړې او روزنې لپاره اړونده بديلې تګلارې د زده کړې سيستم ته پراختيا وربښي او زيات خلک هڅوي چې په زده کړو بوخت شي او خپله پوهه زياته کړي. د لنډمهاله مسلکي روزنيزو پروګرامونو د وړاندې کوونکو او د مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونځيو او انستيتيوتونو ترمنځ نږدې همکارۍ ته اړتيا شته ترڅو د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ، عمومي زده کړو او لوړو زده کړو ترمنځ قوي اړيکې باوري کړي او له هغو زده کوونکو سره مرسته وکړي چې په مختلفو ساحو کې زده کړه کول غواړي.


مسوده پیشنهادی برنامه تعلیمات اساسی بزرگسالان (ABEP)
آموزش دوامدار
تعلیمات اساسی
شاگرد
ABEP-1
S 1-3
ABEP-2
S 4-6
ABEP-3
S 7-9
ELA
LCEP-2
LEAP
(TVET)

د ا ډېره مهمه ده چه نیمه رسمي او غیر رسمي زده کړو پروګرامونه باید د افغانستان د وړتیاوو او مهارتونو د تثبیت د ملي چوکاټ د معیارونو سره تړاو ولري، او د افغانستان د قابلیتونو د تثبیت د ملي اداري د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ لخوا تصدیق شي. هغه ځوانان چې په نیمه رسمی ډول یې زده کړې ترسره کړې، هغوی کولی شی خپلو زده کړو ته د رسمي زده کړو په سیستم کې دوام ورکړي. په دې توګه ویلی شو، چې زده کړه، پخپله نهایی هدف نه دی، بلکې مختلفې برخې یې یو له بل سره په عمودي او افقي توګه یو ځای کیدای شي، په دې سره زده کوونکي د زده کړو ټاکل شوي هدف ته رسیږي.

## ۴،۴ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنود وړاندې کولو د بدلون وړ تنظیم

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د خپلو پروګرامونو د خوځنده پراختیا لپاره لاره هواروي او هغه هڅوي، ترڅو مختلفو کاري ضرورتونو او د ټاکلو ډلو بیلابیلو اړتیاوو ته پاملرنه وکړي. د تخنیکی او مسلکي زده کړو اوروزنو د بدلون (انعطاف) وړ تنظیم په لاندې لارو چارو ممکن او ترلاسه کیدای شي :

- د لاسته راوړنې پر اساس تنظیم، د ماډیولر روزنې تنظیم، شغلي ارزونې ته لاسرسی چې له مخې یې ترلاسه شوې زده کړې په رسمیت پیژندل کیږي، د منابعو د تخصیصولو او د مرستې د برابرولو لپاره د همغږۍ میکانیزمونه،
- په یو منسجم سیستم کې د رسمي، نیمه رسمي اوغیررسمي تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو توحیدول، ترڅو اړونده ټولې ډلې وکولی شي زده کړو ته په مساوي ډول لاسرسی ولري.
- د رسمي او نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو له لومړنیو طرحو سره مرسته کول: په ښوونیزو مؤسساتو کې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې او مرستندویه روزنې؛ لنډمهاله تخنیکی او مسلکي زده کړې او روزنې؛ په شرکتونو او کمپنیو کې کاري زده کړې، د ماهرو صنعت ګرو لخوا د عنعنوي سیستم په اساس د کار زده کړې برابرول؛ غیررسمي زده کړې لکه د دندې په ځای کې زده کړه او یا شخصي فعالیتونه،
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو له ټولو هغو دولتي او غیردولتي ادارو سره مرسته کول چې په رسمي او نیمه رسمي بڼه تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې وړاندې کوي. همدارنګه له هغو غیر رسمي وړاندې کوونکو (کمپنیو، د اشتغال زایي روزنې او غیررسمي اشتغال زایي) سره مرسته کوي چې په نیمه رسمي او عنعنوي ډول تخنیکي او مسلکي زده کړې وړاندې کوي.

## ۴،۵ د اشتغال زایي/ کار موندنې زده کړې/روزنې

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د برابرولو د بدلون (انعطاف) وړتیا، د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو د یو شرط په توګه د کار زده کړې د روزنې په پیاوړې کولو او پراخولو پورې اړه لری. د کار زده کړې روزنه په کوچني کمپنیو کې وړاندې کیږي، چې دا هغه ځای دی چې عملي روزنه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم له مخې صورت مومي. د اشتغال زایي/ کارموندنې لویه ګټه دا ده، چې عملا د کار له نړۍ سره تړاو لري، چیرې چې زده کوونکي هرڅه په منظمه توګه ګوري او د ژوند د ربښتینو شرایطو په شان وظیفوي مهارتونه زده کوي. تجربو ښودلې ده، چې پدې سره زده کوونکي د پام وړ غوره لاسته راوړنې ترلاسه او عملي وړتیاوې او کاري مهارت زده کوي. پردې سربیره، کوچنی کمپنی زده کوونکي ښه پوهوي، چې دا کار له فراغت وروسته د دندې د موندلو سبب ګرځي. په پای کې، د اشتغال زایي او کار زده کړې روزنه د ښوونځي په اساس د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په پرتله کم لګښته تمامیږي ، دا ځکه چې کوچني کمپنی له مخکې څخه د روزنې لپاره اړین ماشین آلات لري، اوکه پلان وي چې د کار زده کړې روزنې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په ادارو کې له رسمي روزنې سره ضمیمه او ګډ شي، نو پدې وخت کې دغه روزنیزې دورې په عموم توګه ډېرې لنډې وي. د تخنیکی، اساسي او کاري مهارتونو پراختیا د غیررسمي او پخوانیو کاري زده کړو د عنعنوي سیستم اساس ګڼل کیږي، چې د کار د بازار له

موجوده اړتياوو سره نږدې والی لري، د لګښتونو له پلوه ثبات لري او د زده کوونکو لپاره په زړه پورې وي، هغوی ته ټولنيز اعتبار لري. سره له دې، دغه سيستم د غيررسمي کوچني کمپنيو په برخه کې د تکنالوژۍ له کمښت سره مخ دی او همدارنګه په راتلونکي کې د ډېرو زده کړو د وړاندې کولو لپاره لږې هيلې لري. دغه ستراتيژي غيررسمي کار زده کړه د يو داسې منبع په توګه په پام کې نيسي، له هغو سره مرسته کوي ترڅو له رسمي تخنيکی او مسلکي زده کړو سره اړيکي ولري چې ددې لپاره بايد په افاقی او غير رسمي ډول ترلاسه شوی مهارت د ارزونې له مخې په رسميت وپېژندل شي.

## ۴،۶ د شخصي کاروبار لپاره تخنيکی او مسلکي زده کړې او روزنې

شخصي کاروبار په دواړه کليوالي او ښاري سيمو کې د کار د بازار يوه مهمه برخه جوړوي. که څه هم د شخصي کاروبار لپاره يو شخص بايد د تخنيکی قابليت له پلوه ډېر تکړه او ماهر وي. ددې لپاره چې په خپل کاروبار کې برياليتوب ترلاسه کړي، پانګه اچوونکي پرځان بشپړ اعتماد، نوښت، د بازار د واقعي اړتياوو ارزونې، د سوداګريز مديريت اساسي مهارتونه او د ګواښونو پيژندنې ته اړتيا لري. پردې سربيره، د يو کاروبار پيلول مالي سرچينې، کاري جواز او ځمکې يا ودانۍ ته اړتيا لري.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندې کوونکي هڅول کيږي، چې د خپلو روزنيزو پروګرامونو د طرح کولو په وخت کې په سيمه کې د سوداګريز سکتور کاري چاپيريال په پام کې ونيسي. د بېلګې په توګه، د تکنالوژۍ د وسايلو پيژندنه او له هغو څخه استفاده او له کمپنيو، ټولنو او شرکتونو سره د کارزده کړو پروګرامونه يا د مرستندويه روزنيزو پروګرامونو تنظيمول.

همدارنګه د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو اجرايوي ډلې بايد داسې پروګرامونه تر لاس لاندې ونيسي، چې د شخصي کاروبار لپاره د ځوانانو د چمتو کولو په موخه د ا اشتغال زايي/کارآفريني د پخواني سيستم کيفيت پياوړی او لوړ کړي. د رسمي او نيمه رسمي روزنو او همدارنګه د غير رسمي روزنو په نصاب کې د پانګې اچونې د وړتياوو پراختيا، کاري شرايطو او د کاري (وظيفوي) خونديتوب او روغتيا موضوعاتو په اړه لازياته پاملرنه وشي.

## ۴،۷ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ودې لپاره مسلکي لارښوونې او مشورې

د دندو د پيدا کولو/ موندلو لارښود او د کسب د زده کړې او د کاري فرصتونو د پيدا کولو په برخه کې لارښوونو او مشورو ته بايد ډېره پاملرنه وشي، ترڅو راتلونکي زده کوونکي په تيره بيا ځوانانو ته وړتيا ورکړي، چې سم کسب وټاکي او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سيستم لخوا د برابر شويو عمري زده کړو او کاري فرصتونو څخه په بشپړه توګه ګټه واخلي. چې دا به تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو اړتياوو ته د لاسرسي په برخه کې مرسته وکړي.

## ۴،۸ د جنډر برابري

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم به د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو فرصتونو تـه د لاسرسـي او د پروګرامونو په وړاندې کولو کې د جنډر د برابرۍ موضوع ته وده ورکړي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ټول فرصتونه به د ښځو لپاره يوشان د لاسرسي وړ وي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو اداري به د جنـډر لپـاره پاليسي ګانې طرح کړي، چې د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنـو پـه برخـه کـې د نجونـو او ښـځو لپـاره فرصـتونه رامنځته او د ښځو پر وړاندې په تخنيکي او مسلکي زده کړواو روزنو کې د تبعيض نشتوالي باوري کـړي. د تخنيکـي او مسلکي زده کړو او روزنو ستراتيژي د ښځينه نوماندانو لپاره د يو شان لاسرسي پر اهميت باندې ټينګار کوي، لکه څنګـه چې د افغانستان د ملي پراختيا په ستراتيژۍ (ANDS) کې ويل ذکر شوي دي، چـې د جنـډر مـسايل بايـد د حکومـت د ټولو سکتورونو "ګډ مسؤوليت" وي.

# دریم ستراتیژیک هدف:
# کیفیت



## ۵. دريم ستراتيژيک هدف: کيفيت

### ۵،۱ د کيفيت لپاره اړتيا

د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم هدف دا دی، چې يو داسې مناسب او د اړتيا وړ کاري ځواک(نارينه او ښځينه) رامنځته کړي چې د افغانستان په اقتصادي او ټولنيزې پراختيا کې مرسته وکړي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو پياوړی سيستم ګڼ شمير خلك د دې وړ ګرځولی شي، چې د هيواد په بيلابيلو اقتصادي سکتورونو کې ګټورې دندې او يا شخصي دندې ومومي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم د خپلو ټولو پروګرامونو د لوړ کيفيت او له شرايطو سره مناسبو زده کړو د برابرولو هڅې کوي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتيژي د کيفيت د مديريت د پراخولو/پراختيا، له اړتيا سره سم د تخنيکي او مسلکي زده کړو اوروزنو د پروګرامونو د برابرولو، دوامداره څارنې او د کيفيت د مشخص شويو معيارونو د ترلاسه کولو په موخه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو له ادارو سره مرسته کوي او چارې يې رهبري کوي. د دې موضوع لپاره مهمه تګلاره دا ده، چې تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د قابليتونو پر اساس عيار شي، د شغلي  معيارونو پر بنسټ تنظيم شي، زده کړو ته اعتبارو رکړل شي او د قابليت ارزونه وشي او تصديق ورکړل شي.

### ۵،۲ د پايلو پراساس تــګلاره

د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو ملي سيستم به د پايلو پر اساس د يو روزنيز سيستم په توګه تنظيم شي. پدې معنا چې د هر مسلك لپاره به اړينې وړتياوې او قابليتونه د ښوونې، روزنې او زده کړې د وروستي معيار په توګه وپيژندل شي.

مهارت يوه پراخه موضوع ده چې هغه وړتياوې، علم او قابليتونه په ځان کې رانغاړي، چې د يو کارکوونکي يا پانګه اچوونکي په توګه د هر مسلك او د کار په بازار کې د بريالی سيالۍ لپاره ضروري دي. قابليت د شغلي مهارتونو په ملي معيارونو (NOSS) کې توضيح کيږي، چې دا مهال د مهارتونو د پراختيا د ملي پروګرام (NSDP) له لوري تر پراختيا لاندې دی، او د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو له معينيت سره شريک کيږي، او د زده کړې، روزنې او د کار نړۍ په اړه د ټولو مسلکي او اړونده ادارو او ټولنو په مرسته به لازياته پراختيا وکړل شي. د شغلي مهارتونو ملي معيارونه د روزنو او زده کړو د قابليت پايلې مشخص کوي او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم په چوکاټ کې د کيفيت د مديريت لپاره معيار جوړوي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په پروګرامونو له بشپړېدو سره، د زده کوونکو قابليت د هغې  مسلکي ارزونې په مرسته ارزول کيږي، چې د شغلي مهارتونو د ملي معيارونو په اساس طرح شوې. يو نوماند چې د مسلکي ارزونې  (که هغه يوه ارزونه وي يا د ارزونو يوه لړۍ وي) له لارې خپل قابليت وښيي، هغه ته به يو معياري شوې شغلي ساحه کې ملي شغلي برى ليک ورکول کيږي. د تصديق د ترلاسه کولو لپاره شغلي ارزونه د هر هغه شخص پرمخ پرانېستې ده چې د رسمي او نيمه رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو يا د وړتياوو د غيررسمي پراختيا له لارې لازم قابليت ترلاسه کړی وي. د پايلو پراساس سيستم يوه داسې وسيله ده، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په ټولو برخو کې يوشان ارزښت رامنځته کوي.

د پايلو پراساس د تخنيکي او مسلکي زده کړو او ارزونو په سيستم کې د تخنيکی او مسلکي زده کړو او ارزونو د وړاندې کوونکو موخه دا ده، چې داسې مهارتونه، پوهه او ذهنيت ته پراختيا ورکړي، چې زده کوونکي يې بايد د شغلي معيارونو له مخې ترلاسه کړي او د څرګندولو وړتيا يې ولري او د همدې لارې برى ليک ترلاسه کړي. د همدې لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندې کوونکي بايد د شغلي مهارتو د ملي معيارونو پر بنسټ نصاب جوړ کړي، چې د زده کړې د يوې سمې  او مناسبې پروسې له لارې د يوه مهارت لپاره لاره هواروي.

## ۵،۳ د پایلو پراساس ولاړو تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره د اداري جوړول

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پخوانی سیستم د کار بازار له تقاضا سره سم د بیلابیلو کسبونو لپاره د قابلیت اړتیاوې په پام کې نه وې نیولي، چې په پایله کې د کار بازار د مخ پر ودې تقاضاوو په پوره کولو کې پاتې راغی. د همدې لپاره د پایلو پراساس د تخنیکی او مسلکي زده کړو سیستم جوړول د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اصلاح اساسي برخه ګڼل کیږي، دغه سیستم د وړتیاوو تقاضا ته پاملرنه کوي، نیمه رسمي روزنې او د موجوده غیررسمي زده کړو د پلانونو په رسمیت پیژندنه تسهیل کوي او هغو ټاکل شویو ډلو ته د تصدیق د ترلاسه کولو لپاره لاسرسی برابروي، چې د خپلو وړتیاوو د پیژندلو له فرصت څخه بې برخې پاتې دي.

د پایلو پراساس د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم په برخه کې، مرکزي حکومت د شغلي مهارتونو د ملي معیارونو، چې باید د نړیوالو معیارونو سره د پرتلې وړ وي، د اجراآتو د څارنې په مرسته او د مسلکي ارزونې او د تصدیق سیستم، چې د شغلي مهارتو د ملي معیارونو (NOSS) مسلکي برې لیکونه هغو کسانو ته وړاندې کوي، چې د مشخص شویو شغلي معیارونو له مخې یې وړتیا او مهارت ترلاسه کړی وي، د تنظیمولو په مرسته د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د کیفیت او جوړښت څخه د ډاډ ترلاسه کولو دنده پرځای کوي.

د پایلو پراساس د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د جوړولو په پروسه کې، حکومت قانوني مسؤولیت لري، چې د کارکوونکو او د کارګرانو ادارو (ټولنیزو ملګرو) او د کار د نړۍ د نورو همکارو ډلو په همکارۍ قوانین او مقررات وضع کړي.

## ۵،۴ شغلي سټنډرډونه

شغلي معیارونه د بازار د اړتیاوو له مخې د یو کارګر قابلیت مشخصوي، دا هغه قابلیت دي چې یو شخص ورته اړتیا لري، څو په یو خاص مسلک کې د "ماهر" کارګر په توګه وپیژندل شي. په قابلیتونو کې زیات شمیر وړتیاوې، پوهې او مهارتونه شامل دي، چې د یوې خاصې دندې د ترسره کولو لپاره اړینې دي.

د ټولو شغلي ساحو لپاره باید د شغلي مهارتونو دومره ملي معیارونه جوړ شي څومره چې اړتیا وي چې دا بنایي تر ۷۵۰ ملي معیارونو پورې ورسیږي. شغلي معیارونه به د تخنیکي او مسلکي زده کړو او ارزونو د سیستم له مخې د ترلاسه کیدو وړ ټولو اړوندو قابلیتونو لپاره جوړ شي. هر شغلي سټنډرډ په کوچنیو برخو تجزیه کیږي، چې د "کومارنې وړ" قابلیتونو په اړه توضیحات ورکوي. په ملي کچه تصویب شوي شغلي معیارونه په همدغه بڼه توضیح کیږي او د عامه خلکو په واک کې ورکول کیږي. شغلي سټنډرډ د ګومارونکو، زده کوونکو او د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو د وړاندې کوونکو ترمنځ د شغلي مهارتو په اړه روښانوالی زیاتوي.

د شغلي معیارونو د تنظیمولو، تسهیل کولو او تصویبولو مسؤولیت د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ پر غاړه دی. که څه هم شغلي معیارونه د کار نړۍ د قابلیت اړتیاوې منعکس کوي، د ګومارونکو او کارګرانو اداري او د دولتي او خصوصي تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندې کوونکي او د مدنې ټولنې سازمانونه هم د معیارونو په پراختیا کې د پام وړ همکاري کوي. له همدې کبله د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د معیارونو د تصویبولو لپاره د خاصو مسلکونو په برخه کې د کارپوهانو داسې ډلې جوړوي چې په ځانګړې توګه د کار د ځای د اړتیاوو په برخه کې ژوره پوهه ولري.

د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د شغلي مهارتونو د ملي معیارونو په شان وړاندې شوي شغلي معیارونه هغه وخت تصویبوي، چې کله د کار د بازار له اړتیاوو سره سمون ولري او د نړیوالو معیارونو سره سم جوړ شوي وي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ معیاري کړنلارې جوړوي او خپروي.

شغلي معيارونه بايد د کار د بازار له اړتياوو سره سم همغږی شي. له همدې کبله د نويو مسلکونو پيژندنه او توحيدول د کار بازار د تحليل پر بنسټ صورت مومي، چې دا کار د موجوده ملي سټنډرډونو د ټکنالوجيکي او اقتصادي پرمختګونو په برخه کې د تغيراتو له راوستلو وروسته د بياکتنې او جوړښت لپاره اړين بلل کيږي.

د مسلکونو پيژندنه او يوځای کول د کار او ټولنيزو چارو ، شهيدانو او معلولينو وزارت او د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت او همدارنګه په دولتي او خصوصي سکتور کې د نورو اړوندو ادارو په نږدې همکاری سره ترسره کيږي. د معيار ټاکلو دغه مشارکتي پروسه دا يقيني کوي چې، شغلي معيارونه د مسلکونو د ملي درجه بندۍ د شغلي تعريف شويو عناوينو په توګه په پام کې نيول کيږي.

له نړيوالو معيارونو سره سم جوړ شوي شغلي معيارونه په نړيواله کچه د سياليو او د افغان کارکوونکو د خوځښت په برخه کې مرسته کوي. د همدې لپاره، څومره چې امکان ولري شغلي معيارونه بايد د قابليتونو نړيوال معيارونه منعکس کړي، او په همدې حال کې په هيواد کې د کار د ځای د اړتياوو پر بنسټ ولاړ وي. د معيار ټاکلو په کړنلارو کې بايد د نورو هيوادونو د موجوده معيارونو منل او ورسره د جوړښت ميتودونه هم شامل وي. په عمومي توګه د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ لخوا د شغلي مهارتونو د ملي معيارونو په توګه منل شوي شغلي معيارونه په ملي کچه د نورو بيلابيلو ادارو لخوا پراختيا مومي.

## ۵،۵ د شغلي مهارتونو ارزونه او تصديق

د پايلو پراساس ولاړو تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په سيستم کې ارزونه او تصديق د قابليتونو او شغلي ارزونې د بيلابيلو مشخصو سويو د تاييد مهمه طريقه ده چې په اساس يې برى ليک ورکول کيږي. برى ليک په ځانګړې ارزونه کې تر بريالي کيدو وروسته ورکول کيږي.

ارزونه او تصديق د ټولو هغو نوماندانو لپاره د لاسرسي وړ دی، چې قابليت لري او د اړونده شغلي معيار شروط پوره کولی شی، د اړونده قابليت د ترلاسه کيدو موقعيت او څرنګوالی مهم نه دی. په افغانستان کې د تير سيستم برعکس، اوس د تصديق ترلاسه کول د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په کوم رسمي پروګرام کې په فزيکي ګډون کولو پورې اړه نه لري. اوس د رسمي يا غير رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنود پروګرامونو فارغان، يا هغه چې په دندو کې دی، يا يې په شخصی ډول کار زده کړې، کولی شي تر ارزونې لاندې راشي او تصديق ترلاسه کړي.

له دې کبله، شغلي ارزونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بيلابيلو ميتودونو د توحيدولو، د مخکينيو زده کړو د پيژندلو او د ګڼ شمير خلکو لپاره د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو سيستم او هغو قابليتونو ته د لاسرسي د زياتولو لپاره يوه مهمه وسيله ده. د دې لپاره چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د فارغانو د ګومارنې وړتيا زياته شي، ګومارونکي بايد شغلي قابليت او برى ليکونه په رسميت وپيژني. او دا ځکه مهمه ده چې د کسب او کار د سکتورکارپوهان به د ارزونکې ډلې غړي وي. د په زياترو هيوادونو کې د کارګرانو د ادارو استازي هم د ارزونې په پروسو کې دخيل وي او بايد په افغانستان کې هم دغه راز وي .

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د شغلي قابليتونو د ارزولو او تصديق لپاره د يو ملي سيستم جوړولو او تسهيل کولو مسؤوليت لري. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د ارزونو د پرمختګ او اجرا لپاره قوانين او کړنلارې جوړوي او د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو چارې څاري او هغه تنظيموي. د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د افغانستان د قابليتونو د تثبيت د ملي ادارې له پلوه هغو کسانو ته د شغلي قابليت برى ليک ورکوي، چې په بريالی توګه شغلي ارزونه بشپړه کړي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د قابليتونو د تثبيت ملي برى ليک د قابليتونو او وړتياوو د تثبيت د ملي ادارې له لوري ورکوي.

### ۵،۶ د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي اداره  او ملی چوکاټ

ستراتیژي په پام کې لري، چې د افغانستان د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي اداره او د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ رامنځ ته شي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ به  لاندې دندې ولري:

۱. ادارو، پروګرامونو او ښوونکو ته اعتبار ورکول

۲. د تصدیق لپاره د لاربنوونو ترتیبول

۳. څارنه، ارزونه او د کیفیت باوري کول

۴. د کار بازار د اړتیاوو تحلیل او د هغو پروګرامونو ارزول، چې د خصوصي او دولتی تخنیکي او مسلکي زده کړو د ادارو لخوا وړاندې کیږي

۵. د شغلي مهارتونو د ملي معیارونو جوړول، تاییدول او تصویبول

دغه دندې رسمي بڼه غوره کوي او ترڅنګ یې د افغانستان د قابلیتونو د تثبیت د ملي ادارې د جوړولو لپاره وړاندې شوي قانون هم رسماً وړاندې کیږي.

د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو ستراتیژي د افغانستان د قابلیتونو د وړاندې شوي ملی چوکاټ پر بنسټ د قابلیتونو د منظم سیستم پیژندنې ته پراختیا ورکوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ستراتیژۍ د اجرا په پلان کې یو مهم ګام دا دی، چې د قابلیتونو په مختلفو کچو د بیلابیلو کاروونکو او مهمو همکارو ډلو ترمنځ لازم اعتماد رامنځته کړي. دا د حکومت او د خصوصي سکتور ترمنځ منظمو اداري اړیکو ته اړتیا لري ترڅو دا باوري کړي، چې شغلي معیارونه او قابلیتونه ګمارونکو ته د تکړه کارګرو د پیژندلو، زده کوونکو ته د زده کړې په سیستم او د کار په بازار کې د شونې پرمختګ لپاره او روزونکو ته د خپلو کارونو د تنظیم لپاره، د درسي موادو او عرضه کولو د جوړښت د وسیلې په توګه  څو اړخیزې ګټې لري.

د ښوونې او روزنې او وړتیاوو د پالیسی کمیټه (CESP) د اته پړاویز تصدیق پر بنسټ د وړتیاوو او مهارتونو د تثبیت د ملي چوکاټ د تصویبولو لپاره وړاندیز کړی دی. د وړتیاوو او مهارتونو د تثبیت ملي چوکاټ مسوده له لویو همکارو ډلو سره د ډیرو مشورو په پایله کې چمتو شوې ده، څو له دې ډاډ ترلاسه شي، چې دغه چوکاټ د لاندې ادارو او لوریو له خوا منل شوی: په عمومي توګه د زده کړې دسیستم (دواړه دولتي او خصوصي ادارو) لخوا او ګمارونکو (حکومتي او خصوصي، ملي او بهرنیو ادارو، همدارنګه د ګمارنې د خصوصي او عامه ادارو لخوا). د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي چوکاټ د یو داسې چوکاټ په توګه پېژندل کیږي چې د زده کړې ټول فرعي سیستم په ځان کې رانغاړي، او د هراړخیز پرمختګ وخت او د ټولو موافقې ته اړتیا لري. د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د سمون لپاره، د شغلي قابلیت یو سیستم به د یو لومړیتوب په توګه طرح شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د افغانستان د وړتیاوو او مهارتونو د تثبیت د ملي چوکاټ اجرا د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پر سیستم باندې تمرکز کوي. د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي چوکاټ د مهارتونو سویې توضیح کوي، ترڅو دا باوري شي، چې بیلابیل قابلیتونه د پرتلې وړ دي، لومړی د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو په سیستم کې هراړخیز خوځښت تسهیل اسانه کوي، او په راتلونکي کې د زده کړې نور فرعي سیستمونه تر پوښښ لاندې راولي.

د قابلیتونو او وړتیاوو د تثبیت ملي چوکاټ، چې په تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو پلی کیږي، د شغلي قابلیتونو بیلابیلې سويې، د هرې سويې مشخصات تشریح کوي (لکه د قابلیتونو حدود او ترکیب، او د مسؤولیتونو اندازه چې يو وړ شخص پخپل کارځای کې پرغاړه لری) او د افقي او عمودي (هراړخیز) خوځښت لپاره قوانین طرح کوي (لکه د بیلابیلو مسلکي ساحو او د قابلیتونو د بیلابیلو سویو ترمنځ د خوځښت لپاره قوانین). همدارنګه شغلي قابلیتونه باید داسې فرصتونه برابر کړي، چې د زده کړې د عمومي سیستم لپاره لاره هواره شي او د لوړو زده کړو لوري ته پرمختګ وشي.

له همدې کبله د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سويې د قابلیتونو لپاره پدې موخه ټاکل کیږي، چې وروسته بیا د افغانستان د قابلیتونو د تثبیت په ملي چوکاټ کې ځای پر ځای کیږي، چې د هغو له مخې په راتلونکي کې د زده کړې په سیستم کې د لومړنیو ، متوسطه زده کړو او اسلامي زده کړو ، سواد او نیمه رسمي زده کړو، تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو او لوړو زده کړو د قابلیتونو سطحې، د سطحو ترمنځ اړیکې او معادلې تشریح کوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو بورډ د عمومي او لوړو زده کړو له چارواکو سره اړیکه ټینګوي، چې د قابلیتونو پراخ ملي چوکاټ جوړ کړي، چې د قابلیتونو په برخه کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او لوړو زده کړو پالیسي ګانې پلی کوي. په هغو کې د شغلي زده کړو مدارک د ملي زده کړو سیستم ته د لاسرسي د وسیلې په توګه د اضافي زده کړو انکشاف او یا کمښت ته اړتیا لري. د مناسبې زده کړې اختیارات د بېلګې په توګه د کورسونو جوړښت یا د ماډیول معافیت ده چې باید د لاسرسي وړ وګرځي.

## ۵،۷ د نصاب رامنځته کول او د روزنیزو پروګرامونو چمتو کول

د شغلي استندردونو په معرفي کولو سره د پایلو پراساس ولاړ نوی نصاب جوړیږي. دغه نصاب د ټاکلیو ډلو او د کار د ځانګړیو محلي بازارونو اړتیاوې په پام کې نیسي.

په پایله کې کله چې د پایلو پراساس د کیفیت د تضمین سیستم په بشپړه توګه جوړ شي، نو د ملي نصاب جوړولو ته نوره اړتیا نه لیدل کیږي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو انفرادي وړاندې کوونکو، ښوونکو او علمي بورډونو ته دا اختیار ورکول کیږي، چې د هغو شغلونو لپاره نصاب طرح کړي، چې غواړي د خپلو اړونده زده کوونکو ته یې د وړاندې کولو تصدیقول غواړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو هر وړاندې کوونکی د خپلو ټاکل شویو ډلو د ځانګړې اړتیاوو پر بنسټ او د تخنیکي او مسلکي د بورډ د شغلي مهارتونو له ملي معیارونو سره سم، خپل نصاب جوړ کړي.

که څه هم دا منل شوې ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو زیات شمیر اوسني وړاندې کوونکي پداسې حالت کې نه دي، چې شغلي معیارونه مناسبو روزنیزو رسالو او د پایلو پراساس جوړ شوي نصاب ته واړوي. د نوې روزنې، ښوونې او روزنیزو موادو د پراختیا د برخې هم دېته ورته ده.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو ظرفیت باید لوړ او دا باید باوري شي چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د نصاب، پروګرامونو، کورسونو او د ښوونیزو او روزنیزو توکو معیار لوړ دی. د تخنیکي او مسلکي زده کړو بورډ باید د ظرفیت د لوړولو، د نصاب د همغږي کولو لپاره د ملي وسایلو، د نصاب د پراختیا کاري چوکاټ، د نصاب د پراختیا لارښود، رساله یې نصاب او د ښوونې، روزنې او زده کړې د اړوندو توکو په برابرولو کې مرستې وکړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو بورډ د هیواد د تخنیکي او مسلکي زده کړو په عامه او خصوصي ادارو کې د نوي نصاب د معرفي کولو څخه څارنه کوي.

## ۵،۸ د ښوونې او زده کړې مواد

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ستراتيژي دا مني چې د ښوونې او زده کړي مواد بياکتنې ته اړتيا لري، ترڅو د قابليت پراساس ولاړې نوې تګلارې په پام کې ونيول شي. په بياکتنه او سمون کې د قابليت پر اساس روزنې (CBT)، د قابليت پراساس د ښوونکي زده کړه (CBTE) او د قابليت پراساس د ارزونې (CBA) په برخو کې په نړيواله کچه جوړ شوي مواد د افغانستان له شرايطو سره سم ترتيب شي.

دا کار يوې څېړنې ته اړتيا لري، او پايلې يې بايد تصميم نيوونکو ته وړاندې شي، چې د موادو له ټاکلو مخکې د موادو د مناسبو سرچينو په اړه پرېکړه وکړي. دغه مواد او معلومات بايد په ملي او سيمه ييزو ژبو وژباړل شي. کافي اندازه امکانات برابر شي ترڅو د اړتيا وړ اندازې مواد چاپ او توزيع شي.

## ۵،۹ د تخنيکی او مسلکي زده کړو د يو اصل په توګه د واحد نصاب رامنځته کول/ ماډيول روزنيزو مسلسلو رسالو (موډيولر) سيستم ته د ښوونيز نظام اړول،

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو پروګرامونه د واحد نصاب (موډيولر) په ډول تنظيميږي ترڅو هغه اړتياوې پوره کړي، چې د شغلي مهارتونو په ملي ستندردونو کې تعريف شوي دي. په همدې توګه هر موډيول يا د موډيولونو ترکيب د يو شمير ګومارنې وړ مهارتونو ته لاره هواروي. د هر روزنيز موډيول بريالی بشپړتيا بايد د هغې په ارزونې او تصديق پورې تړلې وي، چې د ارزونې له ځانګړتياوو سره اړيکه لري، کوم چې د شغلي مهارتونو په ملي استندردونو کې تصريح شوي دي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د روزنيزو رسالو سيستم يو داسې ميکانيزم دی، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنوعرضې ته د انعطاف وړتيا ورکوي، او د شامليدو او پريښودو لپاره د انعطاف وړ فرصتونه برابروي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اوږدمهاله پروګرامونو لپاره بيلابيل موډيولونه يو ځای کيدلی شی، چې د هغو ښوونو، روزنو او زده کړو څرګندويي کوي، چې د شغلي وړتياوو لپاره اړين دي. د واحد نصاب/ موډيولر سيستم په دغه پروسه کې يو زده کوونکی کولای شي د شخصي دلايلو له مخې يو اوږدمهاله پروګرام هر وخت چې وغواړي، پريږدي، پداسې حال کې چې دومره کاري قابليت يې ترلاسه کړی، چې د هغو په مرسته د کار په بازار کې په بريالي توګه کومه ټاکلې دندې ترسره کولی شي او بيا د تخنيکي او مسلکي زده کړو د پروګرام په بل پړاو کې بيرته پروګرام ته شامل شي، او پاتې برخې ته دوام ورکړي او په دې توګه د مهارتونو زده کړې بشپړې کړي.

په لنډمهاله پروګرامونو کې انفرادي موډيولونه او هم ډېر شمير موډيولونه وړاندې کيدای شي. پدې حالت کې زده کوونکي يا د قابليتونو (د نسبي قابليت معادل) داسې مهمه برخه زده کوي، چې د کار په بازار کې پيژندل شوې وي او/يا د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اوږدمهاله روزنې لومړني برخې زده کوي، چې کيدای شي د وخت په تيرېدو سره خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي او بشپړ مهارت ترلاسه کړي.

د زده کوونکو د انفرادي دندې په صورت کې، زده کوونکي د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنوبيلابيل موډيولونه د وخت په تيريدو سره بشپړوي، چې د بيلابيلو وړاندې کوونکو مؤسسو لخوا وړاندې شوي دي، او په پايله کې د قابليتونو داسې هر اړخيزه زده کړې ترلاسه کړي، چې د ماهر او مسلکي شخص لپاره اړين دی.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د موډيولونو ترتيب په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو لپاره يوه نوې موضوع ده. د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندې کوونکي نويو مهارتونو ته اړتيا لري، چې د موډيول په اساس نصاب جوړ کړي، د موډيول په اساس تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې اداره کړي او په

همدې اساس روزنیز پلانونه تنظیم کړي. د همدې لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ او اړونده وزارتونه د نصاب د لارښوونو د پراخولو، د تخنیکي ښوونکو د روزلو او د موډیول په اساس د روزنې د تنظیم لپاره د اداري ظرفیت د جوړولو له لارو د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو له ادارو سره لازمه مرسته کوي.

## ۵،۱۰ د زده کړې تګلارې/ میتودولوژي

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د ښوونې او زده کړې د پرمختللیو تګلارو د کارولو لپاره هم اسانتیا رامنځته کوي، چې شاګرد محوري دي او زده کوونکو ته وړتیا او صلاحیت ورکوي، چې د خپلې زده کړې مسؤولیت پرغاړه واخلي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم لخوا وړاندې شوی مهم معیار د پایلو پر بنسټ ولاړ دی، د خوښې وړ قابلیتونه د شغلي مهارتونو په ملي استنډرډونو کې تعریف شویدي.

که څه هم د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ملي ستراتیژي د هر اړخیزې ،فعالې او شاګرد محوري زده کړې د تګلارو او هم مرستندویه پیداګوژۍ څخه ملاتړ کوي ترڅو له زده کوونکو سره مرسته وشي، چې د خوښې وړ قابلیتونه په ګټوره او اغیزمنه توګه ترلاسه کړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو چارواکي د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندې کوونکو ته اړینې مرستې برابروي، چې د ټاکلیو ډلو د اړتیاوو له مخې پروګرامونه او نصاب جوړ او ترتیب کړي.

## ۵،۱۱ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په ادارو کې د ظرفیتونو لوړول

د تخنیکي اومسلکي زده کړو او روزنو د ګټور سیستم لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو ګټور، مؤثر او با مسؤولیته لایق وړاندې کوونکي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو داسې پلی کوونکي، چې د انعطاف پذیر وړ، د کار د بازار د اړتیاوو او د قابلیت پراساس روزنیز پروګرامونه جوړ او برابر کړي خورا ډېر مهم دی. د همدې لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عامه او خصوصي وړاندې کوونکو ظرفیت لوړول د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د چارواکو اصلي دنده ده.

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو عامه اداري

په تیرو کلونو کې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې په لویه اندازه د دولتي ادارو له لوري وړاندې کیدې، چې په رسمي ډول یې تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې تر ۱۲ ټولګي پورې زده کوونکي فارغول. که څه هم په دې کې د کیفیت په پرتله پر ظرفیت ډېر تمرکز کیده. اوس‌مهال عامه سکتور د خپلو تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو پر توحید کولو تمرکز کوي، د کار بازار اړونده، له اړتیاوو سره د زده کړو برابروالی او کیفیت ته وده ورکوي او د محرومو ډلو لپاره پروګرامونو ته د لاسرسي وړتیا زیاتوي.

په مرکزي او ولایتي کچه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو چارواکي باید دغه پروسه د لاندنیو ټکو د تامینولو له لارې تسهیل کړي:

- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو عامه مؤسسات هڅول کیږي او صلاحیت ورکول کیږي، چې له ګمارونکو او په خپلو ولسوالیو کې له لویو، منځنیو او کوچنیو پانګونو سره نږدې کاري اړیکې وساتي؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د عامه ادارو پروګرامونه د سیمه ییزو وړتیاوو د اړتیاوو پر بنسټ ولاړ دي؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د پروګرامونو په برخه کې عامه پانګونې د کار بازار د اړتیاوو پر بنسټ ولاړ دي؛

- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اړونده نیمه رسمي پروګرامونه د دې لپاره طرح شوي، چې په کلیوالي سیمو کې د ټاکلیو ډلو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو وړاندیزونه زیات کړي، او په کوچني سوداګریز سکتور کې د کارګرانو لپاره د وړتیاوو کچه لوړه کړي.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو عامه ادارو ته پاملرنه شوې ده، په تیره بیا هغه ادارې چې د تکنالوژۍ د کارولو او لیږدولو وړتیا ولري؛
- عامه اسانتیاوو ته وده ورکول، څو دا باوري شي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او ارزونو پروګرام د شغلي مهارتونو له ملي استندردونو سره سم طرح شوي دي؛
- د ښوونې او روزنې، او زده کړې لوړ کیفیت او شاګرد محوري توکي موجود دي؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ادارو کې د مدیرانو، اداري کارکوونکو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د روزونکو په ګډون د بشري منابعو پراختیا او سم مدیریت لپاره ځانګړې پاملرنه شوې ده؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو عامه ادارو ته لاسرسی پراخ او هراړخیز دی، او ادارې د دې لپاره مرستې ترلاسه کوي، چې د معلولو زده کوونکو د اړتیاوو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي؛
- د ښځینه زده کوونکو لپاره د یوشان لاسرسي څخه ډاډ ترلاسه شوی دی؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو عامه عرضه د اوسنیو انسټیټیوټونو او پروګرامونو کیفیت او ټینګښت متوازنوي او هغو ته لاسرسی ډېروي؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو او پروګرامونو په برخه کې ټوله عامه پانګونه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د پلان جوړونې او د وړتیاوو د وړاندوینې پر بنسټ په مرکزي او محلي کچه صورت مومي.

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو خصوصي مؤسسې

د اعتماد، همکارۍ او دوه اړخیزې پېژندنې پر بنسټ د عامه او خصوصي فعالینو ترمنځ ملګرتیا د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم د دوامدارې پراختیا لپاره بنسټیز شرطونه دي. د همدې لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مرکزي چارواکو یو مهم مسؤولیت دا دی، چې په ټولو ولایتونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په غیر دولتي برخه کې بیلابیل لوري پانګونې ته وهڅوي او هغو ته پراختیا ورکړي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو مرکزي چارواکي، چې خپل یو شمیر مسؤولیتونه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ټیټ پوړو چارواکو ته سپاري، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په برخه کې – غیر دولتي پانګونې ته له ټولو مناسبو لارو، په تیره بیا د لاندنیو لارو په مرسته پراختیا ورکوي:

- د قوانینو او مقرراتو له مخې په پیش بیني کیدونکي او په خپل وخت سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د غیر دولتي ادارو ثبتول، جواز ورکول او اعتبار ورکول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د نویو ادارو لپاره مناسبو ځمکو یا ودانیو ته لاسرسي اسانه کول؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د خصوصي وړاندې کوونکو له استازیو سره د دوامداره سلا مشورې پروسه جاري ساتل، څو د غیر دولتي روزنو ځانګړې برخې په ګوته شي؛
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو له خصوصي سکتور سره د دولتي سکتور برخو پلانونه همغږي کول ترڅو د ورته کارونو له تکرار څخه مخنیوی وشي او نیمګړتیاوې په غوره ډول پوره شي؛

- د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د غير دولتي سکتور لپاره د کار د بازار معلومات برابرول، شغلي استندردونه جوړول ، د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ځانګړي مقررات او نور اړونده لازم معلومات او د پروګرامو پاليلې چمتو کول.
- د دا يقيني کول، چې د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو د دولتي مؤسساتو لپاره د ظرفيت لوړولو ګامونه (لکه د ښوونکو لازيات روزل؛ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مؤسساتو د اداري کارکوونکو او د مديره پلاوي لپاره د مديريت کورسونه او داسې نور) د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د دواړو غير دولتي او دولتي ادارو لپاره د لاسرسی وړ دي؛
- دا يقيني کول چې غير دولتي مؤسسې د نصاب لارښودکتابونو او د ښوونې او روزنې موادو ته لاسرسی لري؛
- د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ټولو ادارو لخوا د موجوده سرچنيو سمې او اغيزمنې کارونې ته وده ورکول.

## ۵،۱۲ د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو اعتبار او / تصديق

د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنواړونده مؤسساتو ته د اعتبارورکولو سيستم به په رسميت وپيژندل شي، څو د اعتبارورکولو داسې ګټور او اغيزمن سيستم جوړ شي، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مؤسساتو کيفيت تضمين شي.

اعتبارورکول/ تصديق دوه موخې لري. لومړی دا چې اعتبارورکول د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مؤسساتو لپاره د کيفيت معيارونه او موخې ټاکي. تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته د اعتبار ورکولو د باصلاحيته ادارې په توګه، د تخنيکی او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ هغه برخې په ګوته کوي، چې په هغو کې د روزنيزو مؤسساتو د کيفيت معيارونه ټيټ دي. او له هغو سره مرسته کوي ترڅو اړونده لازم معيارونه پوره کړی شي. دويم دا چې اعتبار ورکول، د تخنيکي او مسلکي زده کړو د بازارونو روښوالی زياتوي، چې له همدې لارې زده کوونکي او روزونکي د تخنيکي او مسلکي زده کړو د کيفيت د ټيټوالي له ګواښ څخه ژغورل کيږي.

اعتبار ورکول/ تصديق دهي د کيفيت د هغو شاخصونو پر بنسټ ولاړ دی، چې هغه لازم فزيکي او انساني سرچينې په ګوته کوي، چې د باکيفيته تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د وړاندې کولو لپاره اړين دي او معمولا د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو له نصاب څخه سرچينه اخلي. د شاخصونو په ټولګه کې درسي خونې، ورکشاپونه، د ښوونکو شمير او قابليتونه شامل دي. د اعتبارورکولو/ تصديق دهي لپاره د کيفيت نوي شاخصونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مؤسساتو د داخلي کيفيت پر مديريت باندې تمرکز کوي، لکه د نصاب د جوړولو ظرفيتونه، شاګرد محوري ښوونه، د کار له بازار سره اړيکې، د کارکوونکو مديريت او د بشري منابعو پراختيا، او مالي مديريت.

رسمي اعتبار عامه او خصوصي دواړه ډوله مؤسساتو ته ورکول کيږي ترڅو هغو مرستندويه خدمتونو ته لاس رسی ولري، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ لخوا وړاندې کيږي. اعتبار ورکول د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو مؤسساتو ته داموقع ورکوي، چې خپلې وړتياوې او کمزورتياوې په ربښتيني توګه وارزوي، څو د کيفيت د لوړولو په موخه د ځان لپاره هدف وټاکي او هم د تخنيکي او مسلکي زده کړو او روزنو په سيستم کې موجوده پراختيايي مرستو ته لاسرسی پيدا کړي. اعتبار ورکول د 'کيفيت نښه' ده، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو له مؤسساتو سره مرسته کوي، چې زده کوونکو ته د بازار د اړتيا وړ خدمات وړاندې کړي.

د رسمي اعتبار اخيستل به ورو ورو اجباري شي، څو له دې ډاډ ترلاسه شي، چې زده کوونکي باکيفيته روزنې ترلاسه کوي. که څه هم د روزنې کيفيت بايد په ځانګړي توګه د مسلکي ارزونې له لوري قانوني شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ د اعتبارورکولو پروسه تنظیم او همغږې کوي، او کیدای شي دغه مسؤولیت د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو ټیټ پوړو چارواکو ته وسپارل شي، خو هغه وخت چې کله دغه چارواکي په راتلونکي کې اړونده لازم ظرفیتونه ولري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د چارواکو لخوا اعتبارورکول به د اعتبارورکولو په ملي قوانینو او کړنلارو ولاړ وي، چې په ټاکل شویو شاخصو ولاړ او د نورو هیوادونو له تجربو څخه پکې ګټه اخیستل شوې. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ به د عامه او خصوصي وړاندې کوونکو او د اړوندو همکارو ډلو په ګډون د اعتبارورکولو دغه قوانین تعیین کړي.

د اعتبارورکولو کمیټې به د دې لپاره جوړې شي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو مؤسسات و ارزوي او ورته ارزښت (سویه) وټاکي او بیا اعتبار ورکړي. د اعتبارورکولو کمیټې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د بورډ لخوا رامنځته کیږي، او د حکومت د تخنیکي کارپوهانو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو د استازیو، ګمارونکو او د خصوصي سکتور د نورو همکارو ډلو په ګډون جوړیږي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو بورډ به د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اعتبارورکړل شویو ادارو یو ډیټابیس معلوماتي سیستم (MIS) جوړ کړي او د هغو په مرسته به په کلني ډول د هغو مؤسسو لست خپروي، چې رسمي اعتبار ورکړل شوی دی.

## ۵،۱۳ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د کارکوونکو لپاره د ګټور کاري چاپیریال برابرول

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په سکتور کې د تکړه مسلکي کارکوونکو د جذبولو ستونزه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اعتبار د ټیټوالي او نامساعده کاري شرایطو د موجودیت لامل کیږي. د دغې ستراتیژۍ موخه دا ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سمون د یوې مهمې برخې په توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مسلکي کارکوونکو لپاره یو ګټور، هڅوونکی او په زړه پورې کاري چاپیریال برابر کړی شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم به پراخې او لازمې هڅې وکړي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو کارکوونکو د تنخواګانو/ عوایدو د اندازې او د کار شرایطو په اړه بیاکتنه وکړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو هغو ذیدخل جوانبو ته به تشویقي پیسي ورکړل شي چه په دعوه طلبانه توګه یې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په برخه کې خدمت کړی . د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اداري پلاوي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مؤسساتو د مدیره پلاوي غړیو او د معیارونو د ټاکلو اړونده ډلې ته به په زړه پورې و وي.

## ۵،۱۴ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو او روزونکو لپاره له خدمت څخه مخکې او داخل خدمت روزنه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اوروزنو وړ ، په شرایطو برابر، هڅول شوي، د بدلون وړ او نوښتګر ښوونکي او روزونکي د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د سیستم د ملاتیر جوړوي. روزونکي باید د دې وړتیا ولري، چې د تکنالوژۍ له بدلیدونکي چاپیریال سره ځان عیار کړي او د بیلابیلو ټاکل شویو ډلو لپاره ګټور روزنیز چاپیریال برابر کړي. د افغانستان حکومت د ښوونکو په تخنیکي روزنیزو ادارو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو/روزونکو لپاره روزنیز پروګرامونه پیل کړي دي. د دغو پروګرامونو موخه دا ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو/روزونکو ظرفیت لوړ کړي، څو زده کوونکي په دې ډول وروزي، چې له مسلکي ارزونې (ازموینې) څخه په بریالي توګه تیر شي. له خدمت څخه مخکې او د داخل خدمت زده کړې او روزنیز فرصتونه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د رسمي سیستم د هرې سطحې د ښوونکو او روزونکو لپاره برابریږي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د خدمت مخکې ښوونې/روزنې مسلک ته لاسرسی د هغو کارکوونکو پرمخ پرانیستی دی، چې بیلابیلې تعلیمي او مسلکي تاریخچه لري. د ښوونکو او روزونکو راتلونکې ډله به داسې مسلکي وګړي وي، چې تخنیکي لیاقت او کاري تجربه لري، او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د یو فارغ یا د کار د نړۍ د یو تکړه مسلکي کس په توګه، د عملي کار د تجربې تر بشپړولو وروسته بیا د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې د روزونکي جوړېدولپاره هڅول کیږي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د پروګرامونو فارغان او د کار د نړۍ تکړه مسلکي وګړي باید د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو/روزونکو په روزنیزو پروګرامونو کې دننه کیدو لپاره د یو مخکیني شرط په توګه شغلي ارزونه ترسره کوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د اوسنیو ښوونکو/روزونکو د مهارتونو د دوامداره لوړولو او د مادام العمر زده کړې د تسهیلولو او د لوړو قابلیتونو د تعقیب لپاره د روزنیزو پروګرامونو پراخوالي ته لومړیتوب ورکول کیږي. د ښوونکي/روزونکي د خدمت مخکې او داخل خدمت روزنیز پروګرامونه د نصاب کریډیټ سیستم ته اړول، د تخنیکي او مسلکي زده کړو  او روزنو د ښوونکو/روزونکو په روزنه کې د شاملیدو او پرېښودو لپاره لاره هواروي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو بورډ مسؤولیت لري، چې د لوړو زده کړو ادارو، کمپنیو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ادارو او نورو اړوندو موسسو سره ټینګې اړیکې ولري، څو د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو او روزونکو قابلیت تثبیت کړي او په هیواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ښوونکو/روزونکو لپاره د روزنیزو پلانونو له اجرا سره مرسته وکړي.

## ۵،۱۵ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مدیریت لپاره د بشري منابعو پراختیا

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مدیریت او اداري کارکوونکو د روزلو په برخه کې، چې په هغو کې همکارې اداري د شورا او بورډ د غړیو په توګه شامل دي پانګونه  کیږي چې روزنه د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د مدیریت په بیلابیلو سطحو ترسره  کیږي.

د بشري منابعو د پراختیا پروګرام لپاره ځانګړې ټاکل شوې ډلې دا دي:

- په مرکزی او ولایتي کچو د تخنیکی او مسلکي زده کړو او روزنو ډلو غړي
- په مرکزي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه اداري کارکوونکي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو اجرایوي  ډلې
- د مسلکي ارزونې سیستم ارزوونکي
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنوادارې مشران
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د ادارو د مدیره پلاوی غړي

### ۵،۱۶ د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو سیستم ته د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ ورپیژندنه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د وړاندې کولو او ارزولو لپاره د پرمختللي معلوماتي او مخابراتي تکنالوژیو ورپیژندل د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو د کیفیت لوړولو او هغو ته د لاسرسي او د مادام العمر زده کړې دفرصتونو د زیاتولو په برخه کې مهم ګام ګڼل کیږي. د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په مرسته، د ښوونې، روزنې، زده کړې او ارزونې موضوعات په ډېره لږه بیه وړاندې کیدای شي. معلوماتي او مخابراتي تکنالوژي له شاګرد محوري تخنیکي او مسلکي زده کړې سره مرسته کوي، معلوماتو ته لاسرسی زیاتوي او د شخصي زده کړې او د ځان ارزونې لپاره لاره هواروي.

حکومت او د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو نور عامه وړاندې کوونکي مسؤولیت لري، چې روزنیزې ادارې په سمه توګه په معلوماتي او مخابراتي تکنالوژیو سره سمبال کړي، او دا باوري کړي چې د تخنیکی او مسلکي زده کړواو روزنو ښوونکي/روزونکي د دې وړ دي، چې معلوماتي او مخابراتي تکنالوژي د تخنیکي او مسلکي زده کړو له عرضې سره اړیکه ورکولی شي، او زده کوونکي د زده کړې د نویو تکنالوژیو د کارولو په برخه کې هڅوي او لارښوونه ورته کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو غیر دولتي وړاندې کوونکي هڅول کیږي، چې د الیکترونکي او مختلطو زده کړو میتودولوژي وکاروي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ادارو څخه دا هم تمه کیږي، چې نوي تکنالوژي وکاروي او دغه تکنالوژي اړوندو صنایعو ته ولیږدوي، چې د نړیوالو معیارونو له مخې د سکتور د سیالی وړتیا لوړه کړي. له تکنالوژیو څخه ګټه اخیستنه د نړۍ غوره تجربو ته د مراجعې له لارې صورت موندلی شي.

له نوي تکنالوژۍ څخه د نصاب په جوړولو او د ښوونې او روزنې په پروسو کې پدې موخه کار اخیستل کیږي، چې له زده کوونکو سره مرسته وکړي، چې له شغلي معیارونو سره ځان برابر کړي. یو ځل چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ادارې د تکنالوژۍ وړتیاوې زیاتې کړي، له دغو مهارتونو څخه د خپلو تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو په پروګرامونو کې کار اخلي، او بیا دغه مهارتونه زده کوونکو ته لیږدوي، نو زده کوونکي بیا نورو صنایعو ته ځي او دغه تکنالوژي په نورو برخو کې کاروي. دا کار د صنایعو د تولید او د سیالی کولو د وړتیا په لوړولو کې مرسته کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو بورډ د تکنالوژۍ په لیږد کې همغږي تامینوي.

### ۵،۱۷ د تخنیکي او مسلکي زده کړو سیستم اغیزمنتیا

د موجودو منابعو د غوره کارونې لپاره، هڅه کیږي چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په سیستم کې اغیزمنتیا زیاته شي. همدغه هڅې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مدیریت په ټولو کچو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو میتود او د تیرو روزنیزو لاسته راوړنو د پیژندلو امکاناتو په برخه کې هم کیږي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مدیریت په ټولو کچو کې اغیزمنتیا د مناسب اداري پراختیا، د بشري منابعو د پراختیا پالیسیو، او د دندو او مسؤولیتونو د روښانه تعریفونو له لارې، پرمخ بیول کیږي. داسې تمه کیږي چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارو ته د زیات مدیریتي مسؤولیتونو، چې پکې د روزونکو د ګومارنې مسؤولیتونه شامل دي، ورو ورو سپارنه داخلي اغیزمنتیا ته وده ورکوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو په برخه کې د کملګښت تګلارو پیاوړي کول د دغه سیستم د اغیزمنتیا د زیاتولو لپاره یوه بله مهمه موضوع ده. د همدې لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د همکاري کولو پلانونو ته وده ورکول کیږي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې هڅول کیږي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کملګښته عرضې لپاره غوره او بدلیدونکي حل‌لارې طرح کړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارو د اغیزمنتیا د زیاتولو مسؤولیت د اړوند وزارتونو پرغاړه پاتې کیږی.

## ۵،۱۸ د پخوانیو زده کړو پیژندنه

د تیرو زده کړو د پیژندنې له لارې له رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو سره نیمه رسمیاو غیررسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو یوځای کول، د سیستم په ټولیزه اغیزمنتیا کې د پام وړ زیاتوالی راولي، او د زده کړو له غیرضروري تکرار څخه مخنیوی کوي. دا هدف د تخنیکی او مسلکي زده کړو د کریډیټې کولو او د هغو شغلي معیارونو د ورپیژندلو له لارې چې په رسمي، نیمه رسمي او غیررسمي توګه د ترلاسه شویو وړتیاوو، علم او کړووړو و د پیژندلو لپاره لارښوونې کوي، او د هغو وګړو پرمخ د مسلکي ارزونې او د تصدیق له لارې ترلاسه کیدای شي، چې غواړي تصدیق ترلاسه کړي، او د یادولو وړ ده چې دا ټول د ترلاسه شوي رسمي زده کړو په پام کې نه نیولو سره صورت مومي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو بورډ د تیرو زده کړو د پیژندلو سیستم د پراختیا او پلی کولو مسؤولیت په غاړه لري.

# خلورم ستراتيژيک هدف:
# دوامداره مالي منابع



## ٦. څلورم ستراتیژیک هدف: دوامداره مالي منابع

### ٦،١ د تخنیکي او مسلکي زده کړو د تمویل نوی سیستم

د افغانستان حکومت د ملي ټولنیزو او اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې پانګونه کوي. دغه ستراتیژي هڅه کوي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مالي امکاناتو سیستم د پراختیا لپاره داسې مناسبه کاري فضا رامنځته کړي، چې اغیزمنه، ګټوره او عادلانه وي، څو له حکومت سره د اړونده موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

اړتیا لیدل کیږي چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د هدفونو د ترلاسه کولو په موخه د مالی بسپنې د ترلاسه کولو لپاره یو نوی سیستم طرح شي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو سیستم باید د کار بازار لپاره وړتیاوې رامنځ ته کړي، د وړتیاوو کمښتونو کموالي ته پاملرنه وکړي، په ټول هېواد کې د ځېل شویو ډلو لپاره یوشان لاسرسي برابر کړي، دا یقیني کړي چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو بنسټونه په سم ډول کارول کیږي او ساتل کیږي. د تخنیکی او مسلکي زده کړو له وړاندې کوونکو سره مرسته وکړي، چې له مالي پلوه ټېنګ پاتې شي، او د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ادارو کې د نوښت او اشتغال زایي /کارآفریني لپاره هڅوونکې لارې‌چارې په کار واچوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مالي امکاناتو د ترلاسه کولو تګلارې (ورودي او خروجي پراساس، له لاندې څخه باندې یا له باندې څخه لاندې، زیاتیدونکی یا صفر پراساس) تحلیل کیږي. د مالي مرستو انتخابونو ته باید لومړیتوب ورکړل شي او د روزنیزو ادارو څخه د "پیرل شویو" خدمتونو د کنټرول او د هغو په اړه د معلوماتو د برابرولو پر بنسټ ولاړ وي، چې د سوداګرۍ پراختیا او مالي پلان جوړونې ته لاره هواره کړي، د مالي لګښتونو په تخصیص کې توازن باوري شي، او د مالي امکاناتو لپاره یو مناسب او عادلانه فورمول تضمین شي.

په افغانستان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اړونده فعالیتونو د مالي امکاناتو مهمه سرچینه دولت دی، چې مالي امکانات اړونده وزارتونو ته ځانګړي کوي، همدارنګه د خصوصي سکتور مالي امکانات (فیسونه) هم شته چې د تخنیکی او مسلکي زده کړو خصوصي وړاندې کوونکو ته ورکول کیږي، یو څه مالي امکانات له عوایدو (زیاتره په خصوصي ادارو کې) ترلاسه کیږي او ددې ترڅنګ د نړیوالې مرستندویه ټولنې له لوري هم د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره ورکول کیږي.

### ٦،٢ د مالي مرستو نوې سرچینې

له تخنیکي او مسلکي زده کړو سره د مالي مرستو نوي سرچینې باید د خپلو مرستو بنسټ متنوع او همغږی کړي. دغه سیستم باید د عامه روزنیزو خدمتونو لپاره کافي اندازه منابع رامنځته کړي، د کنټرول او د مدیریت جوړښتونه پیاوړي کړي او اړینو مرستندویه خدمتونو ته وده ورکړي.

تنوع تر تعقیب لاندې نیول کیدای شي، چې له لارې یې حکومتي بودیجوي منابع او مالي بسپنې چې د بهرنیو بسپنه ورکوونکو لخوا ورکړل شوي دي، په تدریجي توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو د زده کوونکو له فیسونو سره یوځای کیږي، پداسې حال کې چې باید ډاډ ترلاسه شي، چې دغه فیسونه په زده کوونکو فشار نه راوړي او یا د هغوی د لاسرسي په لاره کې خنډ نه جوړوي.

پر دې سربیره، په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې دخیل مهم وزارتونه بودیجوي کړنلارې او/یا د هڅونې لپاره پلانونه طرح کوي ترڅو اداري وهڅوي چې د عامه مالي او محاسبې له قوانینو سره سم خپل د عوایدو د زیاتولو فعالیتونه پراخ کړي ترڅو تکمیلي (اضافي) مالي منابع تامین کړي.

د عوايدو د راټولولو اوسني فعاليتونه (لکه د زده کوونکو لخوا د جوړو شويو توليداتو خرڅول، سوداګريز فعاليتونه يا د تسهيلاتو په کرايه ورکول) د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارو د مدېريتي او بازار موندنې وړتياوو د پياوړي کولو او د راټولو شويو عوايدو د کارونې لپاره د نويو مقررو د تصويبولو په مرسته، زياتيداى شي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارو مدېره پلاوى به د عوايدو د راټولولو د څارلو، ملاتړ او نظارت مسؤوليت پر غاړه ولري. د فعاليتونو څرنګوالي او اجرا، همدارنګه د بسپنو کارول هم د مسؤوليت په چوکاټ کې راځي. په عموم توګه، د عوايدو د راټولولو فعاليتونه بايد د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې له خپل اصلي هدف څخه، چې زده کوونکو ته د با کيفيته تخنيکي او مسلکي زده کړو برابرول دي، لرې نه کړي.

همدارنګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو سيستم بايد د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارو په برخه کې خصوصي پانګونې وهڅوي او په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د کمپنيو ګډون زيات کړي. د خصوصي پانګونې د تسهيلولو لپاره مالي تشويقي مرستې، بورسونه، د تجهيزاتو د ورکولو طرحې او نورې لارې چارې په کار دي.

د مالي مرستو اغيزمنه، ګټوره او عادلانه کارونه او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ادارو او پروګرام کم لګښته مدېريت، د کيفيت موضوع په پام کې نه نيولو سره، د دغه ستراتيژيک هدف د تحقق مخکينی شرط دی. د تخنيکي او مسلکي زده کړو دولتي وړاندې کوونکي چې ډېره مالي خپلواکي لري، د هغو عامه مالي مرستو د کارولو مسؤوليت لري، چې د حکومت لخوا ترلاسه کيږي.

وزارتونه د معياري مالي سوابقو (صورت حساب) پر بنسټ د راپور ورکولو يو سيستم طرح کوي، او د لګښت دسپمولو ميکانيزمونو او نوي مالي ترتيباتو د تشخيص او تصويب څخه مخکې د روزنيزو ادارو څخه يوه داخلي څارنه (تفتيش) اجرا کوي.

## ۶،۳ د مالي سوابقو معياري ټولګه

د افغانستان حکومت د حسابدارۍ د عمومي منل شويو کړنلارو له مخې، د ټولو روزنيزو ادارو لپاره د مالي سوابقو يوه معياري ټولګه چمتو کيږي. روزنيزې ادارې به د مالي مدېريت ګټورې کړنلارې او د خپلو مالي معاملو د داخلي تفتيش لپاره يو سيستم په لاره واچوي.

د عامه روزنيزو ادارو د مدېريت کارکوونکو د ظرفيت لوړول به مدېران د دې وړ وګرځوي، چې د خپلو شتمنيو او عوايدو د مدېريت او غوره استفادې په برخو کې د معياري قوانينو له مخې له منل شوي مالي سيستم سره ځان عيار کړي. ددې ترڅنګ زياتو مهارتونو ته هم اړتيا ليدل کيږي، چې د ادارو مالي مسؤوليت زيات کړي او د داخلي مالي تفتيش مسؤوليت رامنځته کړي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو د بودجې د نوي ميکانيزم د پلی کولو، د لګښت د بيرته ترلاسه کولو چارې او د لګښت سپمولو د پلانونو اړونده قانوني چوکاټ به توضيح او اوسنی قانون به اصلاح شي، څو د تخنيکي او مسلکي زده کړو د لګښتونو له اصلاح شوي سيستم سره همغږي وهومي.

# ۷. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ملي ستراتيژۍ پلي کول – کاري پلان، څارنه او ارزونه او اړيکې

## ۷،۱ کاري پلان ته لنډه کتنه

کاري پلان هغه وسيله ده، چې د ستراتيژۍ له دوامدارې اجرا سره مرسته کوي. کاري پلان د ستراتيژۍ له ټولو برخو سره يوځای کوي او ځانګړې موخې طرح کوي، او بيا هغه په پلان شويو فعاليتونو، د اجرا شاخصونو، لګښتونو، د اجرا نيټې او د اجرا مسؤولو ادارو تجزيه کوي.

په پلان کې منځمهاله فعاليتونه شامل دي او د يو انعطاف وړ او کاري سند په توګه ښه درک شوی دی، او که د ستراتيژۍ د پلي کولو په پروسه کې اجرايوي موضوع بدلون ومومي نو د نويولو تجديد او تعديل لپاره لاره هواروي.

د مسودې د کاري پلان په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره ضميمه وګورئ (له کوم لګښت او شاخصونو پرته ، کوم چه لاهم د پراختيا په حال کې ده)

## ۷،۲ د استراتيژي د پلي کولو څارنه او ارزونه

د ستراتيژۍ د اجرا د څارنې او ارزونې په اداري چوکاټ کې د بشري منابعو پراختيايي بورډ، د تخنيکی او مسلکي زده کړو کاري ډله او د تخنيکي او مسلکي زده کړو بورډ شامل دي. داخلي همکارۍ ډلې او پراختيايي ملګري به په خپلواکه توګه د ستراتيژۍ اجرا وڅاري او د اړتيا په صورت کې به داسې وړانديزونه وکړي، چې موخه يې د اجرا د پروسې پرمختګ دی.

څارنه لاندنی ټکي رانغاړي:

- د څارنې کلنی راپورونه؛
- د څارنې شپږ مياشتني راپورونه؛
- د اجرا د ټولې مودې په ترځ کې د ستراتيژۍ د موخو د ترلاسه کولو په هکله د ارزونې وروستي راپورونه.

د ستراتيژۍ د اجرا په اړه د څارنې او ارزونې شپږ مياشتني، کلني او وروستي راپورونه به د بشري منابعو پراختيايي بورډ ته د تصويب او د تخنيکي او مسلکي زده کړو بورډ ته د کره کتنې لپاره وليږل شي. د څارنې او ارزونې راپورونه به د عامه خلکو د لاسرسی لپاره وړاندې شي او د حکومت د اړوندو ويبپاڼو له لارې خپاره شي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو همکارۍ ډلې به مدني ټولنې ته د ستراتيژۍ د اجرا د پرمختګ په اړه خبر ورکړي، چې دا کار د عامه بوختيا لپاره فرصتونه زياتوي او د اجرا، څارنې او ارزونې شفافه او مشارکتي پروسه تضمينوي.

## ۷،۳ د عملي کولو اړيکې

اړيکې او معلومات د هغو اصلاحاتو د ليد وړتيا د زياتولو لپاره ضروري فعاليتونه دي، چې د ستراتيژۍ د اجرا پروسې د يوې برخې په توګه پيل شوي دي. اړيکې پوهه زياتوي او خلک د ستراتيژۍ د اجرا د هدف، حدودو او د تمې وړ اغيزو په اړه خبروي. لاندې دوه کارونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ملي ستراتيژۍ د اړيکو د يوې برخې په توګه پلي کيدای شي:

- د پوهاوي کمپاين، د ستراتيژۍ او د هغو د ګټو په هکله د ټاکل شويو ډلو د خبرولو لپاره؛

يو حمايوي کمپاين په لاره اچول، ترڅو د پوهاوي کمپاين اغيزې تقويه کړي او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د سيستم د پراختيا او ريفورم لپاره عامه ليوالتيا او مشغولتيا په پام کې ونيسي.

## ۸ پايله

د مديريت، لاسرسی، کيفيت او دوامداره مالي امکاناتو په اړه د تګلارو په تشريح کولو سره د تخنيکي او مسلکي زده کړو ستراتيژي په راتلونکو پنځو کلونو کې په افغانستان د تخنيکي او مسلکي زده کړو د پراختيا لپاره عمومي تګلاره وضع کوي. د ستراتيژۍ موخه د تخنيکي او مسلکي زده کړو د منظمې تګلارې پراختيا ده ترڅو د تخنيکي او مسلکي زده کړو پلانونه او پاليسي او تطبيق چارې يې په همغږي ډول ترسره شي او په دې سره د ټولو اړونده ذيدخله لوريو ترمنځ همکاري او همغږي غښتلې شي او له تکراري چارو مخنيوی وشي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو بورډ به د تخنيکي او مسلکي زده کړو د سيستم په مديريت کې خورا ستر رول ولوبوي. د ستراتېژۍ موخه دا ده، چې شغلي مهارتونونو معيارونه، د تخنيکي او مسلکي زده کړو ارزول، تصديقول او په رسميت په پېژندل وڅاري او کيفيت يې باوري کړي او هم هغو مؤسساتو او ادارو ته اعتبار ورکړي، چې تخنيکي او مسلکي زده کړې وړاندې کوي.

د افغانستان د قابليتونو د تثبيت د ملي چوکات تر چتر لاندې پر نتيجه ولاړ، د موډيول او سويو په بڼه جوړ شوی نصاب پلی کول به تخنيکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسی او د هغو کيفيت لوړ کړي او هم به يو زده کوونکی وکولی شي، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ننه له يوې برخې څخه بلې برخې ته لاړ شي او هم د تخنيکي او مسلکي زده کړو او عمومي زده کړو ترمنځ خپل پروګرام بدل کړي او لوړو زده کړو ته لار ومومي. بالآخره، د ستراتېژۍ له مخې نوی مالي سيستم به د پروګرامونو پايښت باوري او اغېزمنتيا به يې ډېره کړي.

لکه څرنګه چې په دې ستراتېژۍ کې تشريح شوه، د افغانستان د راتلونکي اقتصادي او ټولنيزې پراختيا لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو پياوړی سيستم خورا ډېر مهم دی. د کيفيت او کميت له پلوه د تخنيکي او مسلکي زده کړو پراختيا به د هغو اشخاصو او افرادو په پياوړي کولو کې د پام وړ رول ولوبوي چې د کار په بازار کې سيالي کوي او په دې سره د خپل ځان، کورنيو او ټولنو لپاره سوکالي رامنځ ته کوي. په دې سره به اړونده ماهر کارګر يو مؤثر او اغېزمن کاري ځواک رامنځ ته کړي ترڅو په راتلونکو کلونو کې د اقتصادي پياوړتيا، د بېوزلۍ په راکمولو او د افغانستان په عمومي پراختيا کې د پام وړ ونډه واخلي.



United Nations
Educational, Scientific and
Cultural Organization

UNESCO Office in Kabul
House 647, Jame Watt, PD - 10, Shahr-e-naw, Kabul, Afghanistan
www.unesco.org/kabul